# شهامت

افغانستان ته د نورو عسکرو رالیږل به
**د امریکا شکست په بري بدل نه کړي**

یوولسم کال، لومړی، پرلپسې ۶۳مه گڼه، رمضان۱۴۳۸هق، جون۲۰۱۷م

د نیکمرغه کوچني اختر په مناسبت
**د امیر المؤمنین ـ حفظه الله ـ**
د مبارکې پیغام

په فارسي ژبه کې د عظیم الشان قرآن
**د خدمت یوه لازواله کارنامه**

- یو قطبي نظام دشړېدو او نړېدو په لور .....
- بالآخره امریکا په افغانستان کې خپله ماتې ومنله
- چې حکومتي منصب او ډالر نه وي ؟!!...
- ټرمپ له ناټو او اروپا څه ترلاسه کړل؟
- عربي نړۍ ... او دټرمپ خطرناک عزایم

په کابل او ځینو نورو ښارونو کې د وروستیو پېښو په اړه
**د نائب امیرالمؤمنین ملا سراج الدین حقاني –حفظه الله–**
د غریزې وینا متن

# شهامت

## علمي، کلتوري او اسلامي مجله

يوولسم کال، لومړی، پرلپسې ۶۳مه ګڼه، رمضان المکرم۱۴۳۸هق، جون۲۰۱۷م

## لړليک


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرليکنه........................ | ۱ |
| ۲ | دنيکمرغه کوچني اختر په مناسبت د اميرالمؤمنين پيغام....... | ۳ |
| ۳ | بالآخره امريکا په افغانستان کې خپله ماتې ومنله............ | ۷ |
| ٤ | ټرمپ له ناټو او امريکا څه ترلاسه کړل؟..................... | ۹ |
| ٥ | دکابل تحصن کوونکي د چا لخوا لمسول کيږي؟................ | ۱۱ |
| ٦ | کندهار ، فتحو ته هرکلی وايي............................ | ۱۳ |
| ۷ | د ملي ماتم په ورځ هم امريکايانو د دولتي ګواکونو په وژلو صرفه.... | ۱۵ |
| ۸ | د افغانستان په اړه د يرغلګرو متزلزل دريځ.................. | ۱۷ |
| ۹ | له طالبانو سره درې ورځې سفر ، له خوږو خاطرو سره........... | ۱۹ |
| ۱۰ | د ملکي خلکو وژل امريکايي استراتيژي ده!!................. | ۲۱ |
| ۱۱ | چې حکومتي منصب او ډالر نه وي؟!!...................... | ۲۳ |
| ۱۲ | د شهيد مولوي محمد سرور حق پرست ژوند ته کتنه............ | ۲۴ |
| ۱۳ | سقوط جهان عرب در کام امريکا........................ | ۲۷ |
| ۱٤ | د شيعي –سني جنګولو لومه!........................... | ۲۹ |
| ۱٥ | ګلوريني پاڼې.......................................... | ۳۰ |
| ۱٦ | سعودي ته د ټرمپ سفر او د مستقبل په اړه ناکاره ارادې....... | ۳۲ |
| ۱۷ | يو قطبي نظام د شړېدو او نړېدو په لور...................... | ۳۸ |
| ۱۸ | يو دستاينې وړ اقدام........................................ | ۴۱ |
| ۱۹ | د لويديځ د نړيوالتوب او دجديديت ځپلو لاملونه او .......... | ۴۲ |
| ۲۰ | د هند په نيمه وچه کې د علماو علمي، جهادي سياسي مبارزې.. | ۴۳ |
| ۲۱ | په فارسي ژبه کې د عظيم الشان قرآن د خدمت لازواله کارنامه.. | ۴۶ |
| ۲۲ | په هيواد کې د وروستيو پيښو په اړه دنائب اميرالمؤمنين ...... | ۴۸ |
| ۲۳ | سعودي ته د ټرمپ د سفر لومړنی ډالی...................... | ۵۳ |
| ۲٤ | اسلام کې د يتيمانو او بې وزله ماشومانو کفالت............. | ۵۶ |
| ۲٥ | د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مزار کې ...................... | ۵۹ |
| ۲٦ | د اسلامي نړۍ ځلانده ستوری هشام ابن الکلبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ...... | ۶۲ |
| ۲۸ | تعليم او تربيه د ژوندانه اړتيا............................ | ۶۴ |
| ۲۹ | د تورې هريړې (هيله سياه) خواص او ګټې.................. | ۶۷ |



**دامتيازخاوند :**

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کميسيون

**مسؤل مدير :**

ابو ظهير

**کتنپلاوی :**

شاهد "حقاني" لطيف عزم

حسن " علوي" بلال "وحيد"

نعيم " صافی " عابد مجاهد

قاري حبيب

**بيه :**

يوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰

کلدارې په پاکستان کې

**تخنيکي مسؤل :**

تخنيکي څانګه


**يادونه**

شهامت له سرمقالې پرته دنورو ليکنو مسؤليت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سينمای بهارستان بريښناليک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# افغانستان ته د نورو عسکرو رالیږل به د امریکا شکست په بري بدل نه کړي

د اسوشیټډ پریس خبري اژانس په راپور : د ټرمپ حکومت پریکړه کړې چې په نیږدې راتلونکي کې افغانستان ته دجګړې لپاره خپل ۴۰۰۰ نوراضافي عسکر را ولیږي.

درسنیو له لوري ددې مجرمانه ګام پورته کولو خبر دهغه وروسته ورکول کیږي چې شوورځې دمخه دامریکا دفاع وزیر جمیس ماټیس دخپل هېواد مشرانو جرګې د دفاعي کمیټې په وړاندې اعتراف وکړ چې په افغانستان کې دامریکا دبري په وړاندې ترټولو قوي خنډ په دغه هېواد او ولس کې دطالبانو شته اثرو رسوخ او نفوذ دی چې له امله یې امریکا تراوسه بری ترلاسه نکړای شو

حیرانوونکې ده چې دامریکا د دفاع وزیر په سویه دامریکا د ناکامې منلو سربیره بیا هم امریکایې چارواکي دخپل شیطاني عناد له مخې دجګړې په شدت او پراختیا ټینګار کوي او دلته دنورو اضافي عسکرو رالیږلو کرکجنې لاپې شاپې کوي....

د کتونکو په اند: دامریکا د دفاع وزیر له لوري په ځینو واقعیتونو داعتراف سربیره د جرم په دوام هنوز اصرار دامریکا یې واکمنو دوحشت پالنې اوخورونې پخوانی مردود عادت دی لیکن لکه دلمرروښانه ده چې دیوولسم ستمبر وروسته په افغانستان کې دپریمانه وحشتونو، ظلمونو او جنایتونو په سرته رسولو کې دذلت ، رسوایي اوتاریخي زیانونو له زغملو پرته بل څه ترلاسه نکړل او دخپلو ټولو شومو مزعومه اهدافو او مقاصدو ترلاسه کولو کې د شرمونکي شکست او خجالت تراخه یې اوڅکل.

دشک پرته په افغانستان دامریکایانو دیرغل اودبشریت پر ضد د جنګي جنایتونو ،دټولو نړیوالو اصولو او مقرراتونه ښکاره سرغړونو او د انساني اخلاقو او بشري اقدارو پایمالولو څخه هدف یې دافغان مومن او باتور ولس دترقۍ ، ازادۍ ، خپلواکۍ ،خوشالۍ او سوکالۍ لارې تړل او داوږدې مودې لپاره په منطقه کې دخپلو استعماري اهدافو لپاره ناروا کار اخستل و.

له نیکه مرغه افغان باتور ملت په خورامیړانه او دسترو قربانیو په بدرگه دامریکا دتیري په مقابل کې دمجاهدینو په ملاتړپورته شو او امریکا ته دتاریخي شکست ورکولو په لاره کې یې لویې قربانۍ ورکړې دامریکایانو ټول شوم ارمانونه یې دخاورو سره گډکړل چې نن پخپله دامریکا یوشمیر لوړپوړي چارواکي هم معترف دي او په واز کومي نارې وهې چې افغانستان کې دوی د رسوایې سره مخ دي او دبریالیتوب نښې نښانې یې نه ترسترگو کېږي.

داشغال په ضد هېواد کې دمنصوري عملیاتو توپاني څپو دامریکا یانو او دهغوی دملگرو روحیات او ارادې دومره لړزولي چې مجاهدین تري پرلپسې سیمې لاندې کوي او تدریجا دهېواد پوځي وضعیت کنترولوي خو ددې باوجود دامریکا یې چارواکو له لوري دجگړې نه لاس نه اخستل او نور اضافي عسکر رالیږل داو بو زړ ته دلاس اچولو مرادف عمل دی او په دې کار سره امریکااونکړای شي چې دجگړې دشکست جهت په بري باندې بدل کړي بلکې داگام به یې دعسکرو ژوند دنورو خطرونو اومرگونو سره مخ کړي.

رازو دیته چې دامریکا اوسنی دفاع وزیر جیمس ماټیس اونور چې افغانستان ته داضافي عسکرو رالیږلو پلویان دي هغوی دي په یا د ولري که دټولې نړۍ عسکرهم افغانستان راولي بیا به هم خپل شکست په بري بدل نکړي ښه داده چې نور جگړې ته د دوام ورکولو پرځای له افغانستانه دخپلو عسکرو دویستلو په لارو چارو غور وکړي او داضافي عسکرو رالیږلو په پریکړه له سره بیا فکروکړي.

هو! په امریکایې واکمنو کې شته یهودي عناصر دخپلو صهیوني ارادو په موخه افغانستان او اسلامي نړۍ کې جنگونه زیاتول غواړي، په خاصه توگه له افغانستانه د امریکا یې عسکرو دویستلو په صورت کې دامریکا خلک ډاروي چې له افغانستانه به په امریکا باندې بریدونه اوشي او امریکا به دجدي خطرونو اوننگونو سره مخ شي حال داچې دایواځې وهم دی، چې یهودپري امریکایان ډاروي، کنه تاریخ ددې خبرې شاهد دی چې افغانستان نه وړاندې دکوم چا لپاره خطر گرځیدلی اونه په راتلونکي کې دکوم هېوادلپاره خطر دی، البته تل دنړۍ زبر ځواکو هېوادو افغانستان ارامۍ ته ندی پري ایښې او همیش یې وربانډې یرغلونه کړې چې دادی نن هم دلته یرغلگر امریکایې ځواکونه دخپلو شیطاني اغراضو لپاره دافغانانو ویني بهوي او له امله یې نه یواځې افغانستان بې ثباته او نا رامه دی بلکې ورسره ټوله سیمه په یوه لوی ناورین کې ښکېل ده.

دیته په کتو بیطرفه او خپلواک سیاسي کارپوهان افغانستان ته دنورو عسکرو را لیږلو په ځای دامریکا لپاره داغوره بولي چې هغه له افغانستانه دخپلو عسکرو د وتلو امکانات برابر کړي اوکه امریکا هم داسې د اشغال په دوام ټینگار ولري او له خپل جگړه یز سیاست نه لاس وانخلي دا به د دټول بشریت بدمرغې وې ، ځکه اندیښنه شته چې دروان جنگ له خیتې دریم نړیوال جنگ وزیږي چې دهغه جنگ دخونړیو لمبوڅخه به آن امریکا هم خوندي پاتې نشي. او دغرور اوکبر ټوله هسته اوتنه به یې خاورې ایرې کړې انشاء الله

## د نیکمرغه کوچني اختر په مناسبت

# د امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

## د مبارکۍ پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

إن الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونتوب إلیه ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سیئات أعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله أما بعد:

قال الله تعالی :(أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (۳۹) الحج

د افغانستان مؤمن ولس او ټول اسلامي امت ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له هرڅه وړاندې تاسې ټولو ته د زړه له کومې د نیکمرغه کوچني اختر مبارکي وایم. الله تعالی مو د رمضان المبارک په میاشت کې ترسره کړې عبادات، صیام، قیام ، صدقات او ټول حسنه اعمال پخپل دربار کې قبول او منظور کړه.

**افغان مجاهد ملته!**

موږ سږنی اختر هم په داسې حال کې لمانځو چې لامو  ګران هیواد تر اشغال لاندې او د ولس غیرتي بچیان سرښندونکي مجاهدین مو له  اشغالګرو سره د هیواد د مکملې آزادۍ او اسلامي نظام د حاکمیت په غرض د دفاع او سرښندنې په مورچلونو کې قرار لري.

دا ښکاره خبره ده  چې د روانې جګړې پیل د تیري کوونکو له لوري شوی، هغوی د نړۍ له ډېرو لرو ساحو څخه افغانستان ته د اشغال او اسلامي نظام  د ړنګولوپه نیت راغلي او اسلامي امارت له اسلامي شعائرو، خپل ولس او هیواد څخه د دفاع په منظور دفاعي جګړې ته اړایستل شوی او مقدس جهاد ته دوام ورکوي. لهذا د یادې جګړې درول او غځول په همدې تیري کوونکو بهرنیو لوریو پوري اړه لري.

هغوی چې پر افغانستان یې د امنیت د تأمین په پلمه برید کړی اوس یې له امله ټوله سیمه نا آرامه کړې، دا چې هغوی هرڅومره دلته د خپلو ځواکونو په پاتي کولو او یا هم زیاتولو ټینګار کوي هغومره به ورسره منطقوي حساسیت زیاتیږي او په نتیجه کې به یې د افغانستان په شمول ټوله سیمه نوره هم بې ثباته کیږي.

امریکایان باید دا خبره درک کړي چې په افغانستان کې د جګړې دوام، د بمبارونو زیاتوالی، د بیوزله افغانانو وژنه، د هغوي په خاوره کې د خپلو سیاسي حریفانو د ډارولو او نویو وسلو د آزمایلو په غرض د لویو بمونو کارول، د جهادي مقاومت د بدناملولاو کمزوري کولو لپاره د هغوی په مقابل کې په مختلفو نومونو د وسلوالو ډلو پیداکول ، تمویل او تشهیرول، د افغانانو ترمنځ د قومي، سمتي او ژبنیو شخړو راپورته کول  او

داسې نورو فتنو ته لمن وهل هيڅ کله هم د دوی د بریالیتوب لامل نشي کیدای، ځکه افغانان هغه قوم نه دی چې د چا زور ته د تسليمۍ سر ټيټ کړي. زموږ له تاريخ څخه مه غافله کيږئ. بس دی چې دا تير شپاړس کلونه مو په عبث او بې ځايه جګړه تير کړل، بې ګټې مصارف مو وکړل، او خپل پوځي او سیاسي حیثیت مو تر پښو لاندې کړ،په زیاته اندازه عسکر مو تلف شول، افغانان مو هم شهیدان اومعیوب کړل، کورونه او نور زیربنایي تأسیسات مو ورته وران او افغانستان مو په کنډواله بدل کړ.

که تاسو دا فکر کوئ، چې په خپل نظامي حضور او د عسکرو په زیاتوالي سره به زموږ حوصلې ماتې کړئ، اشتباه کوئ. د مسئلې حل دا نه دی چې د کابل د بې کفایته ادارې په غوښتنه اشغال ته ادامه ورکړی بلکې تعقل دا دی چې د واقعیتونو په درک کولو سره خپلې جنګ غوښتونکي پالیسۍ ته تغیر ورکړئ. د افغانستان برخلیک او دلته ټول مسائل تر افغانانو پوري اړه لري. افغان غیرتي ولس نه د چا فشار ته غاړه ږدي او نه هم د خپل هیواد په چارو کې د بل چا فرمایشات مني، هغوی ته د خپل هیواد استقلال او اسلامي نظام له ځانه هم ګران او مهم دی. د افغانانو په ټاټوبي کې به تاسي د یوې نیمې لسیزې موجودیت څخه درس اخیستی وي. لهذا غوره خبره دا ده چې نور مو د اشغال غځولو اشتباه ته دوام ورنکړئ. کله هم چې پر افغانستان ستاسي ناروا اشغال ختم شي اسلامي امارت ستاسي په شمول له ټولو ګاونډیانو او نړیوالو سره د اصولو په چوکاټ کې د رغنده تعامل او ښو اړیکو جامعه تګلاره لري. دلته د اسلامي امارت ددې تګلارې یادونه ضروري بولم چې نه د چا په کورنیو چارو کې لاسوهنه کول غواړو او نه نور پریږدو چې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي او همداراز نه چا ته اجازه ورکوو چې د افغانستان خاوره د چا په خلاف استعمال کړي.

### مسلمان مجاهد ملته!

د اشغالګرو په مقابل کې جهاد یوه الهي فریضه ده چې نه د چا په شخصي ګټو پوري تړلې اونه هم د چا د شخصي نظر په بدلون سره تغیر کوي، په شرعي احکامو او اسلامي تاريخ کې جهاد يو داسي نا څرګند باب نه دی چې هرڅوک يې په شخصي اجتهاد سره د کولو او درولو حکم صادرکړي. د اسلام په ټول تاريخ کې د مقدس جهاد ثمره د کفارو تر تسلط او قوماندې لاندې لاندې نه ده تر لاسه شوې او نه هم کله فاسدو چارواکو د الله دين نافذ کړی او نه داشغالګرو د هوايي ځواک ترسيوري لاندې د اسلامي نظام حاکمیت ممکن دی.

امریکایانو زموږ په ملت ټولې هغه څیرې تپلي چې نه دین او نه د ولس ګټو ته تعهد لري. هغوی یوازې د امریکا د ګټو مدافعین دي. موږ ولیدل چې دغه بلواکه څیرې د امریکا د فرمان له مخې دې ته هم تیارې دي چې افغانستان له خپلو ګاونډیو او ټولې سیمې سره په مخالف جهت کې ودروي او یوازې د امریکا د ګټو قربانۍ یې کړي. که روان حالت دوام کوي، دوی دې ته هم تیار دي چې د یوموټي ولس تر منځ د قومي، سمتي او ژبنيو تعصبونو په راپارولو سره یوځل بیا د نویمو کلونو په شان ذات البیني جګړې پیل او تاریخي هیواد مو په څو ټوټو تقسیم کړي. د کابل وروستي جریانات د دغو پردي پالو د فتنه جوړوونکو هڅو ژوندۍ بیلګې دي.

اسلامي امارت د هیواد د شرعي او ملي مصالحو د یوه مدافع ځواک په توګه په افغانستان کې د ورونو قومونو ترمنځ د قوم، ژبې، سیمې، مذهب او تنظیم په نوم هر ډول تخریبي کړنې په کلکه غندي او هغو ته په افغانستان

کې د ماتې خوړلي دښمن د پلان شويو سازشونو د يوې تخريبي هڅې په سترګه ګوري او په ټول توان سره يې مخنيوی کوي.

## افغان مجاهد ولسه!

د بهرني اشغال په مقابل کې د افغان ولس مشروع دفاعي جهاد د الله تعالی په نصرت، ستاسې په ملاتړ، د مجاهدينو په بيساري اخلاص او سرښندنو، د اسلامي امارت په کاميابې ديپلوماسۍ او دسپلين ورځ تربلې ځواکمن کيږي چې له امله يې نړيوال مطرح جهتونه دهغه په موثريت، مشروعيت او موفقيت باندې اعتراف کوي. دغه کار اشغالګر دښمن سخت وارخطا کړی، نوځکه د اسلامي امارت په خلاف بې بنسټه تبليغات کوي او زموږ د مجاهدينو لاسته راوړنې نورو ته منسوبوي.خو مونږ په دې اړه نړيوالو او خپل مجاهد ولس ته اطمنان ورکوو چې اسلامي امارت کله هم د يوه اشغالګر د شړلو لپاره بل چا ته په افغانستان کې د مداخلې اجازه نه ورکوي. د افغان ولس ملي حمايت د ټولو تيري کوونکو په مقابل کې زمونږ د برياليتوب اصلي لامل دی.

اسلامي امارت د هرهغه جهت چې د امريکايي اشغال په مقابل کې د افغان مجاهد ولس د برحق دفاعي مقاومت پر مشروعيت اعتراف کوي مننه کوي او له هغوی څخه غواړو چې له خپل نړيوال نفوذ څخه په کار اخيستلو سره امريکايان مجبورکړي چې نور د افغانستان اشغال ته د پای ټکی کيږدي.

امريکايان هم بايد د واقعيتونو په درک کولو سره د جهادي مقاومت د مقابلې په ځای د افغان مجاهد اولس د قانوني غوښتنو په منلو سره له ديپلوماتيکو لارو خپله ستونزه حل کړي،دسولي په مخ کي ترټولو لوی خنډ اشغال دی د اشغال په ختمېدوسره له سوله ايزې لارې د افغانستان د مسئلې حل د اسلامي امارت د تګلارې مهمه برخه ده ،د همدې لپاره يې سياسي دفتر ته د سوله ايز حل د موندلو دنده سپارلې ده.

د اسلامي نظام په سيوري کې سوله، رښتينی امنيت او د هيوادوالو سوکالي زموږ اساسي هدف دی. موږ په کلک عزم سره د خپل ولس اقتصادي، تعليمي او هر اړخيز ودانيز پرمختګ ته تعهد لرو. اسلامي امارت د بيارغونې د چارو او پروسو هرکلی کوي او د خپلو ټاکلواصولو او لوائحو په رڼا کې په دې برخه کې د هر راز فعاليتونو ملاتړ او ساتنه خپله دنده بولي. مجاهدين دې پخپلو سيمو کې د ديني او عصري تعليم او د ولس د غوښتنو سره سم د بيارغونې چارو د زمينې برابرولو کار ته دوام ورکړي.

## نړۍ والوته مو پيغام دادی چې:

په نړۍ خصوصا په منځني ختيځ کې دي نور دمظلومانو دکړولوپه مخنيوي کي کوښښ وکړي، بي دفاع او بيوسه ولسونه دي نور دامريکا او اسرائيلو ظلمونو ته نه پريږدي ،همدارنګه د قطر هيواد او يو شمير نورو عربي هيوادونو ترمنځ په وروستي جنجال دزړه له تله خپه يو او هيله موله ورونوعربوهيوادونو څخه داده چي په خپل منځ کي هرډول لانجې دخپل منځي تفاهم له لاري حل کړي ترڅو يې ولسونه له ضرره اوهيوادونه يې دنورولـه مداخلووساتل شي .

## دجهاد او سرښندنې په سنګرونو کې ناستو مجاهدينو ورونو!

تاسو بايد په دې خوشاله اوسئ او شکر ادا کړی چې الله تعالی په دې سخت وخت کې د خپل دين او ولس د ساتنې لپاره انتخاب کړي ياست. د خپل دين او مسلمانانو د دفاع په لاره کې جهاد له هغو افضلو اعمالو څخه دی چې

رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ( ذروة سنام الاسلام) یعنې د اسلام تر ټولو هسکه څوکه بولي. نو د روان جهاد په اړه د دښمن په تبلیغاتو، تعبیراتو او خبرو پسې سر مه ګرځوئ؛ بلکې د خپل دې عمل په اړه یوازې د کتاب الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم تعریف کافي وبولئ.

خو دې ته هم باید متوجه واوسئ چې جهاد چې څومره افضل عمل دی، همدومره ورسره تړلي خطرات هم درانه دي. الله دې نه کوي که مو په جهاد کې له لاسه تجاوز وشي، بې ګناه انسانان وځوروئ، یا د عامو خلکو سر، مال، یا حیثیت ته زیان ورسوئ؛ نو هم به منفور او بیقدره شئ او هم به په دنیا او اخرت کې د سزا مستحق وګرځئ. نو خپل چلند او کردار ته ډیر متوجه واوسئ او خپل ملګري هم له ناروا کړنو څخه را وګرځوئ.

د جهادي عملیاتو د طرحه ریزۍ او اجراء په وخت کې د ملکي تلفاتو موضوع جداً په نظر کې ولرئ. هغه عملیات چې په هغه کې د ولس د سر او مال ته زیان پیښیږي، موږ ته د منلو وړ ندي، له داسې عملیاتو صرف نظر وکړئ ځکه چې د خلکو سر او مال ته زیان رسول د شریعت د اصولو او د اسلامي امارت د پالیسۍ خلاف عمل دی.

د جهاد په لاره کې خپلې حوصلې لوړې لرئ، د الله تعالی په نصرت ستاسو قوي تدابیرو، پوخ عزم او قربانۍ اشغالګر او د هغوی ملاتړي له وارخطایي سره مخ کړي، د دښمن دسیسې یې ناکامه کړې، ستاسو په مقابل کې د تبلیغاتو څپه یې بې تأثیره کړې، دا حالت ایجابوي چې هرمجاهد باید دخپل نیت اوعمل لا ډیرې اصلاح ته متوجه واوسي، د خپل صف وحدت او اتفاق وساتي، د خپلو مشرانو او مسئولینو لا ډیراطاعت وکړي، په هر دم او قدم کې د الله تعالی محاسبه او مواخذه په نظر کې ولري ، د الله له مخلوق سره په چلند کې خورا نرمي غوره کړي او له مؤمن ولس او مظلومو اسیرانو سره د دښمن ظالمانه چلند یې غیر شرعي انتقام ته ونه هڅوي بلکې د دښمن له اسیرانو سره د نبوي اخلاقو پر مبنا باید ښه چلند وکړي.

جهادي مسئولین دې د دښمن دسیسو او ناڅاپي حملو ته همیشه څیر اوسي، د ترڅار لاندې وسائلو له استعمال سره دې ډیر احتیاط وکړي د ځان او مجاهدینو له ژوند سره بې احتیاطي هم جهادي صف ته لوی زیان دی او هم اخروي مسئولیت لري.

له خپلو ټولو هیوادوالو، علماء کرامو، پوهانو، مخورو، ولسي او سیاسي شخصیتونو، قلموالو، مسلکي کدرونو، د نوي نسل روزونکو استادانو او ټولو هغو کسانو نه چې په دې مظلوم ولس او خپل شوي هیواد یې زړه خوږیږي هم غواړم چې د جګړې د اصلي عاملینو امریکایي یرغلګرو په وړاندې په یوه غږ ودریږي.

په پای کې له ټولو هیوادوالو څخه هیله کوم چې هر وخت په تیره بیا د اختر په دې مبارکو شپو ورځو کې ټول بې وزله وروڼه او خویندې هغه که یتیمان وي که د شهیدانو او اسیرانو کورنۍ او که نور بېوزله کسان وي په خوښیو کې له ځان سره شریک کړي او د خپل وس په اندازه یې لاس نیوی وکړي.

والسلام

داسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین

شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده

۱۴۳۸هـ ق رمضان المبارک ۲۷

۲۰۱۷م جون ۲۳

# بالآخــره امریکا په افغانستان کې خــپله ماتې ومــنله

عبدالرحیم (ثاقب) لیکوال او سیاسي شنونکی

د ډونلډ ټرمپ په مشرۍ د امریکا د متحده ایالتونو د نوي حکومت لـه جوړیـدو خواوشا ٦ میاشـتې تیریـږي چې لاهـم د افغانستان په اړه د یاد حکومت تګلاره نه ده اعلان شوې.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې امریکایي ځواکونو عمومي قومندان جنرال نیکولسـن او همداراز د امریکـا پـه کانګریس کې د جمهوي غوښتونکي ګوند سناتور جان مکین افغانستان ته د نورو امریکایي سرتیرو د رالیږلو پلویان دي او پـه مکرر ډول یې له ولسمشر ټمپ څخه افغانستان ته د اضافي امریکایي ځوکونو د رالیږلو غوښـتنه کـړې خـو لاهـم نـه ولسمشر ټرمپ او نه د امریکا کانګریس د افغانستان د پوځي وضعیت او دلته د نورو امریکـایي عسکرو د را لیږلـو پـه اړه خپلـه پریکـړه اعلان کړې.

د جون د میاشتې په ۱۳ نیټه د امریکا د فاع وزیر جیمز ماټیس د امریکا کانګریس ته په ویـنا کـې وویـل چـې امریکـا پـه اوسنۍ ستراتیژۍ د افغانستان جګړه نه شي ګټلای.

تېره میاشت د بلجیم هیواد په پلازمینې بروکسل کې  ولسمشر ټرمپ د ناټو غړیو هیوادونو په سرمشریزې کـې د غونـډې په مهال له ناټو څخه وغوښتل چې افغانستان ته خپل نوي سرتیري را ولیږي ، خـو هلتـه هـم پـه سمدسـتي ډول د نـاټو غړیـو هیوادونو د ټرمپ غوښتنې ته مثبت ځواب ورنکړ، بلکې د ناټو تړون عمومي سرمنشي ینس سټولټنبرګ ورته وویل:

د ناټو سازمان د خپلو سـلاکارانو او پـوځي روزونکـو زیـاتولو د شرایطـو پـه ارزولـو لګیـا دی چـې د وسـله والـو مخـالفینو (طالبانو) په مقابل کې د افغانستان امنیتي او دفاعي ځواکونه پیاوړي کړي خو دې هیواد ته د خپلو اضافي ځواکونـو د شـمېر او دهغوئ  د لیږلو په اړه به وروستی پرېکړه وکړي.

همداراز د امریکا د دفاع وزیر جیمز ماټیس او د دې هیواد د ملي امنیت مشاور مکماسـټر افغانسـتان تـه د خپـلو لومړنیـو سفرونو په مهال وویل چې په راتلونکې یوې میاشتې کې به افغانستان ته د نورو امریکایي سرتیرو د لیږلو په اړه پریکـړه کـوي خو اوس د هماغې مودې په پوره کیدو سره لا هـم نـه د ولسمشر ټرمـپ امنیتـي سـلاکاران ، نـه پنټـاګون او نـه هـم د امریکـا کانګریس په دې توانیدلی چې د افغانستان په اړه خپله پوځي ستراتیژي تیاره او اعلان کړي.

د پوځي کارپوهانو په باور په مجمـوع کـې د افغانسـتان پـه اړه د امریکـي تګلاره ځکـه لـه مـاتې سره مخ ده چې دوئ د افغانستان د خلګو، کلتور او جغرافیې سره خپل بلدیت نه لري.

دوئ چې تر اوسه د افغانستان په اړه کومه تګلاره نیولې هغه د هغو کسانو په اټکلونو او نظرونو بناده کوم چې کلونه وړاندې له خپل هیواده لیرې لوی شوي او ډیرې خو یې بلکل له هیواده بهر زیږیدلې چې دمګړئ هغوئ خپله د افغانستان له اوسني وضعیت او طبیعت سره د امریکایانو په څیر ناشناخته دي.

که څه هم په تیرو۱۷ کلونو کې په افغانستان کې ټولو عیني واقعیتونو په دې هیواد کې د امریکایانو په ښکاره ماتې دلالت کاوه ، خو امریکایان د نړۍ د یوه مغرور اشغالګر ځواک په توګه دیته نه و اماده چې د تش لاسو افغانانو په لاس خپل شکست ومني او د اوسني دفاع وزیر جیمز متیس په څیر ورباندې بربنډ اعتراف وکړي.

په افغانستان کې د امریکایي ستراتیژۍ په ناکامي باندې د پنټاګون اعتراف تر هغه وروسته صورت نیسي۔ چې دوئ دولته په تیرو ۱۷ کلونو کې ۷۸۰ملیارده ډالره مالي لګښت کړی، څه کم څلورزره پوځیان یې مړه او خواوشا دوه لکه یې ژوبل او په عصبي ناروغیو اخته شوي دي.

په افغانستان کې پر خپلې ماتې باندې د جمیزماتیس په څیر لوړپوړي امریکایي چارواکي اعتراف د واشنګټن له لوري په اصطلاح د ترهګرۍ خلاف جګړه کې د هغوی ستر شاګرز دی.

هغوی د افغانستان جګړې ته د خپل هیواد په تاریخ کې د ترټولو اوږدې جګړې نوم ورکړی دی کومه چې دوئ ته په پوځي او اقتصادي لحاظ ډیره درنه تمامه شوې.

که څه هم چې امریکایانو د خپل ستراتیژیک حلیف ناټو ترون په مټ د دې اوږدې جګړې د ګټلو لپاره ډیرې هڅې وکړې خو بریالي نشول او نه یې هم په راتلونکي کې د بریالتیوب چانسویني.

هغوئ پوهیږي چې د نړیوالې پوځي ، سیاسي ، اقتصادي او تبلیغاتي اجماع په صورت کې چې مو دا جګړه و نه ګټلای شوه په یواځیتوب او په داسې حال کې چې په افغانستان کې زموږ پرخلاف روان جهادي مقاومت په تدریجي ډول نړیوال مشروعیت ترلایه کوي په هیڅ صورت نشو ګټلای.

همدا وجه ده چې هغوي مجبور شول د یوه ترخه اعتراف په توګه د امپراتوریو په هدیرې (افغانستان) کې خپله ماته ومني.

الله اکبر ، و یومئذ یفرح المؤمنون بنصر الله...

په دې سره د افغانستان په ویاړلیو نومونو کې د ویاړ او اعزاز یو بل تاریخي (امریکا ماتوونکی) نوم هم اضافه شو چې له امله یې خپل مسلمان غیرتي ولس ته مبارکي وایم او د دې تاریخي معرکې ګټونکو جهادي اتلانو ته د احترام او عقیدت مندي پیرزوینې وړاندې کوم.

ټیټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه .... زه په دې افتاده ګۍ کې لوی ګړنګ یم

# ټرمپ له ناټو او اروپا څه ترلاسه کړل؟

خبیر احمد م

د امریکاولسمــــــشر(ټرمپ) ســــعودي عربســـــتان اواسرائیلو ته له دوري ورسته اروپاتـه ولاړهلتـه یـې دنـاټو دغړو هیوادونو په سرمشریزه ناسته کې چې بروکسـل کـې جوړه شوي وه برخه واخیسته.

دغه رازیې دنړۍ (۷) ستروصنعتي هیوادونـودړومبی کچې له مشرانوسره چې له امریکا، جاپان ، برتانیي ،المان ، ایټالیـا ، کانـاډا، اوفرانسيـ څخـه عبـارت دي هـم پـه ایټالیاکې ولیدل ، ورسته د دنړۍ کاتولیکانولـه رهبر(پـاپ فرانسیس) سره دلیدلولپاره روم ته ولاړ.

په دغوناستواولیدنوکې په نړیوال تجارت ، په اقلیمي موضوعاتو، دکډوالوپه مسائلواوهم له داعش سره دمقـابلي په لاروچارو خبري اوبحثونه وشول

سرچیني وایي چې دیادو موضـوعاتوپه اړه ټرمـپ لـه غړوهیوادونوسره هیڅ داسې کوم توافق اوپرمختګ ته ونـه رسـیده چـې ټرامـپ یـې دخپـل سـفردیوې مهمې لاسته راوړنې په توګه یادکړي.

فرانسوي ورځپاڼه (انترناسیونال) پـه یـوه مقالـه کـې د۷ صنعتي هیوادونوناسته ترډیـره ځایـه بـې نتیجـې بللي لیکلي یې دي :

دیادو هیوادونـو پـه غونـډه کـې چـې یـوه لورتـه یـې امریکااوبل لورتـه یـې ٦ نورهیوادونـه وو داختـلاف وړیـوه موضـوع دپـاریس تـړون تـه دټرمـپ عـدم درنـاوی وو ، دامریکاولسمشر کوشش کاوه چې له نوموړي تـړون څخـه ځان وباسي.

چې همداسې یې وکړل هم ، کله چې ټرمپ لـه اروپـا نه امریکاته ستون شو ړومبنی ګام یې داوه چې دپـاریس له تړون څخه یې دامریکا دوتلو اعلان وکړ.

نوموړی تړون چې دځمکـي دګرمیـدو دمخنیـوي پـه باب په ۲۰۱۵ کال کې د۱۹۰ هیوادونـو پـه ګـډه ناسـته کـې سرته رسیدلی وو ، دتړون په پریکړه کـې راغـلي وو چې دراتلونکوپنځوکلونوپه موده کې بائیـد هیوادونـه کوشش وباسي ترڅودځمکي تودوخه له ۲ درجې سانتیګراده لـوړه ووسي ، دهمـدې هـدف لپـاره بائیـد هیوادونـه دخپلـو هغوصنعتونوتولید راکـم کـړي چـې پـه نتیجـه کـې نـړۍ تــه زیاتــه تودوخــه واردوي، دتــړون دپنځــه کلنــي مبارزي مالي لګښت به تر ډیره حـده د شتمنو هیوادونـو چې تولیدات یې زیات دي په غاړه وي.

دتـړون بودیجـه بائیـد دیـادو کلونولپـاره لـړ تـر لـړه ۱۰۰ ملیـارده ډالـره ووسي ، امریکـا ژمنـه کـړي چې دپاریس تـړون نیـږدي ۴۰ فیصـده لګښـت بـه هغـه ورکوي.

خوټرمپ دپاریس تړون ته غاړه نـه کیښـوده، وئیـل یې چې امریکابه یالس فیصـده لګښـت ورکـوي اویابـه لـه تړون څخه وځي.

الماني مجلې (اشپیګل) د۷ ستروصنعتي هیوادونوله غونډې ورسته ولیکل : داسې بریښي چې لـدې ورسته بـه دنړۍ دستروصنعتي هیوادونوډله (٦ ) بلل کیږي ، ځکه پـه ورسـتی ناسـته کـې د امریکـا ولسمشـر ټرامـپ یـواځې

هغوتړونوته ژمن وو چې دهغه په فکر امریکا ته پکې زیان اوتاوان نه وي.

ایټالوی ورځپاڼي (لارپوبلیکا نیز) د۷ هیوادونو ناسته د المان دصدراعظمي (مرکل) له قوله بې نتیجې بللې په ټرامپ توندي نیوکي وکړي چې نوموړی یوه ریاکاره څېره ده اوهیڅ کومه مثبته برنامه نلري.

مرکل داهم ویلي چې لدې ورسته به المان اوملګري هیوادونه یې داسې اقتصادي تګلاري جوړوي چې په هیڅ ډول یې تکیه اوبروسه په امریکا اوبرتانیاباندي نه وي.

## ټرامپ او د ناټو سرمشریزه:

مخکې تردې چې ټرمپ په بروکسل کې دناټوپه سرمشریزه کې ګډون وکړي امریکایي مقاماتوخوشبیني ښکاره کړي وه چې انتظارلري دناټوپه ناسته کې به دامریکاپه مشري دداعش ضدایتلاف هراړخیزملاتړوشي اوپه ځانګړي بودیجه به اتفاق راشي

دمنابعو په قول دبروکسل غونډه هم د۷ صنعتي هیوادونو دناستي په څېر د امریکا د ولسمشر لپاره له مایوسیو او ناکامیو ډکه وه؛ ځکه هیڅ داسې توافق اوپریکړه مخي ته رانغله چې د (داعش ضد) په یوه قوي ایتلاف دي هوکړه راغلي وي.

دټرمپ غوښتنه داوه چې ناټو دې دامریکاپه مشرۍ د داعش په خلاف عملي، پوځي اواقتصادي ونډه په ډاګه کړي ، خوناټوپه سیاسي اولوژستیکي میدان کې ټرمپ ته ژمنه ورکړه چې ملاتړیې کوي ، خوپه عملي ډګرکې یې ترینه ځان وسپماوو،چې یوپوځي به هم ورنکړي اونه به هم پکې خپلي وسلي وکاروي.

ټرمپ د ناټو سرمشرېزې ته وئیلي چې نوموړي سازمان ۲۸ غړي هیوادونه لري خوپه عمل ٦ هیوادونه په صادقانه ډول دسازمان له ګټواومنافعودفاع کوي پاتې ۲۲ هیوادونه د٦ هیوادونوپه اوږوبار او بوج دي ، دټرمپ مشخصه غوښتنه داوه چې د داعش په وړاندې دې په مساویانه ډول دناټو ټول غړي پوځي اواقتصادي سهم په ډاګه کړي.

خودناټودسازمان جواب داوه چې داعش دناټواونړۍ لپاره خطردي خوپه عین حال کې فکرکوي چې نوموړي ډله دخطرله کچې زیاته پرسول کیږي اوځیني جهتونه غواړي چې په لوي لاس اروپادداعش په ګواښونومتضره اوبیم زده کړي ،چې دځینوکاروپوهانوپه اند دناټوله دغې اشاري څخه امریکاهدف ده.

په هرحال دټرمپ سفراروپاته له جنجالونو اومایوسیو ډک وو، امریکایانو فکر کاوه چې دناټوپه سرمشریزه اوهم د۷ستروصنعتي هیوادونو په ناسته کې دټرمپ مخامخ حضوراوشرکت به دومره موثر اوتاثیر ګوزاره شي چې نوموړی به خپلې ټولي هغه غوښتنې چې له ټاکل کیدوسره سم یې دناټواواروپاپه باب په ډاګه کړي وي یوه یوه عملي اودناستوپه برخوالوومني.

ولې ټرمپ دناټو په سرمشریزه اود۷ صنعتي هیوادونوپه ناسته کې په خپل رومبني حضوراوشرکت نه داچې ناټو او د نړۍ مهم اقتصادي هیوادونه ځانته رامات اوله ځان سره متحدنکړل ، بلکې هغه ته اروپا اوناټوپه خپل صریح اومخامخ پیغام کې داخبره په غوږ کې وروځځوله چې امریکانورهغه مقام اوحیثیت نلري چې دنړۍ رهبري وکړي اوهغه څه چې امریکااوټرمپ یې په هځه کې دی دناټو او اروپا لپاره مثبت پیغام اوښه راتلونکی نلري.

# د کابل تحصن کوونکي د چا لخوا لمسول کیږي؟

شاهد (غزنیوال)

د روا ن کال د غبرګولي د میاشتې په لسمه په کابل کې د المان سفارت مخته د ټانکر تر خونړۍ چاودنې یوه ورځ وروسته  یو شمیر او باشانو د رژیم د بې کفایتو او فساد په خلاف لاریونونو پیل او د تحصن په پلمه یې په لویو لارو کې خیمې ودرولې.

کابل ښاریان ، که نارینه دي که ښځینه ، زاړه دي که ځوانان ، زده کوونکي دي او که عادي کار ګران ټول په یوه خوله په رسنیو کې ناړې وهي چې دا سوله ییز لاریونکوونکي نه بلکې هغه آشوبګران دي چې زمونږ ورځنی ژوند یې له ستونزو سره مخ کړی خو همدا د تحصن کوونکو په پلمه آشوبګران په بې حیایي سره وایي چې دوئ د عدالت غوښتنې لپاره  لارو ته راوتلي او په دې وسیله غواړي له دولتي چارواکو څخه د عدالت د تأمین غوښتنه وکړي.

د کابل ګوډاګی رژیم چې د هیواد په لر اوبر کې د مجاهدینو د منصوري عملیاتو تر سختو بریدونو لاندې دی د نورو ټولو امنیتي او اداري ستونزو د مخنیوي ترڅنګ په کابل ښار کې د راوتلیو اوباشانو د بدماشي له مخنیوي څخه هم په بشپړه توګه ناتوانه دی؛ ناتوانه ځکه دی چې همدا اشوبګران هم له هغه اخوره تغذیه او تجهیز کیږي له کومه څخه چې د ارګ فاسد، مزدور او شړیدلی رژیم تجهیز کیږي.

دا ښکاره خبره ده چې په افغانستان کې د دیمکراسي تر چتر لاندې موجود ټول آشوبګرانه تحرکات د امریکایانو ترمستقیم نظارت لاندې پرمخ بیول کیږي.

مثلا که څو فاسد، بې دینه او بلواکه کرکترونه د امریکا د بهرنیو چارو د پخواني وزیر جان کیري تر وصایت لاندې د ګډ حکومت په نوم  سره را ټولیږي ، که یوشمیر نوري ځان پلورلې او منفورې څیرې د ثبات او حراست په نوم تشکیل اعلانوي او که ځینې نور د کمونیستي رژیم پاتي شوني، غله او په بشري ضد جنایتونو تورن جګړه ماران د جهادي رهبرانو په نوم د ګډ حکومت ترڅنګ لاندې درول کیږي د دې ټولو اهداف د افغانستان د وضعیت بې ثباته کول او د امریکایانو په تمویل او دستور د افغاني غمیزې لا بحراني کول دي .

د رستاخیز تغیر په نوم د تحصن کوونکو یا مظاهره چیانو آشوب هم  د همدې معلوم الحاله سازشي حلقاتو په کار کردګي او د امریکایانو په مهندسي هغه نوی سازش دی چې د افغانستان د ورونو قومونو ترمنځ د داخلي اختلافاتو د را پارولو په غرض ایجاد شوی چې ټول کابل میشتي یې له مشکلاتو سره مخ کړي دي.

که څه هم چې د تحصن کوونکو په نوم همدا اخلال ګران ادعاء لري چې مونږ د یوه مدني حرکت (تحصن) په کار اچولو سره د ارګ فاسد چارواکي د حالاتو مثبت تغیر ته اړ باسو ، خو د دوئ



دغه ادعاء به هغه وخت پرځای وه چې همدا فاسد چارواکي په پیل کې د دوئ په خوښه او ارادې ټاکل شوي وای.

اوس خو هم امریکایان برملا اعتراف کوي چې ارگ میشتي مفسدین د دوئ لاسپوڅي او د دوئ لخوا پر افغان ولس تحمیل شوي او هم خپله همدا اشوبگران وایي چې ارگ میشتي چارواکي د جان کیري د سیاسي هوکړه په وسیله تعین شوي.

نو دا چې دا مفسد چارواکي د هغوي له ټولو فسادونو، غلاگانو او بې کفایتیو سره د امریکایانو لخوا تعین شوي ، څرنگه به هغوي د څو تنو نورو لنډغرو په تحصن او لاریونونو سره له خپل مسؤلیت نه لاس په سر شي؟

په کابل ښار کې د مظلومو کابل ښاریانو د ځورولو لپاره د تحصن په نوم د شمالي ټلوالې د لنډه غرو نوي تحرکات د امریکایي یرغلگرو هغه دسیسه ده چې غواړي په وسیله یې یوځل بیا تنظیمي جگړه ماران را ژوندي او یو د بل په مقابل کې ودروي.

د شمالي ټلوالي لنډه غر وروسته تر دې په دې حرکاتو لاس پوري کوي چې د همدې امریکایانو په دستور یوبل له کاره لویدلی ټوپکمار(حکمتیار) یوځل بیا د امریکایي شرارتونو د پلي کوونکي په توگه د کابل د شړیدلې رژیم حلقې ته ورگد او کابل ته د رسیدو په لومړۍ ورځ یې د خپل تنظمي وحشت تظاهر وکړ.

د امریکایانو په دستور حکومت ته تسلیم شوی حکمتیار د خپلو اربکي جگړه مارانو او دولتي بدرگچیانو تر حمایت لاندې کابل ښار ته په داسې حال کې رادننه شو چې بدرگچي ډلو یې له ځان سره سپکې او درنې وسلې لرلي او دهغوي په ښکاره کولو سره یې پخوانیو جمعیتي سیالانو ته د بیا پوځي فعاله کیدو تظاهر وکړ.

هوکې ! کابل ته د همدې له کاره لویدلي ټوپکمار(حکمتیار) په را رسیدو سره د هغه د پخوانیو تنظیمي سیالانو (جمعیتیانو) په رگونو کې یوځل بیا د تنظیم جنگي جذبې راپورته او یو بل ته گوته په ماشه شول.

او هماغه و چې د شمال په ځینو ولایتونو کې یې له یو بل سره وسله والې نښتې وکړې.

د حزب او جمعیت دا جگړه ییزه سناریو به خامخا په کابل ښار کې هم تکراریږي او امریکایي یرغلگر به خپلو شومو اهدافو ته درسیدو په خاطر له هغې څخه د ځان په نفع استفاده کوي.

د شمالي ټلوالې د لنډه غرو لخوا د کابل په څلور لاریو کې د تحصن په پلمه د خیمو نصبول د پخوانیو تنظیمي رقابتونو د بیا راژوندي کولو په غرض پیل شوي اود دې کار اصلي محرکین هم امریکایان دي چې په لیري پرتو سیمو کې یې د جهادي مقاومت د مخنیوي په غرض د داعشي پروژه په کار اچولې.

و به گورو چې امریکایي یرغلگرو له دې دسیسې څخه د افغانستان د بې ثباتي لپاره کوم نور اهداف تر لاسه کوي ، الله تعالی دې زمونږ هیواد او ځوریدلي ولس ته د د دښمنانو د دغو ظالمانه توطیو له شره نجات ورکړي.

***

حبیب مجاهد

# کندهار فتحو ته هر کلي وايي

د اسلامي امارت لخوا د پیل شویو منصوري عملیاتو په لومړۍ میاشت کې مجاهدینو په جهادي ډګرکې ځینې داسې مهم او نادر فتوحات ترلاسه کړي چې بې له شکه یې د الله تعالی د نصرت او مدد د نزول مظهر بللی شو.

د کندهار ولایت شاید هغه سیمه وي چې د درست افغانستان په نسبت ورته فاسد رژیم او خارجي اشغالګر ډیره توجه لري.همدلته دوی د هیواد دوهمه ستره اډه لري او د ظالمانه عملیاتو په توسط توانیدلي و چې په تیرو څو کلونو کې ددې ولایت حالات نسبتا په خپل کنترول کې واخلي.اشغالګر پوهیدل چې کندهار د افغانستان د پوځي وضعیت د ترازو شاهین دی چې که مجاهدین په کې قوي دریځ خپل کړي شاید په نور افغانستان کې هم ورسره د واک او ځواک ډګرونه د دوی له لاسه ووځي.

خو د سږ کال د منصوري عملیاتو په بهیر کې د کندهار ولایت په نظامي وضعیت کې اساسي تغیر راغلی.مجاهدینو چې تیر کال یې د کندهار لرې پرتې ولسوالۍ لکه غورک، ښوراوک او ریګستان تر خپل کنترول لاندې راوستې وې سږ کال یې په هغو سیمو کې چې د حکومت د نفوذ تر ټولو مهمې سیمې بلل کیږي ستر فتوحات تر لاسه کړي دي.

ارغنداب ولسوالي د کندهار ښار سره نږدې او متصله ولسوالي ده،چې پخوا د رژیم تسلط په کې ډیر قوي و، خو سږ کال د می د میاشتې په ۲۳ مه مجاهدینو د ارغنداب د سوزنیانو په سیمه کې د اجیر پوځ یو لوی مرکز فتحه کړ چې ۳۵ تنه ګوډاګیانو ته په مرګ ژوبله اړولو سربیره یې څلور تنه د دښمن عسکر ژوندي ونیول او ۳ شوبلې ۲ دهشکې ، ۲ثقیلان ، یوراکټ ، ۴ کارمولي ټوپکونه ، یودرازکوف ، ۵۰ پیره دراکټ مرمۍ ، ۲۵۰۰۰ دکارمولي ټوپک مرمۍ اوپه زیاته پیمانه دکلاشنکوف اوثقیل مرمۍ اونورمهمات یې غنیمت کړل.

معروف او ارغسان د کندهار ولایت په ختیځ کې دوه هغه ولسوالۍ دي چې شاید په تیرو څوکلونو کې تاسو ترې ډیر جهادي خبرونه نه وي ترلاسه کړي.ځکه په دې ولسوالیو هم د حکومت سلطه ټینګه وه،اکثره سیمې یې د ځایي ملیشو یعني اربکیانو تر پوښښ لاندې وې،همدا راز د رژیم سرحدي ځواکونه هم په پراخه پیمانه په کې ځای په ځای شوي وو چې د مجاهدینو د پرمختګ مخه یې نیوله. مګر سږ کال الله الحمد په دې ولسوالیو کې هم د فتحو دروازه خلاصه شوې ده. د منصوري عملیاتو په تیرو څو اونیو کې د معروف په ولسوالۍ کې

ددښمن ګڼې قرارګاوې مجاهدینو نیولې او درانه زیانونه یې ورته اړولي دي.

څو ورځې وړاندې د معروف ولسوالۍ په سالیسون سیمه کې د اربکیانو دوه لوی مراکز د مجاهدینو لخوا فتحه شول او دښمن ته یې درنه مرګ ژوبله واړوله. تردې وړاندې د مې میاشتې په اتلسمه نیټه د معروف ولسوالۍ په اسحاقزي سیمه کې د اربکیانو یوه بله قرارګاه مجاهدینو فتحه کړه او لوی شمیر غنیمتونه یې هم ترې ترلاسه کړل.

د معروف په څنګلوري ولسوالۍ ارغسان کې هم سږ کال مجاهدینو پرمختګونه کړي دي. په دې ولسوالۍ کې د حکومتي عسکرو یو مضر- مشر- قومندان شمشاد د مجاهدینو لخوا وژل شوی او د دلکو په سیمه کې یې د اربکیانو یوه قرارګاه هم مجاهدینو نیولې ده.

هاخوا ته د کندهار په شمالي ولسوالیو کې هم د فتحو بهیر په څپو دی.د کندهار په شاولیکوټ ولسوالۍ کې خو تیر کال هم ډیر فتوحات شوي وو. مجاهدینو له دې ولسوالۍ څخه د روزګان ولایت په خوا تیره شوې لار تیر کال په خپل کنټرول کې اخیستي و او د دې لارې پر سر ددښمن لسګونه پوستې یې له منځه وړې وې. مګر سږ کال ددې پراخې ولسوالۍ په پاته ساحو کې جهادي بریدونه په خورا چټکۍ سره روان دي.د منصوري عملیاتو په لړ کې د مجاهدینو تر ټولو بریالی برید د مې میاشتې په ۲۵ مه د زنګیتان په سیمه کې د ګوډاګي پوځ په هغه ستر مرکز ترسره شوه چې په شاوخوا یې امنیتي پوستې هم راګرځیدلې وې، د مجاهدینو ځانګړي ځواک چې ( لیزري قطعه) هم شهرت لري په دې شپه یې لومړی د خپل دقیقو او چټکو عملیاتو په لړکې د دښمن امنیتي پوستې ونیولې او وروسته یې د حیرانوونکو عملیاتو په لړ کې د الله تعالی په فضل او نصرت سره ددښمن دغه ستر مرکز په بشپړ ډول فتحه کړ.

ددغه مرکز فتحه کیدلو او دښمن ته اوښتې درنې مرګ ژوبلې ددښمن لوړپوړي کسان هم ډیر وارخطاء کړل، د امریکایانو ازادۍ راډیو وویل چې په دې مرکز کې ددښمن ۵۹ تنه عسکر وژل شوي دي چې دا په یوه مخامخ جګړه کې شاید ددښمن د عسکرو تر ټولو درانه تلفات وي.په دې قرارګاه کې مجاهدینو د ګڼو شوبلو او درنو وسلو په شمول زیاته اندازه مهمات او نور غنائم هم ترلاسه کړل.

د ارغنداب،معروف او شاولیکوټ د بریالیو عملیاتو په څیر په دې وروستیو کې د میوند، نیش او خاکریز په ولسوالیو کې هم مجاهدینو ددښمن په مراکزو ستر بریدونه کړي او ځینې پوستې یې هم فتحه کړې. بل اړخ ته دکندهار ښار په داخل کې چریکي عملیات یو ځل بیا را ژوندي شوي او په هرو څو ورځو کې د رژیم مهم کسان د مجاهدینو په دقیقو بریدونو کې هدف ګرځي او له منځه وړل کیږي.د کندهار په ولایت کې دغه جهادي تحول حکومتي چارواکي هم سخت وارخطا کړي دي.

د شاولیکوټ له ستر برید وروسته د مې میاشتې په ۲۶ مه نیټه دکندهار امنیه قومندان جنرال عبدالرازق په دې ولایت کې یوې لویې غونډې ته په خبرو کې د کندهار د حالاتو په اړه ژوره خواشیني څرګنده کړه او په مرکزي حکومت یې تور ولګاوو چې کندهار ته یې توجه نه ده کړې.

# د ملي ماتم په ورځ هم امریکایانو

## د دولتي ځواکونو په وژلو صرفه ونه کړه

احمد مختار

د روان کال د غبرگولې د میاشتې په ۱۹ نیټه د گډ حکومت مشر اشرف غني احمد زي د یوې اعلامیې په صادرولو سره د شنبې ورځ د غبرگولې د میاشتې شلمه نیټه د هیواد د وروستیو پېښو د شهیدانو یاد او خاطرو ته د درناوي په موخه د ملي ماتم د ورځې په توګه اعلان کړه.

په همدې مناسبت یې د صادرې کړې اعلامیې په ترڅ کې په هېواد کې د خپل حکومت په ټولو سیاسي استازولیو کې د هېواد بیرغ د نیم ځوړند کولو امر وکړ او له خلکو یې وغوښتل چې په مسجدونو کې د شهیدانو په یاد او په هېواد کې د سولې او ثبات د تامین لپاره د قران کریم ختمونه وکړي.

خو په داسې حال کې چې د گډ حکومت چارواکي او منسوبین د هیواد د وروستیو پیښو د قربانیانو د ویر په لمانځلو بوخت و د گډ حکومت حامي لوري امریکایي ځواکونو د هیواد په ویر ځپلي ولایت هلمند کې هغوئ پر یوه بل ویر اخته کړل.

له هلمنده د خبري رسنیو د ورکړل شویو رپوټونو په حواله د شنبې په شپه د غبرگولې د میاشتې په ۲۰ امریکایي الوتکو د نادعلي په لوی باغ سیمه کې پر سرحدي پولیسو بمبار وکړ چې له امله یې لس تنه پولیس مړه او ۱٦ تنه نور مرگونې ژوبل کړل.

د شنبې په سهار چې د گډ حکومت ځیني چارواکي د محاصره ارگ په مسجد کې د هیواد د وروستیو پیښو د قربانیانو په ویر کې راټولیدل ، د هیواد خبري رسنیو په هلمند کې د امریکایي الوتکو په بمبار کې د ۲٦ تنو سرحدي ځواکونو د مرگ ژوبلې خبرونه د خپلو رسنیو د سرټکو په حیث نشر کړي و.

خامخا به د ولسمشر مطبوعاتي دفتر او ارگ ماڼۍ پر خپلو سرتیرو د امریکایي یرغلگرو د بمبارۍ خبر اوریدلی، کتلی او لوستلی وي، خو په غبرگون کې یې د هیڅ ډول غبرگون ځرگندولو جرئت ونکړای شو.

گډ حکومت چې ادعاء لري امریکایي سر تیري یې د امنیت ساتلو په غرض افغانستان ته راغلي او له هغوئ سره یې د راتلونکو لسو کلونو لپاره امنیتي تړون لاسلیک کړی دی دومره واک نه لري له امریکایي چارواکو څخه غوښتنه وکړي چې کم ترکم د یوې ورځې لپاره چې د ولسمشري په رسمي اعلان سره د ملي ماتم په نوم اعلان شوي خپل پوځي عملیات متوقف او د افغانانو له وژلو څخه خود داري وکړي.

د ملي ماتم په ورځ د امريکايي ځواکونو په بمبار کې وژل شوي کسان عادي افغانان نه ؛ بلکې هغه دولتي سرتيري وو چې خپله د همدې امريکايي ځواکونو لخوا تمويل او تجهيزاو د دوئ د لاسپوځي حکومت د امنيت ساتلو دنده ورسپارل شوې وه.

اشرف غني چې د شنبې په ورځ يې د هيواد د وروستيو پيښو د قربانيانو په ياد ملي ماتم اعلان کړي و په همدې ورځ کې د امريکايي ځواکونو لخوا د هلمندي سرتيرو پر وژنې خوله پټه او کم ترکمه د هغوي د دې کړنې په اړه يې کومه تشريفاتي د غندنې اعلاميه هم نه کړه نشر.



هماغه وه چې د دې خونړۍ پيښې په تعقيب د دوشنبې په شپه امريکايي يرغلگرو د ننگرهار ولايت په غني خيلو ولسوالۍ کې د مجاهدينو په بريد کې د خپلو څلورتنه وژل شويو سرتيرو په غچ کې درې تنه ولسي وگړي (يو پلار دوه زامن) په وحشيانه ډول شهيدان کړل.

په هلمند کې پردولتي سرتيرو بريد او په ننگرهار کې پرولسي- هغو وحشيانه تيرى به د امريکايي يرغلگرو نه لومړى بريد او نه هم وروستى جنايت وي ، بلکې ښايې هغه په همدې هلمند او ننگرهار کې په لسگونو ځله نور هم د امريکايي ځواکونو لخوا تکرار شي، ځکه هغوي ته د افغانانو په خلاف د دغه ډول بريدونو تر سره کولو قانوني مبرر خپله د گډ حکومت د امنيتي ترون له مخې ورکړل شوى چې د هغو پر اساس امريکايي سر تيري په افغانستان کې د هرډول جنايت تر سره کولو په حال کې له هرډول عدلي او قضايي تعقيب څخه مبرا دي ، لهذا هغوي که په افغانستان کې روغتونو نه بمباروي ، که مسجدونه او ښونځي، که دولتي سرتيري وژني او که پر ولسي کليو او سيمې بمباري کوي دا د امنيتي تړون په اساس خپل وظيفوي مسؤليت گڼي نه د افغانانو خلاف وحشيانه جنايت.

پورتنيو واقعيتونو ته په کتو سره د گډ حکومت له لوري د شنبې د ورځې د ملي ماتم اعلان يې هم له ولس سره د غمرازي په غرض نه ؛ بلکي هسې يوه تبليغاتي هڅه وه چې غوښتل يې د هغې په وسيله د هيواد والو پام له هغو ستونزو او دولتي نيمگړتياوو څخه بل لور ته واړوي کومې چې په همدې شپو ورځو کې د څوتنو آشوبگرنو له لوري په لويو لارو کې د خيمو د نصبو له امله کابل ښاريانو ته پيدا شوې.

ده وويل طالبانو د افغانستان د جنوبي ولاياتو لپاره يوه د پوځي پلان او نقشه جوړه کړې او خپل عمليات د هغه له مخې پر مخ وړي. طالبانو تير کال په هلمند او روزگان کې اکثره ولسوالۍ او تقريبا ټولې اطرافي سيمې ونيولې او سږکال يې کندهار او زابل هدف گرځولي دي. نوموړي په کندهار کې د طالبانو وروستي پرمختگونه د خپلې خبرې يو ثبوت وباله.

د کتونکو په باور کې که د کندهار ولايت يو ځل بيا د مجاهدينو تر نفوذ لاندې راشي نو دا به نه يوازې د افغانستان به جنوب کې دحکومتي واک د انتها په معنى وي بلکې په ټول افغانستان کې به په نظامي وضعيت ژور اغيز وکړي او د جهاد په گټه به ښې پايلې له ځان سره ولري.

# د افغانستان په اړه دیرغلګرو متزلزل دریځ

سید شریف

یرغلګـر څواکونـه چـي پـه راس کـي یـې دامریکـا متحـده ایـالات راځـي دافغانسـتان پـه اړه کومـه ثـاکلي پالیسي او دریځ نه لري، د بېلګې په توګه مخکي یې ویل چي: تر ۲۰۱۴کال وروسته به ټول عسکر لـه افغانستانه باسي او بیا یې ویل چي نه د ۲۰۱۷\۲۰۱۶ ترپایه بـه ټول عسکر له افغانستانه ستنوي.د عسکرو دتعداد پـه اړه هـم کله یو څه او کله بیا بل څه وایې: هغـه داسي چـي وایـې تر ۲۰۱۷کال وروسته به هم لس زره ، اته زره او یـا پنځـه زره پوځیان افغانستان کي پریږدي.

همدا راز په تخنیکي او محاربوي برخه کـي د کابـل د حکومت سره پر کړو ژمنو وفا نـه کـوي، پـه یـوه او بلـه پلمـه دکابـل چـارواکو تـه غولـونکي تمـي ورکـوي، چـي دوخت په تیریدو سره بیا ورسره کړې وعدې یوه هـم نـه عملي کوي او داسي .په اقتصادي برخه کي چي یرغلګرو څواکونو دکابـل سره څـومره ژمنـي کړي،کلـه وایـې دا بـه قرض وي، کله وایې مشروطي او کله بیا بیخي انکار تـرې کوي.

دسولې په برخه کـي یـې دریـځ دومـره متزلـزل دی چي تراوسه نه اشغالګر او نه هم د کابل حکومت سالمه او مشخصه ستراتیژي لـري او نـه هـم ددوی لـه کړنـو او څرګندونو داسي ښکاري چي واقعـا سوله غـواړي، بلکـي عملا یې هرڅه د سولي پرضد روان کړي دي.

یرغلګـر د افغانسـتان پـه اړه خـورا ضـد ونقـیض څرګنــدوني کــوي .ځینــي ســناتوران او چــارواکي دافغانسـتان څخـه ترهرڅـه ژر د خپلـو عسـکرو ایسـتل غواړي،بعضي یې وایې چي افغانستان په یـو مخیـزه توګـه ترک کړ شي،نور بیا وایې چي پوځیـان دي تـرې وایسـتل شي اما دوسلو او پیسو مرستـي دي د کابـل حکومـت د وسله والو څواکونو سره جاري وساتل شي.

افغانستان کـي د اشـغالګرو لـوی قومانـدان جـنرال نیکولسن سپیني مانۍ ته وړاندیز کړی چي نور پوځیان هـم افغانسـتان تـه راولیـږي. پـه داسي حـال کـي اکـثر امریکایان غواړي افغانستان کي موجود پوځیان یې بیرته ورشي او له چارواکو غواړي چي د امریکا پـه تـاریخ کـي تر ټولو اوږده جنګ ته نـوره خاتمـه ورکـړي او امریکـایې ولـس تـه د تـابوتونو د وروړلـو او ډالـرو دخـاوري کیـدلو څخه خلاصون ورکړي.

دلته دامریکـې دحکومـت د ډول یـوه څـه توضـیح اړینه ده:ظاهرا خو دامریکا حکومت جمهوري او انتخـابي بڼه لري اما اصل خبره داده چي دامریکـا حکومـت د څـو

ملیاردرانو په ولکه کې دی هغوی هر څه د خپلو ګټو پر محور راګرځوي او همدغه ملیاردران بیا زیاتره یې یهودیان دي چې داسلام او اسلامي نړۍ سره تاریخي او نه پخلاکیدونکي دښمني لري، دوی غواړي چې اسلامي نړۍ په اقتصادي، سیاسي او امنیتي لحاظ تل کمزورې او لـه ګډوډۍ سره لاس او ګریوان وي تر څو دوی خپل شوم پلانونه تطبیق کړي .

دکوم کار پـه اړه چې پلان او ستراتیژي نـه وي، دپوهانو لـه انده هماغه کار لـه پیل څخه پـه ماتـه او شرمندګۍ محکوم دی، څکه مهم او غیر مهم او لومړیتوب او پای پکې په ګوتـه شوی نه وي.

تیره یوه نیمه لسیزه کې اشغالګرو او داخلي ملاتړو یې ددوی پرضد دافغان ولس د جاري قیام د مخنیوي پـه موخه ډیري او هر اړخیزې هڅې وکړې، خونه تنها داچې مثبته پایله یې ورنه کړه بلکې نورلا هم د ناکامۍ سرمخ شول او لا هم مخ پر زیان روان دي،څکه د نیواکګرو پرضد د اسلامي امارت پـه مشرۍ دافغانانو ملي پاڅون ورځ تر بلې پیاوړی کیږي او پراخیږي.

یرغلګرو ځواکونو تـه افغانستان تیاره غوړه مړۍ وبریښیدله، دوړو لیوانو غوندې یې پرې را ودانګل،خو کله چې دې د سریښو ډنډ کې ونښتل جوش یې لږ هوش ته مایل شو، خو له کړنو یې داسې ښکاري چې لا هم یرغلګر سم په هوش شوي نه دي.

د افغانستان پـه اړه د یرغلګرو متزلزل تریځ او ناسالمه ستراتیژي افغان ولس تـه دازیری ورکوي چې اوسني یرغلګر بـه هم د چنګیز، ګورګین، انګریز او شوروي په برخلیک مبتلا کیږي او افغان ولس به لـه دې معرکې یو ځل بیا سر لوړی راوځي.ان شاء الله

## سلګۍ (لنډه کیسه)

زلمی حلیمي

له سترګو یې اوښکي راتلې دبوډۍ سر یې پر زنګانه ایښی و. دمړي سرته ناسته وه سوځېده. پزه یې دټیکري په پلو پاکه کړه. شېبه وروسته پر ملا کږه سوه داوښکوَ لوی څاڅکی یې په غبرګي دپرتې سپین سرې پر ژړ مخ ور وڅڅېدی. لاس یې ور اوږد کړ دقبرله بېخه یې خاوره په دوو ګوتو کې راواخیستـه دمورپـه تندي یې وموښله. سلګۍ یې په ستوني کې نـه ځایدې بیا یې پزه کش کړه وسونیده تور ټیکري یې له سره ولوید اسمان تـه یې وکتل پـه ژړغوني ږغ یې ووېل:

ـ ستا له تلو وروسته یې ښه ورځ نه ده لیدلې.

په عمر پخه ښځه بې سده پرته وه لور یې دمور سر پر زنګانـه سیده کړ دمړي سرته ولاړه جکه لکړه یې وښوروله کړنګ سو دشناختي پـه سرکي پـه سره رښکۍ ترلې زنګوله وښوریده. پیغلي نجلۍ لـه اوښکو ډکي سترګي ور پورتـه کړې، دجګي لکړي پـه سرکي سپیني اوسرې چیري (ټوټې) باد رپولې لندې سترګي یې وچي ورته نیولې وې. دمازیګر لمر لویدو تـه لږ وخت پاتـه وو پـه اوښکو لوند ګریوان ته یې وګتل فکر یو وړه دناروغه پلار پر مرګ یې دومره نه و ژړلي لکه نن چي یې دمور بېوزلي او دخپل پیغلتوب بې سرنویشته حالت تـه اوښکي تویې کړې.

شېبه وروسته یې یودم پام سو شا وخوا یې وکتل پـه هدیره کې چوپـه چوپتیا وه یوازي یې دخپلي بېوزلې مور په حق کي دپلار دقبر سرته دبېوسۍ ژړا اوریدل کیده.

زما د ژوند له خوږو خاطرو څخه

# د طالبانو سره درې ورځې سفر!

وحیدالله وحید

زه دافغانستان په یوه سیمه ایزه راډیو کې له ډیره وخته د تخنیکر په توګه کار کوم، زه د طالبانو ډیر سخت مخالف وم هر کله به چې ددوی په اړه چا راته څه وویل او یا به مې له خپلو خبریالونو او نورو رسنیو څخه څه واوریدل ما به په حقیقت منل او همدا وجه وه چې کلک مخالفت مې کاوو، ما به ویل چې طالبان اورپکي دي، ترهګر دي، ظالمان دي او ددې پرځای چې افغانان د خوښۍ ژوند ته پریږدي بلکې تشدد او ظلم پرې کوي.

## د مطلب په لوري:

زما یو څو د ګردیز پوهنتون محصلین ملګري وو چې هغوی له طالبانو سره جوړ او کله کله عملیاتو ته هم ورسره تلل، کوم وخت چې مونږ محصلین دوستان چیرته سره یو ځای شوو، په هر ځل به دوی ماته د طالبانو صفتونه او نصحتونه کول که څه هم ماته یې خوند نه راکاوو خو دوی به باربار راباندې ټینګار کاوو چې یو ځل راسره لاړ شه چې طالبان په خپله وګورې بیا به تاته حقیقت درمعلوم شي، بلاخره چې ویریدیمه هم خو د یو چا په ضمانت د څو ورځو لپاره ورسره تیار شوم، تیره اونۍ د پکتیا ولایت سید کرم ولسوالۍ لکړۍ سیمې ته لاړم، هلته مې یو شمیر طالبان ترسترګو شول چې ټولي ټولي ناست وو او څوک په موټرسایکل سپاره یوې بلې خوا ته تلل راتلل، توري څڼې، دنګې او ټیټې ځوانې، توري ږیرې، کلاشینکوف، زیږیکۍ او راکټ یې پر اوږو وو باور وکړئ ټول سید کرم ته یې ښکلا وربښله، او یو سورنګۍ سرف رکمه موټر مې هم تر سترګو شو چې شاید زیکویک به پکې نصب وو ورسره وو، خو ډیر مجهز او پیاوړي ښکاریدل.

د مازدیګر وړانګې په لوېدو وې تر شلو څخه زیات کسان وو د کوسین په لوري مو حرکت وکړ ګورم په لارو کې مې هم بعضې بعضې طالبان ترسترګو کیدل چې په کلیو، جماتونو او دخلکو په کورونو کې دیره وو اوسیدل او ګرځیدل، ما به دا فکر کاوو چې طالبان به په غرونو کې اوسي هیڅ کله به سمې ته رانشي ځکه دلته د کابل یو ژوندۍ او فعال حکومت دی، خو چې کله مې دا طالبان له نیږدې څخه ولیدل او د خلکو همکاري او خواخوږي مې ورسره ولیدله نو زما سل په سلو کې یقین شو چې طالبان ډیر زر راتلونکي دي او د اشرف غني حکومت د سکوت په حال کې دی!

لنډه دا چې د ماښام لمنځونه شوي وو کوسین ته ورسیدو له یوه ملګري مې او پوښتل دلته خو د روټۍ هیڅ بندوبست نشته دا به چیرته خورو، دوست مې راته مسک شو ویې ویل صبر وکړه پیدا به شي، مونږ یوه وړوکي جماعت ته لاړو، ګورو چې لږه شیبه وروسته

جومات ته خلکو رنګارنګ دسترخوانونو او قسما قسمه خوراکونو راوړل او د کلي لوی او واړه داسې راته خوشحال وو تا به ویل چې یوه لرې وطن څخه د کلونو وروسته مسافر کور ته راغلی.

زما له سترګو بې اختیاره اوښکې روانې شوې بیا به مې زر زر غلې پاکې کړې خو زما اوښکې ډار نه وې بلکې د خوښۍ او حیرانتیا وې کله مو چې مړی اوخوړه او د ماخوستن لمنځونه مو هم ورپسې متصل وکړل بیا ټول سره جوړه جوړه او ګوښه شولو، او هغه پوښتنې چې د طالبانو په اړه زما په ذهن کې وې او تل به یې زما فکر له ګډوډې سره مخ کړی وو له څو ملکي خلکو مې اوکړې.

دبسم الله په نوم چې د کوسین اوسیدنکی وو ترې اومې پوښتل، حاجی صاحب طالبان څنګه خلک دي ایا دا ریښتیا ده چې ظالمان دي او ترهګر دي؟

بسم الله په خپله ساده کلیواله لهجه راته اوویل، څوک یایي ظالمان دي، طالبان چې زمونږ کلي ته راغلي په خدای زمونږ ژوند ورسره جوړ شوی او ډیر ښه سات مو ورسره تیر دی، عجیبه خوش اخلاقه خلک دي.

بیا مې ترې وپوښتل چې بعضې خلک وایي له خلکو څخه په زور مړی خوري ایا دا حقیقت لري؟ بسم الله بیا راته په کلیواله لهجه اوویل، چې خلک هسې پوریا ګند ورپورې وایي تراوسه خو مونږ ندي لیدلي چې له چا څخه یې مړی په زور خوړلې وي، ولې تا اوس اونه لیدل چې روټۍ مونږ په خپله ورته راوړه دا خو لا څه چه مخکې به مونږ ته کوم راشن راته هغه به ځینې حکومت راڅخه پټ کړ او ځینې به ملکانو راڅخه غلا کړ یوازې څو شتمنو کورنیو ته به ورسید او اوس چې کوم راشن راشي هغه طالبان ټول په خپل لاس خلکو ته تقسم کوي او بعضې بې وزلو کورنیو ته یې اکثره طالبان دلاس ګاډۍ ورسره وي په خپله وروړي.

بیا مې له یوه بل سپین ږیري څخه اوپوښتل چې، بابا ستاسې لپاره د کابل حکومت ښه وو او که طالبان ښه دي؟ بابا چې له خبرو سره ربیده راته اوویل، زویه مخکې به چې زمونږ کومې کورنۍ شخړې او د ځمکو په سر کومې لانجې راپورته شوې، مونږ به حکومت ته عریضه وروړه، اول خو به هغوی قبلوله نه بیا یې اخر درشوت په مقابل کې قبوله کړه، چې کله به حکومت لانجه خلاصوله حکومتي چارواکو او ملکانو به دومره روپۍ واخیستې چې دعوه کونکی به یې پر دعوې پورې حیران کړ او حکومت به د هغه چا په حق کې فیصله کوله چې چا به ډیر رشوت ورکړی وو، که څه هم په ناحقه به وو، اوس چې طالبان راغلي ټول خلک خپلې دعوې په طالبانو خلاصه وي نه رشوت غواړي او نه د چا سفارش مني خپله حقه فیصله کوي.

لنډه دا چې څو نورو کسانو څخه مې هم داسې ورته پوښتنې وکړې ټولو داسې جوابونو راکول چې زما په زړه به لکه غشي راننه وتل، همغه وو چې دا خري ورځې له راتګ سره مې دخدای په دربار کې سر په سجده کړ او حق ته مې ځان وسپاره، اوس دادی دریمه ورځ ده چې خپل کار ته مې هم استعفا وړاندې کړې، او له مهربان رب څخه غواړم چې تل له طالبانو سره همسنګری اووسم، او په پای کې ټول افغان او مسلمان ملت وایم چې طالبان زمونږ د ارمانانو ترجمانان دي هسې په تشو تبلغاتو مه غولیږئ!

# دملکي خلکو وژل

## امریکایي ستراتیژي ده!!

عبید ـ تنویر

دوه اونــی دمخـــه دکابــل ښـــارپه حساســه او ډیپلوماتیـک میشـته سیمه (زنبـق څلـورلاري ) کې هغـه ستره چاودنه چې دکابل رژیم امنیتي چارواکو یې علت داوبوپه ټانکرکې دځای پرځای شووچاودیدونکو مـوادو انفجـار وبالـه او لـه املـه يې لسګونه ملکي وګړي مړه اوټپیان شول دااودیته ورته بریدونه چې پـه تـرڅ کې یې یواځې بې دفاع ولس هـدف ګرځي دافغانستان اسلامي امارت لپاره د هیڅ ډول توجیـه وړنـدي، بلکي دغـه ډول بریدونـه او کړنـې دهغـو حلقـو کـاربولي چې هـدف يې دافغانـانو تـرمنځ د نفـاق او داخـلي شـقاق راټوکـول اوپراخول دي.

د کابل ناتوانه اوپردی پاله اداره هڅه کوي چې لـه دغې غمیزې څخه د تبلیغاتو په توګه کار واخلي، خپله بې کفایتي، رسوايي او د پیښـو پـه وړانـدې تذبـذب پـه بې حقیقته تورونو او اتهامونو باندې توجیـه کـړي اودکابـل چاودنه دمجاهدینوکاروبولي.

په څه ډول چې داسلامي امارت پـه رسمي غبرګـون کې ورته اشاره شوي چې دملکي وګړوقتـل عـام اوهغـوئ ته زیان اوصدمه رسول دمجاهدینو اهـداف اوسـتراتیژي نـده ، داخبره پـه صراحـت ویـل غـواړو چـې عـام ولـس اومیړنی ملت دمجاهـدینو دحمایي، مرستي اوهمـدردی ذرائع اوتکیه ګاه ده څکه همدغه اصیل ملت پـه سر او مـال لـه روان جهادڅخـه دفـاع کـوي اودلـوی طـاغوت (امریکـا) اودهغـوئ دغلامانوپـه مقابـل داسـلامي امـارت دبرحقي داعیي او مبـارزي بیدریغـه تائیـدکوي نودابـه لـه انصـاف او هـرډول منطـق څخـه لیـري خـبره وي چـې مجاهدین دې خپلې متې اوپښې په خپله ووهي

لکه چې پـه همـدې اړه داسلامی امـارت مرسـتیال محترم (خلیفه سراج الدین حقاني ) حفظه الله له لوري په یوه خپره شوي صوتي ویناکې د کابل ورسـتی خـونړی پیښي نه داچې پـه سختو او واضحوټکو کې محکـومي کـړي او د اسـلامي امـارت هـرډول دخـل اولاس پکې رد کړي ویلي دي چې:

"د ولس په منځ کې مـوږ ډېر لـوی او اسـان اهـداف تـر لاسـه کـولی شـو آن پـر خارجي متجـاوزو بریدونـه ! خـو مـوږ تـل د ولس د نجات په هیله ترې تېر شـوي یـو او تېریږو به".

ښـاغلي حقـاني زیاتـه کـړي، لاسـپوڅی نظام زموږ او ولس تر مـنځ بېلتـون غـواړي،

**دوئ غواړي چې هغه وحشتونه چې په خپله دسي آی اې دپروژولـه خـواترسره کيږي پرموږوتپي موږ د ملت شکر ګذاره يو او د دوئ قربانئ (چې په دې لاره کې يې ورکړلې ) نه هيروو.**

لـه بـل لـوري دزنبـق لـه چـاودنې دوه ورځـې ورسته چې دکابل پـه ښارکوم خـونړي لاريونونـه تـرسره شول اوبيا يې پـه سبا دکابـل پارلمـان دړومبي مرسـتيال دځوي دتدفين په مراسموکې کومي مرګانی چاودني ترسره شـوي داټـول ددې حقيقـت اثبـات کـوي چـې امريکايـان اونوري حلقي له فرصت څخه په استفادي سره دځنځيـري چاودنو او پارونکو تحرکاتو په وسيله غواړي دافغانانوپـه منځ کې دنفاق اوتشطت اوورونه بل ،تاوده اونـور شـغل ورکړي.

امريکايـانو چـې دمجاهدينوپـه وړانـدې کلکـه او تاريخي ماته خوړلي اوددړون بريدونولـه کارولوپرتـه بلـه هيڅ کومه حربه په لاس اوتـوان کې نلـري اوس يـې متـې ديتـه رابـډ وهـلي چـې پـه څـه ډول لـه عـام ولـس اوبـې وزلوپرګنوڅخه غچ اوانتقام واخـلي اوضـمنادواحدافغان ولس ترمنځ دلساني، سمتي اوقومي تربګنيو په ايجـادولو سره هرقوم دبل قوم لپاره دښمن اوغليم معرفي کړي

دافغانســـتان اســـلامي امـــارت دټولونــــاخوالو، ناورينونو او بدبختيو موراوسرچينه امريکـا اوروان نـاولي اشغال بـولي ، امريکـايي حضـور کـه لنډمهالی وي اوکـه اوږدمهــالی ،عســکر يـې کـه لـږ وي يـاډير زر داټــول دافغانستان اوسيمي لپاره زهرقاتل اوله تبـاهيو پرتـه بـل هيڅ کوم ارمغان نلري.

اسلامي امارت په افغانستان کې دسـولي ، روغـي ، امـن اوسـوکالي پـه وړانـدې سـترخنډاوځرګند دښـمن امريکايي اشغال اودهغوئ ناولی حضوربولي

اسلامي امارت په دي ټکي هم باور لـري چـې دکابـل دحلقـه بګـوش رژيـم لـه دارودسـتی پرتـه چـې خپـل ژونداوبقا دخارجي لښکرو په شتون اووحشـت کـې ويـني اوپه امريکايي ډالرو تغذيه اوساه اخلي نورعام اومتـدين ولس په يوغږ غواړي چې امريکـايي قـاتلي لښـکري دی لـه ګران ټاټوبي افغانستان څخه ووځي، ځکـه امريکايـان پـه خپل اشغال سره دسيمي په کچه خپلې سـتراتيژيکي ګټـې لټوي، دافغانسـتان اوافغانـانو خيراوسـوکالي نـه غـواړي اونه هم ددې لپاره راغلي چې دافغانستان لـوړو سيـاسي اوهراړخيزومصالحوڅخه دفاع اوحمايه وکړي نوترڅـوچې په افغانستان دمرګونـو سلسله تونـده روانـه اودبـارودو لوخړي پراخي وي امريکايان پکي ګټې ويني .

ښه به داوي چې افغانان دخـارجي اشـغال دخـاتمي لپاره يوبل ته لاسونه ورکړي دخارجي يرغل په مقابـل کـې داسلامي امارت عزم تقويه کړی اونورامريکايانو ته موقـع ورنکړي چې افغانستان دخپلو نړيوالو اوسـيمه ييـزو ګټـو دترلاسه کولو لپاره دجنګ ميدان جـوړکړي اوافغانـان يـې مذيد قرباني وګرزي.

# چې حکومتي منصب او ډالر نه وي ؟!!

د عابد لیکنه

بیابه نو هغه څه کوي چې په لومړي سرکې یې هم دوی ته د کولو جواز و اودهرجنایت، غارت، قتل او بشري حقوقو په ښکاره سرغړونو هم له ټولو مجازاتو مستثنا وو، که قانون ته وفاداري اودهیواد ګټو ته ژمنتیا وه، دا هلته چې حکومتي منصب اوداشغال دسپوټ ډالریې په برخه وو، اوس چې له صحنې وپستل کیږي او داشغال په ټینګښت کې یې سرښندنې له یامه لویږي! همدا به کوي سرکونوته به راوزي، خېمې به دروي اوپه ډېره بې پروایۍ به له ټولو قوانینو پښې اړوي، څکه له دوی سره دانه وو ویل شوي، چې بیابه حکومت! نظام! او قانون! ته وفاښکاروئ، بلکې دیرغل دغه بګیلان له لومړي سره شاتوري اوسرېله راپرېښودل شوي، دولس په لوټلو سرېږه دحکومتي چوکیو دوی ته ویل شوي وو .

په غربي خلاتونو او اشغالي ډالرو دا روږدي به هلته کراریږي چې خولې یې تل ډکې ور وساتل شي اوپه دې ډول یې له شره ځان وساتي، څکه نو ټرمپ مجبور دی دوی اکمال کړي اوهره خواسته یې منظور شي، کنه نور نه وي، غنیګی به یې په کابل کې په کرار ورته پرېښږدي .

خو اوس چې ټرمپ اواداره یې پخپله ترنیوکولاندې دي چې ترڅو به ددغه فاسد حکومت ملاتړ کوي اوترکومه به ددوی په سوونو ملیارده ډالر دمجهول سرنوشت په لوري په دې هیوادکې ورک کیږي ؟!؟ دلته نو د دوی سرنوشت بیا ترسوال لاندې راځي اومسیر یې دمجهول منزل په لوري ښکاري ولې چې دغو نیوکو او پوښتنو ټرمپ هم په "څلوروکې" حیران کړی او تراوسه لانه دی توانیدلی چې دافغانستان په اړه دخپل حکومت تګلاره اعلان کړي .

داهیواد اوداشغال بریځي هیڅ اشغالګر نه دي ماړه کړي اونه ترپایه له دوی سره پاته شوي، دغو لګښتونو اوتمویل دوخت شوروي دپولي ټک ته کېناوه او مجبورشو چې په پای کې خپله بې وسي وښيي او دې هیواد ته په دوه لاسه سلامي خپله ماته ومني ، ټرمپ او اداره به یې هم همدا حقیقت مني او دزهرو ددغه غړپ په کولو سره به له دې جنجاله خلاصون مومي .

دلته ده چې دکابل دا اشوبګر یې له مایوسۍ سره مخ کړي او اوس یې نورو دروازوته مخه کړې، وایي چې دلنډغرو هغه سرخېلان چې له حکومتي منصبونو لري شوي په کابل کې دنورو غرضي هیوادونو سفارتونو په مټ دغه غورځې پرځې ترسره کوي او اوس غواړي دغلامۍ یوه بله کړۍ په غاړه کې واچوي او د تېرو خوندونو شخوند په یوه بل آخوره ووهي .

لیکنه: قاري سعید

# د شهید مولوي محمد سرور حق پرست ژوند او کارنامو ته کتنه

د اسلام تاریخ د حق د پیروانو له زړه وړونکو خاطراتو او یادونو څخه مالامال دی.اسلامي امت د تاریخ په هره مرحله کې داسې زلمیان په خپله غیږ کې روزلي چې د خپل دین او معتقداتو لپاره له هر څه تیر شوي. خپل د ځوانۍ عمر،دنیوي هیلې او امیدونه،عیشونه او عشرتونه، خپلوان او پلرنی وطن او ټول هغه څه چې په دنیا کې زړه پورې ترا و مومي دا ټول څه یې یوازې د رب تعالی د رضا موندلو او سپیڅلي دیني ارمان لپاره قربان کړي او په همدې لاره کې یې د د غربت او پردیسۍ په عالم کې د شهادت جامونه غړپ کړي دي.

که موږ د اسلامي نړۍ په ساره او اوږده کې،له ترکستان او کابل څخه ، بیا تر اندلس او قسطنطنیې پورې د صحابه کرامو مقابر وینو او د هغوی د هدیرو شاهدان یو،نو دا حقیقت په لاس راکوي چې د اسلام لومړنیو سپاهیانو د دین او قرآن د خدمت په لاره کې خپل وطن، کورنۍ او قربیان په ډېره اسانۍ هیرولای شوای او په لرې وطنونو او ناپیژندویه ماحول کې یې ددین لپاره د غربت او گمنامۍ مرگ د ځان لپاره افتخار باله.

په راوروسته پیړیو کې هم د اسلامي امت له منځه همداسې ځوانان راپیدا شوي چې ددین د خدمت او جهادي ارمان لپاره یې خپل هر څه هیر کړي او له خپل کور څخه په لرې سیمو کې یې د گمنامۍ شهادتونه نصیب شوي دي. د هند ستر مجاهد سید احمد شهید او ملگري یې ددې سلسلې هغه ویاړمن مجاهدین دي چې ددین دخدمت او جهاد په نیت یې له خپل اصلي وطن د هند له بریلي څخه هجرت وکړ، د سند، بلوچستان، کابل او پیښور په سیمو را وگرځیدل او په پای کې یې د بالاکوټ په غرونو کې له سیکانو سره دمخامخ جنگ په نتیجه کې دشهادت جامونه نوش کړل.

په افغانستان کې د روس ضد جهاد په مهال د عربي نړۍ راغلي مجاهدین چې تورخم ته نږدې د شمشاد سره یې د شهیدانو ستره هدیره ده د همداسې یوې بلې بیلگې حکایت کوي. د اسلامي امارت دواکمنۍ په مهال د افغانستان زیاتره ولایتونه د اسلامي امارت تر واک لاندې راغلل خو په شمال ختیځ کې د بدخشان او تخار ولایاتو ډیرې برخې لا هم د مخالفینو په ولکه کې پاته وې. مگر په همدې مرحله کې د بدخشان او تخار ولایاتو مجاهدو طالبانو او گڼ شمیر علماء کرامو یو ځل بیا د اسلامي تاریخ همداسې ویاړمنه کارنامه راتانده کړه. هغوی په داسې حال کې چې د اکثرو کورونه د مخالفینو تر واک لاندې سیمو کې وو. مگر دوی داسلامي نظام تر سیوري لاندې د بې کورۍ ژوند قبول کړ، په ډېر

اخلاص او متانت یې د اسلامي امارت په صف کې جهادي وظائف ترسره کړل تر دې چې د بدخشان او تخار له شهید شویو طالبانو په لوګر ولایت کې هدیره جوړه شوه. دغه راز په خوست ولایت کې د مته چینې په مدرسه په بمبار کې هم د دې ولایاتو ډیر طالبان دشهادت لوړمقام ته ورسیدل او د پردیسۍ له ژوند څخه د خپل متعال رب جل جلا له لقاء ته ورغلل.

په لاندې کرښو کې د همداسې یوه اتل سوانح درسره شریکوو، هغه چې خپل د ځوانۍ ټول عمر یې د علم او جهاد لپاره په مسافرۍ کې تیر کړ او بالاخره په همدې سفر کې د امریکایي طاغوت په بمبار کې شهادت په لوړ مقام فائز شو.

## محمد سرور حق پرست

محمد سرور حق پرست د میزراب زوی په ۱۳۵۱ هـ ش کال کې د تخار ولایت په نمک آب ولسوالۍ کې په یوه متدینه او علم دوسته کورنۍ کې دنیا ته راغی.نوموړی لا ماشوم و چې په افغانستان کې کمونیستان واک ته ورسیدل، ورپسې شورویانو په هیواد یرغل وکړ او په مقابل کې یې د افغانستان په ټولو ولایاتو کې مسلح جهاد پیل شو.

خو د جهاد او اسلامي انقلاب په تاوجنو کلونو کې د حالاتو د سختۍ سره سره محمد سرور د دیني علوم د تعلم لار ونیوه.لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي کې له مدرس عالم مولوي عبدالرشید څخه حاصلې کړې،وروسته بنګي ولسوالۍ ته لاړ او هلته یې له مولوي ضیاء الرحمن مدني صاحب څخه دیني علوم ولوستل.وروسته فرخار ولسوالۍ ته لاړ او دنهرآب په سیمه کې یې له مولوي عبدالحلیم څخه ځینې کتابونه ولوستل.

## د علم په لټه اوږد سفر

د هیواد شمال ختیځه حوزه له پخوا څخه د علم او فرهنګ سیمه بلل کیږي او اوسیدونکي یې د علم د حصول ځانګړې مینه لري. د روس ضد جهاد په مهال چې په دې ولایاتو کې هم سخت جنګونه روان وو د بدخشان او تخار ولایاتو طالبانو به ډیر اوږده مزلونه وهل او د هندوکش له اسمانڅکو غرونو څخه په اوښتو به یې ځانونه د پاکستان خیبر پښتونخوا، کراچۍ او نورو سیمو ته رسول تر څو هلته په دیني مدارسو کې دیني علوم حاصل کړي.دغه طالبان به زیاتره تر هغه وخته بیا کور ته نه تلل تر څو به یې چې د فراغت پګړۍ نه وه تړلې.

مولوي محمد سرور حق پرست هم د علم په مینه د همدې مزل وهونکو طالبانو له جملې و، نوموړی په ۱۳۶۴ هجري شمسي کال کې د علم په حصول پسې پاکستان ته لاړ. لومړی د خیبر پښتونخوا په دیر سیمه کې میشت شو او هلته یې یو ځل بیا له مولوي ضیاء الرحمن مدني صاحب څخه کتابونه شروع کړل. وروسته د مینګورې سیمې ته لاړ او له شیخ زکریا صاحب،شیخ عبدالشکور او مولوي عبدالخالق نه یې کتابونه ولوستل.

مولوي حق پرست صاحب تکمیلیه درجه په دارالعلوم سیدو شریف کې ولوسته او دوره حدیث یې هم هماغته مکمله کړه او د فضیلت دستار یې پرسر کړ. نوموړی یو له تکړه او با استعداده طالبانو څخه و چې له تعلم سره سره یې تدریس هم کاوو او نورو طالبانو ته یې مختلف کتابونه تدریسول.

## په اسلامي امارت کې خدمت

شهيد مولوي محمد سرور حق پرست د تخار ولايت په سطحه يو له تکړه عالمانو او د جهاد او اسلامي نهضت له مخکښانو څخه و. کله چې د طالبانو اسلامي تحريک قيام وکړ نوموړی د ډېرو نورو ملګرو سره يوځای له دې تحريک سره وصل شو او بيا يې په مختلفو برخو کې ملکي او نظامي خدمتونه سرته ورسول.

شهيد حق پرست په جهادي خطوطو کې په نظامي وظائفو سربيره د پروان او لوګر ولايت د مرستيال په حيث هم ډېره موده وظيفه ترسره کړه.

کله چې مولوي ضياء الرحمن مدني صاحب د پروان والي و حق پرست صاحب ورسره د مرستيال په حيث خدمت کاوه. په دې شپږ مياشتنۍ موده کې چې په پروان ولايت کې به سخت جنګونه روان و او مخالفينو به هميشه تعرضونه کول  شهيد حق پرست په ډېره ميړانه خپله وظيفه انجام کړه.

وروسته نوموړی ډېره موده د لوګر ولايت مرستيال و او ورسره يې په نظامي برخه کې هم خدمتونه سرته رسول.

## شهادت:

په افغانستان د امريکايي صليبي يرغلګرو له حملې څو اونۍ وروسته چې مجاهدين له کابل او نورو ښارونو څخه دوتلو په حال کې وو،يو زيات شمير عرب او نور داخلي مجاهدين د خوست ولايت پر خوا لاړ،په دې وخت کې چې امريکايي الوتکو پرلپسې په هوا کې پروازونه کول او مجاهدين يې ښکارول،ګڼ شمير مجاهدين د خوست ښار لويديځ ته د متا چيني نور القرآن مدرسه د شپې تيرولو لپاره غوره کړه.

مولوي محمد سرور حق پرست هم د همدې طالبانو له جملې څخه وو، دوی چې د رمضان المبارک په لومړۍ شپه د نورالقرآن مدرسې په جامع مسجد کې د قران کريم د ختم په تراويحو ولاړ وو، ناڅاپه وربانديې امريکايي الوتکو بمبار وکړ او لسګونه رب تعالی ته په سجده مؤمنين او مجاهدين يې په شهادت ورسول.

شهيدمولوي محمد سرور حق پرست هم د همدې بختورو له جملې څخه و، چې په هغو سختو شيبوکې يې دعبادت په مهال او د رمضان المبارک په مياشت کې د امريکايي ظالم طاغوت په بمبار کې مظلومانه شهادت په برخه شو. انا لله و انا اليه راجعون.

په دې ډول هغه نوراني زلمی چې دحق په تلاش او د اسلامي نظام د قيام په ارمان يې خپل کلی او کور پرېښی او د ګمنامۍ په عالم کې د شهادت له سعادت څخه برخمن او د ګڼو نورو مسافرو شهيدانو سره په يوه هديره کې دفن کړای شو.

د شهيد حق پرست د صورت او سيرت به اړه دده نږدې ملګري وايي: نوموړي شهيد ته الله تعالی دسيرت او صورت ښکلا ور پيرزو کړې وه،جذابه او نوراني څېره يې درلوده.ښايسته اخلاق يې له سترو امتيازاتو څخه و.له کبر، غرور، تندخويي او تندګويي څخه پاک و.

له ملګرو سره په صميمانه چلند مشهور واو د هيچاپه وړاندې يې رکيک او نا مناسب الفاظ نه استعمالول.

رحمه الله تعالی

# سقوط جهان عرب در کام امریکا

فرید احمد یوسفزی

بعد از سفر دونالد ترمپ رئیس جمهور امریکا به عربستان سعودی که از سوی اراکین بلند پایه این کشور مورد استقبال قرار گرفت و حتی به پایکوبی و اتن خاصی مردم عرب شخص رئیس جمهور و هیأت همراهش بدرقه شد. در پایان این سفر میان سعودی و امریکا به مبلغ ۱۱۰ ملیارد دالر امریکایی قراردادی فروش اسلحه صورت گرفت و بعد از سپری شدن چند هفته روابط میان عربستان سعودی و قطر به وخامت گرایید که در نتیجه منجر به قطع روابط دیپلوماتیك، اقتصادی و عدم استفاده از اقلیم یکدیگر شد، مسئله ایکه بلاشك جزء پس لرزه های این سفر است.

عربستان سعودی و دیگر هم پیمانانش ادعا دارند که قطر از افراط گرایی و تروریزم در منطقه حمایت میکند و باید ازین کار خود دست بردار شود؛ اما امروز امریکا با همین کشور به اصطلاح حمایت گر افراط گرایی و تروریزم قرار دادی را به مبلغ ۱۲ میلیارد دالر امریکایی جهت خرید ۳۶ فروند طیاره جیت نوع F15 را به امضا رسانید. اگر قطر از افراط گرایی در منطقه و جهان حمایت میکند پس چرا امریکا بالای این کشور اسلحه را به فروش میرساند؟ اگر اتهام وارده ازسوی کشور عربستان سعودی و دیگر هم پیمانانش واقعیت باشد چه تضمینی وجود دارد که این اسلحه به دسترس گروهای افراطی قرار نمی گیرد؟ به نظر من این همه دامی است برای کشورهای جهان عرب که در نتیجه منجر به عواقب ناگوار در منطقه و جهان خواهد شد.

من چندی قبل یك گزارش سالانه جهانی را خواندم که امریکا و روسیه در سال ۲۰۱۶ از جمله کشورهای صادر کننده اسلحه است که روسیه مقام اول و امریکا مقام دوم را دارد و وارد کنندگان آن هند، چین، عربستان سعودی و پاکستان میباشند؛ اما به نظر من در سال روان امریکا مقام اول را کسب خواهد کرد چون در طی نیمه اول سال جاری به مبلغ بیشتر از سه صد ملیارد دالر اسلحه را تنها بالای کشورهای عربی به فروش سانیده است.

رئیس جمهوری امریکا یك شخص تجارت پیشه است و در زمان مبارزات انتخاباتی خود به ملت امریکا وعده سپرد که اقتصاد امریکا را از حالت رکود به حالت رشد سوق خواهد داد که این وعده را روز تا روز به حقیقت مبدل میسازد و همچنان گفته میشود که برای وی پول از هرچیزی دیگر ارزش بیشتر دارد. وی با دیپلوماسی و سیاست های استعمار گرانه امریکا کاری ندارد؛ لیکن از خط قرمز امریکا عبور کرده هم نمیتواند چون پنتاگون نقش بنیادی را در سیاست خارجی بازی میکند و همچنان وی نمی خواهد که از پول ملت امریکا کشورهای دیگری سودی ببرند.

رئیس جمهور دونالد ترمپ در زمان مبارزات انتخاباتی و بعد از آن گفته بود دیگر نمیخواهد که

امنیت اروپا را به خون و پول ملت خود تأمین کند که واقعیات اخر در کشورهای اروپای گواه این حقیقت است. موصوف همچنان افزود که در آینده در مورد حمایت مالی از پیمان انتلانیك شمالی (ناتو) تجدید نظر خواهد کرد. که دیگر اعضای این پیمان در حالت شوکه قرار گرفتند و در صحبت با رسانه ها میگفتند که باید امریکا ازین پیمان دست بردار نگردد.

گفته میشود که شخص خود رئیس جمهور دونالد ترمپ در امریکا یك فابریکه اسلحه سازی دارد و میخواهد با استفاده از مقام و منزلت که امریکا در جهان دارد برای فروش اسلحه تولیدی کارخانه جات امریکا به سطح جهانی بازاریابی کند و ازین طریق میخواهد که حالت رکودی اقتصاد امریکا را به حالت رشد مبدل بسازد.

امروز امریکا این را ثابت کرد؛ زیرا از یك سو کشورها جهان به خصوص کشور های عربی را حامیان تروریزم و افراط گرایی خطاب میکند و از سوی دیگر بالای شان اسلحه خود را به فروش میرساند که این خود بیانگر بازی دوگانه در جهان است.

امریکا تلاش دارد که از یك طرف بالای کشورهای جهان اسلحه تولیدی خود را به فروش برساند و بنیه اقتصادی خود را تقویت بخشد و از سوی دیگر کشورهای جهان به خصوص کشورهای عربی را در میان خود شان در گیر تقابل و جنگ بسازند تا بتواند اهداف را که در کشورهای عربی دنبال میکند به سهولت بر آورده کند.

کشورهای عربی در حال حاضر از بنیه اقتصادی خوبی برخودارد هستند؛ مگر این اقتصاد به نظر من موقتی است بدلیل این که اقتصاد این کشورها بر بنیاد نفت و تیل استوار است. اگر نفت و تیل نباشد این کشورها از جمله کشورهای فقیر جهان به شمار خواهند رفت و این را باید کشورهای جهان عرب بدانند که تمام عمر نفت در سرزمین شان باقی نخواهند ماند. یك استاد جامعه شناس که در امریکا مصروف تدریس است میگوید، طی تحقیقات که ما در سرزمین جهان عرب و کشورهای آسیای میانه انجام دادیم بیانگر اینست که در جهان عرب مواد نفتی رو به کاهش است چون کشورهای عربی هر کدام به صورت جداگانه تلاش دارند که صادرات بیشتری را سالیانه داشته باشند و معیاری معین برای صادرات نفت در جهان عرب وجود ندارد وی همچنان افزود که در کشورهای آسیای میانه مواد نفتی دست نخورده است و در آیند مورد توجه بیشتر امریکا قرار دارد و تلاش را به خرچ میدهند که بالای این کشورها تسلط پیدا کند که این بازی جریان دارد.

تضیعف و تقسیم کشورهای اسلامی و پر قدرت منطقه و مصروف کردن این کشورها به جنگ و مداخلات و گروهای افراط گرایی هدفی است که امریکا دنبال میکند.

نفت مشکلی است که آینده امریکا ومتحدانش را به خطر مواجه ساخته است، امریکا پیش از داخل شدن به شرق میانه پیش بینی نموده بود که تا ده سال دیگر نمی تواند نفت امریکا را تامین کند، جز اینکه راه حلی بسنجد و راه حل اینکه ساخت گروه های تروریستی و نا امن کردن کشورهای عربی و نفت دار بود.

اگر کشورهای عربی از هوشیاری و دیپلوماسی فعال کار نگیرند حالت در منطقه دیگرگون خواهد شد و کشورهای فرصت طلب و حامیان تروریزم منفعت بیشتری را خواهند برد.

کشور های جهان عرب اگر در تقابل میان خود واقع شوند و حالت به همین منوال ادامه یابد به صراحت گفته میتوانیم که این عمل باعث حفظ و بقای اسرائیل در جهان عرب میگردد و زمانی فرا خواهد رسید که اسرائیل بالای تمامی جهان عرب پادشاهی خواهد کرد، در آن زمان مهار کردن اسرائیل نا ممکن خواهد بود.

***

# د شیعه-سُني جنګولو لومه!

**ذاکر جلالي**

د تېرې شپې برید په اړه...

سر له ټولو بدمرغیو چې زموږ وطنوال یې لري، موږ په سیمه کې ځانګړی ملت یو چې په تېرو دربوو لسیزو کې د جګړې په اور سوځو؛ خو تر اوسه مو مذهبي جګړه نه ده کړې. افغانستان ثابته کړې چې ټولې اسلامي نړۍ ته د شیعه او سُني ترمنځ د سوله‌ییز ژوند مثال کېدای شي. نوره اسلامي نړۍ له افغانستان او افغان مسلمانانو دا زده کولی شي چې څنګه شیعه او سُني ګډ او سوله‌ییز ژوند وکړي.

موږ ډېر داسې مشترکات لرو چې د شیعه-سُني جګړه نفې کوي. ځینې داسې صحنې دي، چې راتلونکی لپاره هم زموږ سُنیانو او شیعه‌ګانو ته په کې درسونه نغښتي دي. ښاغلي شهرت ننګیال په خپل شهکار اثر، "۱۲ ګرامه ماغزه" کې د تنظیمي جګړو پرمهال د مولوي صاحب جلال‌الدین حقاني د سولې هڅو یوه جالبه صحنه خوندي کړې. دا صحنه چې مې سترګو کې انځور شي، د شیعه-سُني جګړې لومه راته سر له اوسه خامه او ناکامه ښکاره شي. ښاغلی ننګیال لیکي، چې کله د مولوي صاحب حقاني د سولې ډله د حزب وحدت مشر، مرحوم عبدالعلي مزاري ته ورغلې وه، د ناستې پر مهال د ماسپښین او مازیګر د لمنځونو وخت راغی. ننګیال لیکي "د ماسپښین لمانځه وخت شو، د ځینو سترګو کې پوښتنې ګرځېدې، چې بې‌ځوابه پاتې شوې، ځادرونه وغوړېدل، صفونه ودرېدل، ښاغلي مزاري حقاني صاحب ته د امامت وویل، شاعر ملایي وړاندې کړ، ځوک لاس په نامه، د چا ځړېدلي، ټول یو صف، یوه لیکه.«

له لمانځه وروسته د سولې خبرې کېږي، وروسته بیا لیکي: «د ژمي مازیګر خورا لنډ را رسېږي... یو ځل بیا د لمانځه تابیا ونیول شوه، ځادر وغوړېدل، صفونه ودرېدل، حقاني صاحب ځنګ ته ولاړ یو شیعه ملا وړاندې کړ...». کله چې د سولې او مشترک راتلونکي لپاره د حقاني صاحب په ځېر ملا شیعه پسې د لمانځه اقتدا کوي او مرحوم مزاري سُني ملا پسې لمونځ ته تیارېږي، او هغه هم په هغو ترینګلو شرایطو کې... دا لومه اوس هم ناکامه بویه چې دښمنان دې افغانستان د شیعه او سُني په نومونو وجنګوي.

وروستي بریدونه ښیي چې د روانې سناریو لوبغاړي غواړي اوس موږ په دې جګړه اخته کړي، له څه مودې راهیسې چې له مبهمو ادرسونو پر شیعه وطنوالو بریدونه کېږي، دا له ورایه ښیي چې د دې دسیسې د عملي کېدو هڅې کېږي. سره له دې چې دسیسې له څو کلونو مخکې ډیزاین شوې دي؛ خو تر اوسه یې هغه نتیجه نه ده ورکړې، چې ډیزاینوونکي یې هیله لري. په ۲۰۱۰ کال کې پر ابوالفضل زیارت برید ډېر خونړی و؛ خو د دې پر ځای چې موږ وویشي، لا یې په لیکه کې ودرولو.

شیعه‌ګان په افغانستان کې یو حقیقت دي، زموږ د وطن خلک دي، کلونه مو ګډ ژوند کړی، زموږ او د دوی ګټې و زیان او په ټوله کې سرنوشت مشترک دی. له څه مودې چې د شیعه او سُني د جنګولو ګواښ جدي احساسوم، د یوه سُني په توګه پر شیعه وطنوالو بریدونه مې تر هغو ډېر دردوي او اندېښمنوي چې پر سُنیانو کېږي. پر شیعه‌ګانو بریدونه ځکه د ډېرې اندېښنې وړ دي، چې تنظیمونکي یې غواړي سبا زموږ خلک د شیعه او سُني په نومونو وجنګوي او دوی له دې خونړۍ لوبې خپلې ګټې وپالي.

د تېرې شپې شهداوو ته جنتونه، ټپیانو ته عاجله شفا!

## کلوړینې پاڼې

# بادشاهي

عقابي جانان

ملنګه طالب جانه ملنګي دې بادشاهي ده
ساده خېر پړلباس اوسادګي دې بادشاهي ده

ملکې غوړوي درته په څمکه وزرونه
د دین اسلام طالبه طالبي دې بادشاهي ده

د یو الله بنده یې نور له هر چایې بېزاره
دخپل رب عبادت اوبندګي دې بادشاهي ده

له ټول کفري یاغي جهان دې کړی بغاوت دی
فقط شرعي نظام ته سرټيټي دې بادشاهي ده

هرڅو که ځنځیرو کې یې تړلی خو ازاد یې
زندان او زولنو کې زندګي دې بادشاهي ده

اتل د زمانې یې ننګیالی او قهرمان یې
په دین وطن مدام دا قرباني دې بادشاهي ده

دې خپل غیور ولس یې ته په سرسترګومنلی
په زړونو یې کوې حکمراني دې بادشاهي ده

# غزل

شاعر سمیع الله «ترون»

ربه ومې بښه حال مې رابدل کا
دخزان خزان وجود غوټۍ مې ګل کا

چې وتاته په یوه قدم در رسي
ما د داسې لیونیو خلکو خپل کا

یو مې ژبه کې د حق طاقت پیدا کا
بل مې زړه کې ستا دمینې چراغ بل کا

زه او غټ دښمن بري پسې روان یو
دښمن شل کا زما نولس ګامه شل کا

چې مغروري ککرۍ شي ورته ټيټې
ما دداسې بختورې پګړۍ ول کا

ما دښار له کوڅه ډبو سپو نه بیل کا
له زمرو سره داخل مې په ځنګل کا

په دې ګردو همزولانو کې اول وم
اوس اخر یم ربه بیرته مې اول کا

ما د حق د ترانو اول نومره کا
د باطلو سرېندو ته مې تمبل کا

چې بل اور کې د وربل تارونه شماري
د وربل په لارویو دې اور بل کا

د بګرام د غرور ټنده بیا تازه کا
او کابل د میړنو خلکو کابل کا

خوار ترون په شاعرانو کې حساب کا
او غزل یې د غزل په څیر غزل کا

# عزم

حافظ مستغفر عنصري

ځمه دلمر لوني وکورته مېلمنې راولم
تياره کونجانو دجونګړي ته وړانګې راولم

يو څو تسبيح او يو قلم څو کاغذونه مي را
نور مسافر له شوګيرو شومه غرمې راولم

مازيګر لاړی سپېدې نشته سهار وځنډېدی
توري ماني دسپين فراق ته زلزلې راولم

ماله سرو سره وعدې دي د پګړيو کړي
په لوړ همت يې درنا شخي شملې راولم

له تنکي زړه نه مي دصبر بخۍ وسپځېدې
نور دتکل پر نيلي سپور شوم پنجرې راولم

تومبم غزلي پکښې چوم دغرض تناکي
دمستغفر قلم يم څولې ته غلبلې راولم

"د نيکمرغۍ لاسته راوړلو لپاره بايد نيک اخلاق پياوړي او د بدو اخلاقو سره مبارزه وکړو، حکومت د يو فرد په شان دی او دنده يې د اخلاقي فضايلو په دايره کې د افرادو روزل دی، د کس له نيکمرغۍ څخه د ټولنې نيکمرغي په څو ځله غوره ده".

افلاطون

# مور

عزيز الله حسيني

کمه راته نده له جنت غيره
خدای راته راکړې درحمت غيره

سل ځله دي موري صدقه شمه
يې زمادميني محبت غيره

ځکه په خپل ځان باندې داده يمه
اوس پوري لرم ستادنعمت غيره

ده مي مدرسه او روزنتون موري
ستاپاکه سپيځلې دعفت غيره

رب دې له رنځوري ورځې وساته
تل دي درسره وي دصحت غيره

تاته په کتوکي جنتونه دي
يې درحمتو اومغفرت غيره

موري پښې تندی دي ښکولومه نن
نن خوراته پرانيزه سنت غيره

شکرله نعمت نه يې محروم نه يم
شکرده لرم يې دخدمت غيره

موري موري زړه دعزيزتل وايي
خدای راته راکړې دعزت غيره

# سعودي ته د ټرمپ سفر

## او د مستقبل په اړه ناکاره ارادې

حسن مومند

په امریکا کې د هرو ترسره شویو ولسمشریزو انتخاباتو په نتیجه کې سپینې ماڼۍ ته د نوي ولسمشر دراتلونه پس دهغه دلومړي بهرني سفر په هکله ښه مشورې کېږي او دښو ډېرو مشورو نه پس دهغه هېواد انتخاب کېږي چې دی ورته لومړی سفر کوي نو ځکه دا لومړی سفر تر ډېره حده مهم ګڼل کېږي ؛ د ډېروخلکو توجوځان ته را اړوي اوپرې په امریکا کې دننه اوله امریکا بېرون زیاتې تبصرې هم کېږي .

په سپینې ماڼۍ کې د۱۲۰ ورځو تېرولونه پس دامریکا دنوي ولسمشر ډونلډ ټرمپ د ړومبي بهرني سفرلپاره دسعودي عربستان انتخاب وشو او دده سفر ته دښه زیات اهمیت ورکولو د سعودي په پلازمېنې ریاض کې یو مهم کانفرانس جوړ کړ چې ورته یې د۵۵ اسلامي هېوادونو مشران اومندوبین راټول اوټرمپ ته یې دهغه دګومان نه هم پورته داورېدونکو لوی ټولی حاضر کړ.

د اسلامي هیوادو مشرانو ته د وینا په ترڅ کې ټرمپ داسلامي نړۍ په اړه خپله [illegible] پالیسي روښانه کړه [illegible] تروریزم پر ضد داسلامي نړۍ [illegible] مسئولیت دمسلمانانو پر [illegible] داسلامي نړۍ [illegible] پالیسي

داچې دایران داتومي پروګرام په اړه دایران اوامریکا تر منځ دتړون رامنځته کېدو له امله دسعودي عربستان او امریکا روابط ډېرې ټیټې سطحې ته راښکته شوي و نو دټرمپ دړومبي سفر لپاره دسعودي په انتخاب نړۍ حیرانه وه .

دسعودي عربستان په پلازمېنې کې جوړه شوې داغونډه چې ,, دامریکا اوعرب مشرانوکانفرانس ،، نوم ورکړل شوی و کوربه توب یې دسعودي باچا سلمان کولو اومشر میلمه یې دامریکا ولسمشر ټرمپ و اود ده وینا ته پکې دومره اهمیت ورکړل شولکه چې کانفرانس دهمده دوینا لپاره جوړشوی وي ؛ ټرمپ دخپلې وینا په ترڅ کې وویل : اسلامي نړۍ ته دلکچر ورکولولپاره نه یم راغلی بلکې د دوئ په مرستې دتروریزم دله منځه وړلو اوپه نړۍ کې دامن راتللو امېد لرم ؛ هغه زیاته کړه چې اسلامي نړۍ باید په امریکا انحصار ونکړي بلکې دتروریزم دله منځه وړلو لپاره باید پخپله راپورته شي .

په خپلې وینا کې ټرمپ پر ایران داسې سخت انتقادونه وکړل لکه چې دکانفرانس یواځنی هدف د ایران تجرید او د ایران پرضد د عربي نړۍ راټولول اوسخت کول [illegible] په منځنی ختیځ کې د بدامنۍ ټوله پړه

دایران ورواچوله ، مغه زیاته کړه چې تهران دتروریزم ملاتړکوي ، په سیمه کې د تروریزم دخپرېدابراخلې لامل ایران دی اود ایران پرملاتړ بشارالاسد خپل خلک وژلي ایران چې ترڅو مرستې ته له وې زمن شوی ټول هیوادونه ذې پی دخپرېد لپاره قدموله پورته کړي

ټرمـــپ دســـعودي سره د۱۱۰ملیاردوپــــه انـــدازه دوسلوټرون لاسلیک کړ او دسعودي ولي عهد محمـد بـن سلمان وویل چې د۲۵۰ ملیاردو په ارزښت به پـه راتلونکـو ۳ کلونـوکې نـورې وسـلې او دفـاعي الات هـم لـه امریکـا وپېري.

داچـې داد ټرمـپ ړومبـی سـفر و نـو ډېـر مهـم و خودشنونکو په اند يې اهمیت لـه دې املـه نـور هـم زیـات شوچې دلته ټرمپ دمنځني ختیځ پـه اړه دامریکـا تګلاره روښانه کړه .

هغه داخبره واضحه کړه چې امریکا منځنی ختیځ نـه پرېږدي اودلته په هرې مهمې پرېکړې کې دامریکـا ونـډه حتمي ده .

ټرمـپ خپلوعربواتحادیـانو تـه دا خبره روښانه کـړه چې امریکـا ددوئ سره ځنـګ پـه ځنـګ ولاړه ده اوګـواکې مشترکومنافعو او پروګرامونوته جامع پلان په نظر کې نیول شویدی .

هغـه لکـه دیوسـترهېواد دولسمشرنـه بلکـې لکـه دیوسوداګر اوکاروباري شخص په ځېر دشراکـت کـړنلاره تکرار کړه خو ترڅنګ يـې دا هـم وویـل چـې دتروریـزم پـر ضد جنګ کې باید اسلامي نړۍ عملي ګامونه پورتـه کـړي او پدې اړه دامریکا انتظار ونکړي .

د امریکا دهمدې کړنلارې دعملي کولو په موخه هغه دسعودي سره د ۱۱۰ملیاردو ډالرو په ارزښت دفـاعي اونـور تړونونه وکړل چې له مخې بـه يـې سـعودي تـه نـوې وسـلې اوعصري ټیکنالوجي ورکړل شي.

داپه داسې حال کې ده چې دامریکا پخواني ولسمشر-بارک اوباما ویل چې منځنی ختیځ دامریکا لپاره نوره مهمـه سیمه نده ؛ نور ددې سیمې سره دامریکا ګټې ندي تړلې .

اوباماداسـې ښـکاره کولـه چـې د خپلـې واکمنـۍ پـه وروستي کـال کـې دا کـړنلاره عمـلي کـوي خوهغـه يـې پـه عمـلي کولـو ونـه توانېـد اوکلـه چـې دهغـه د واک مـوده ختمېدله نو دعراق په موصل کې امریکايي فوځیان دعراقي فوځیانو سره اوږه په اوږه دمجاهدینو پر ضد جنګېدل .

اوبامـا دخپـل واک پـه دوهمـې دورې کـې دایـران داتومي پروګرام په اړه نرمي ښکاره کړه ؛ هغه دا منلـې وه چې ایران دمنځني ختیځ دستونزو دحل مهمه برخه ده اوپه سـعودي اوځنـي نـوروخلیجي هېوادونـو دامریکـا لـه لـورې داتور لګول شوی وچې په منځني ختیځ کې يې دبـدامنۍ اور ته لمن وهلی .

خـوعربي نـړۍ اوخصوصـاً سـعودي تـه دخپـل قـرب ښـکاره کولوپـه موخـه ټرمـپ ایـران دمنځنـي ختـیځ اصـل ستونزه وبلله .

داوباما نـه وړانـدې دبش کـړنلاره هـم دایـران پـه اړه دومره سخته نه ښکارېده لکـه ټرمـپ چـې کومـه کـړنلاره غوره کړېده .

دامریکا پخواني ولسمشر جـارج ډبلیـو بـش پـه عـراق کـې دخطرنـاکو وسلوشـتون پلمـه کـړ اوپرعـراق يـې حملـه وکړه چې نه یواځې صدام حسین يـې لـه واک نـه لـرې کـړ

بلکې ټولې دولتي اداري يې هم تباه کړې چې فوځ يې په سر کې و ؛ امريکا خپل لاسپوڅی نوري المالکي دعراق لومړی وزير جوړکړ او دعراقي دولت پرټولومهمو پوستونو هغه شيعه ګان مسلط شول چې دهېواد دنفوس کابو يوه دريمه برخه تشکيلوي اوسنيان چې دهېواد ٦٥ سلنې نه زيات نفوس تشکيلوي بېخي محروم پاتې شول چې پدې سره په عراق کې د شيعه ګانو اوسنيانو دواک توازن پاتې نه شو اودکردانو له لورې هم دازادۍ غوښتنې تحريک سر راوچت کړ اوکله چې دلاسپوڅي دولت اواشغالګروپر ضد مجاهدين ډګرته راووتل نوترشا يې سني مسلمانان ودرېدل ؛ شيعه ګان يې مقابل لورى جوړ شو ؛د همدې ځای نه په عراق کې هغه کورنۍ جنګ پيل شو چې دا هېواد يې دسترې تباهۍ سره مخامخ کړ .

د امريکا د دې ټولو اقداماتو سره عملاً دايران مرسته او تائيد مل و او دمهدي ملېشې په شمول يې دټولوهغو شيعه ملېشو علني مرسته کوله کومې چې په عراق کې دمجاهدينوپر ضد جنګېدلې .

په عراق کې دامريکا سره ددې نا اعلان شوي اتحاد سره سره هم د ډبليو بش او داوبا ما دواکمنۍ په رومبۍ دوره کې ايران په دولتي سطحه امريکا شيطان بزرګ اودمسلمانانوستر دښمن ګڼله ، تردې چې منځلارى حسن روحاني رامخې ته کړای شو؛ همدا داوباما دواکمنۍ دوهمه دوره وه ؛ حسن روحاني داوباما دواک په همدې دوهمې دورې کې په ډېر هنر دامريکا اونور لويديځ سره دايران ديپلوماتيکې اړيکې دښه کېدو لورته بوتللى ؛ امريکا هم دايران په اړه نرمي ښکاره کړه او دايران داتومي پروګرام په اړه د دواړو هېوادونو ترمنځ تاريخي تړون رامنځته شو ؛ امريکا اونور لويديځ ته دهمدې قرب نه په استفادې ايران په نړۍ کې دخپل مقام دحاصلولوپاره کوښښونه پيل کړل چې دسيمې په سطحه پرټولوهېوادونو دبرلاسي کېدلوهڅې پکې دياداولو وړ وې چې پدې هڅوکې ايران تر ډېره حده کامياب هم و.

دايران همدې هڅو سعودي عربستان اودسعودي عرب اتحادي هېوادونه په سخت تشويش کې اچولي وو اوهمدا کار دايران او هم دامريکا سره د سعودي د ديپلوماتيکو اړيکو دخرابوالي لامل جوړ شوی و.

خو دټرمپ دراتګ سره په ښکاره خبره بيا دايران په اړه دخرابۍ پرلور ولاړه ؛ سپينې ماڼۍ ته دراتلو سره سم ټرمپ دايران داتومي پروګرام په اړه دامريکا او ايران ترمنځ رامنځته شوی تړون د تاريخ بد تړون وګڼلو ؛ دهغه دباندنيوچارو اودفاع وزيران هم دې تړون ته په همدې نظر ګوري نوځکه سعودي ته د اوسني سفر پرمهال ټرمپ دخپل ټوپک شپېلۍ دايران پر لور اړولې وه اودلته جوړ شوي کانفرانس ته راغلي داسلامي هېوادونو له مشرانو يې هم غوښتنه همدا وه چې دايران په مقابل کې دې متحد اودښمني دې يې پر ضد اعلان کړي .

په ښکاره خوخبره ډېره خطرناکه ښکاري خو دچارو دشنونکو په اند په رښتيا هم خطر دومره لوی ندی څومره چې لوی ښکاري ځکه چې ټرمپ که څه هم دايران او امريکا تر منځ رامنځته شوی تړون دتاريخ بدتړون ګڼي خوتر اوسه يې ددې تړون دلغوه کولو اويا پکې دبدلون راوستلو کومه خبره نده کړی ؛ بل داچې ددې تړون په نتيجه کې چې ايران ته د اقتصادي اسانتياو کومه برخه ورکول په پام کې نيول شوي وو په هغې کې انقطاع رانغله .

داهم دپام وړ ده چې دامريکا ستر حريفان لکه چين اوروسيه هيڅکله پدې تړون بيا کتنې ته چمتو ندي او ترټولومهمه داچې په ايران کې دحسن روحاني په څېر

دمنځلاري ولسمشر بيا انتخابېدل دايرانيانو له لورې لويديځ اوپه ځانګړي ډول امريکاته دنېږدېکت او ورسره دښو روابطو دجوړولواو پرمخ بېولو اعلان دی .

داهم مهمه ده چې دايران په اوسنو انتخاباتو کې ديوکانديد له لورې هم دامريکا پر ضد دنفرت نه ډکه وينا رامخې ته نه شواو هر کانديدبه په خپلوخبروکې يواځې دايران اقتصاد ته دودې ورکولو او پرمختګ خبرې کولې .

دسعودي نه پس ټرمپ اسرائيلوته ورغلو چې هورې يې د امريکا اواسرائيلو ترمنځ دنه پرېکېدونکې دوستۍ عهد بيا تازه کړ اوپه بيت اللحم کې يې دفلسطين د ولسمشر محمود عباس سره هم يوساعته سطحي ليدنه وکړه .

ټرمپ داسرائيلو دلومړي وزير بن يامين نتن ياهو سره دليدنې پر مهال دفلسطين او اسرائيلوتر منځ دستونزې دحل دخبرې يادونه په ډېر تاکېدسره وکړه خو د دوه آزادو دولتونوخبره يې نتن ياهو خو پرېږده دمحمود عباس سره هم ياده نکړه ؛ د دې نه داخبره ښه روښانه کېږي چې دفلسطين په اړه دټرمپ پاليسي هماغه ده کومه چې دغاصب اسرائيلي دولت ده ، ياني داچې دفلسطيني مسلمانانو پرضد دې دظلم لړۍ هم جاري وي ؛ ځمکې دې هم غصبېږې ، وژل کېږي دې هم ، زندانونوته دې هم بوتلل کېږي خوددې ټولو ترڅنګ دې دفلسطينيانو اواسرائيليانو ترمنځ خبرې هم رواني وي تر څو له يوې خوا اسرائيل ددې ټولو وحشتونو سره سره هم نړۍ ته سوله خوښې وښوول شي اوله بلې خوا دفلسطينيانو ټول امېدونه دمذاکراتو سره وتړل شي اوپه همدې چل يې د غاصبو يهوديانوپرضددمسلح سپيځلي جهاد مخه ونيول شي.

اسرائيلو ته دټرمپ سفر په داسې حال کې وچې دغربي استعمار ګرو په لاس درامنځته شوي غاصب اسرائيلي دولت له لورې زندانونوته د زرونو وړل شويو فلسطيني تنکيو ځوانانو او مېرمنوله لورې دنه خوړلو احتساب شروع واوکابو مياشت يې پوره کېدونکې وه ؛ غاصبو اسرائيلو ته دټرمپ په راتلو فلسطيني مسلمانانو سخت احتجاجونه وکړل اودامريکا اواسرائيلو بيرغونه يې وسوځول ؛ پرلاريون کوونکو داسرائيلي فوځيانو له لورې د ډزو په نتيجه کې ۱۱ فلسطيني مسلمانان ټپيان شول .

دفلسطيني مسلمانانو نه په غصب شويوختيځ بيت المقدس اوغرب اردن کې د ۱۹۶۷م نه تراوسه ۱۴۰ کوچني ښارګوټي جوړ شويدي چې پکې دبهرنو هېوادونونه راوستل شوي ٦ سوه زره يهودان مېشت کړای شويدي ؛ د ملګرو ملتونو اداري دا ټولې ودانۍ نا قانونه ګرځولې دي اوشتون يې داسرائيليانو او فلسطينيانو ترمنځ دسولې او ددوه مستقلو هېوادونو درامنځته کېدو په لار کې خنډ ګڼي خو چې داسرائيلوترشا امريکا ولاړه ده نودملګرو ملتونو اويانورې نړۍ يې هيڅ پروا نده لرلې اوښه په درز کې يې دخپلو کورونونه دفلسطينيانو دويستلو ، ددوئ دځمکو د غصبولو اودمزاحمت په صورت کې ددوئ وژلوته دوام ورکړی .

ټرمپ ښه په جهر داسرائيلود غصب روان عمل تائيدوي.

داچې اسرائيل پلان لري چې قبضه شوی بيت المقدس خپله پلازمېنه وګرځوي او دامريکا نه يې غوښتنه ده چې خپل سفارت دې دلته را انتقال کړي ؛ ټرمپ داسرائيلودې غوښتنې ته سر ښورولی او اراده يې ښکاره کړې چې خپل سفارت به رانقلوي ؛ ټرمپ داهم وايې چې

په ختیځ بیت المقدس اوغرب اردن کې جوړشوي کورونه د دواړو لوروترمنځ په سولې کې خنډ ندی بلکې دنویو ودانیو جوړول به خنډ وي .

پدې کې هیڅ شک نشته چې امریکا اونور غربي دجالي قوتونه ګرېټر یالوی اسرائیلورامنځته کېدل خامخا غواړي او دې خبرې ته له حده زیات ژمن دي ؛ په عربي نړۍ کې بد امنیو، ګډوډیو ، دنظامونو ړنګېدلو اوکورنو جنګونو اوس عربي نړۍ له دې ویستلی ده چې داسرائیلو دکوم نوي یرغل ، اشغال اوقبضې په مقابل کې سر راپورته کړي .

هو ! دسعودي په څېر دیوشمېر عربي هېوادونو شه اقتصاد اسرائیلوته ستونزې راولاړولای شي نوځکه شه دپلان له مخې داسرائیلو دغلبې په موخه دوسلو خرڅولو اودفاع په نوم دستوني نه دعربو داقتصاد دتېرول اصل هدف دی ؛ د۱۱۰ ملیاردو په اندازه دوسلو او دفاع تړون پیل او اراده داده چې دسعودي اوامریکا تر منځ په راتلونکو ۳ کلونوکې د دوه نیم نه تر ۳ سوه ملیاردو په ارزښت نور تړونونه هم رامنځته شي .

ټرمپ چې په ریاض کې ودرېږي او ایران تر ټولو لوی خطر ګڼي نودا دهمدې دجالي لوبې برخه ده ؛ امریکا هیڅکله هم په اوسنو حالاتو کې دایران سره ښکر اړمول نه غواړي ؛ دامریکا دخپل پلان له مخې به پر عربي نړۍ دایران وېره تر هغې وي ترڅو چې په عربي نړۍ کې دامریکا ټول شوم پلانونه ، نه وي تطبیق شوي ؛ کله چې په ټول منځني ختیځ کې دامریکا اولویدیځ شوم پلانونه تطبیق شي (داسې به نه کېږي ان شاء الله تعالی ) بیابه امریکا اواسرائیل په شریکه دایران پرضد دجنګ فضا رامنځته کوي .

داسرائیلو له پس واتیکان اوبیا په برسلز کې دناټو په غونډه کې ګډون نه هم په ډېر اهمیت کتل کېږي ؛ طبیعي ده چې دناټودغړو اروپایي هېوادونو مشرانوسره به لیدنوکې به دوی دریاض دکانفرانس په لاسته راوړنو اود۴۰ اسلامي هېوادونو مشترک لوځ په خپله ګټه کارولو ، په منځني ختیځ کې داسلامي هېوادونوتر منځ دښمنۍ اوبه دی هېوادونو کې دغه دکورنیو جنګونو درامنځته کولو په شیطاني پلانونو غږېدلي وي .

دحیرانتیا خبره ده چې نوم داسلامي اتحاد دی خو مرسته د اسلام او مسلمانانو دهغه ستر دښمن نه غوښتل کېږي چې داسلام اومسلمانانو پر ضد یې صلیبي جنګ اعلان کړیدی ؛ دمظلومو مسلمانانوپه وینو یې لاسونه سره دي ؛ ګڼ اسلامي هېوادونه یې قبضه کړیدي ؛ اودتېرو ۱۵ کلونو راهیسې ورسره مسلمانان دجنګ حالت کې دي ؟!

دا لا څنګه اتحاد دی چې یواسلامي هېواد ته خوپکې اخطارونه ورکول کېږي خو دنړۍ دمظلومو آن فلسطیني مسلمانانو لپاره پکې یوکمزوری آواز هم پورته نه شو ؟

دمظلومانوپرځای چې کوم اتحاد دظالمانوسره دهمغږۍ اعلانونه کوي نو داسې اتحاد ته اسلامي اتحاد ویل خو ماته ډېر ظلم ښکاري .

هر اتحاد دکوم مشترک دښمن په مقابل کې رامنځته کېږي نوهرڅوک که داپوښتنه کوي چې مشترک دښمن موڅوک دی ؟ هغه به حق په جانب وي .

دا اتحاد چې ټول پکې سني هېوادونه راجمع شویدي اودامریکا دحمایت نه برخمن دی طبعي ده چې په مقابل کې به یې دروسې دحمایت نه برخمن اتحاد رامنځته کېږي

اومسلمان ملت به دشيعه اتحاد اوسني اتحاد په دوه سترو برخو ويشل کېږي .

دتوحيد اسماني کلمه درنګ ، نسل ، جغرافيې اونور ټول مصنوعي دېوالونه ړنګوي او امت په يو صف کې ودروي ؛ دې کلمې چې دکومو مسلمانو حاکمانو نه پاسباني غوښتله متأسفانه چې دهغوئ دقدرت اومادياتو لېونيو مينو دا ملت ټوټه ټوټه کړ .

څه دا نه وايم چې ګينې سنيان به شيعه ګان ګمراه نه ګڼي اويابه شيعه ګان سنيان ګمراه نه بولي خو چې دواړه ځانونه مسلمانان او ديوې کلمې پيروان بولي نوديوبل پرضد يې اتحاد جوړول اوسره ښکر په ښکر کېدل ډېره دلوی تاوان او دامت دتباهۍ اوبربادۍ خبره ده چې همدا دکفري ښکېلاک يواځنی ارمان دی .

يو ډز اويو ښکار نه بلکې درې ښکارونه هم يې خپلې کمزورې اوتاريخ تېرې وسلې په ملياردونو ډالرو وپلورلې ؛ هم يې خپلوبانکونوته دټولې عربي نړۍ دپيسووړلونوی لار پرانسته اوهم يې په لويه سطحه دامت دويش اوپه خپلو منځونوکې دجنګولو لپاره نوی تخم وشيندلو .

اوس حالت ډېر خطرناک ښکاري ؛ داسې ښکاري چې امريکا به ددې مشترک فوځ دتقويه کولوهڅې وکړي ؛ او داچې ددې فوځ زيات واک اختيار دامريکا دمهمو اتحاديانو سعودي ، مصر اواماراتو په لاس کې دی نوامريکا به يې په سيمې کې دخپلو موخو لپاره په ډېرې اسانۍ وکارولی شي چې همدا خبره به اول دايران اوبيا ورپسې دترکې ، قطر اوشام لپاره دتشويش وړوي لکه چې دايران داتومي پروګرام په اړه رامنځته شوی تړون دسعودی اونورو اتحادي هېوادونو لپاره دتشويش وړ و .

ديو بل نه همداسې وېرول او دبې اعتمادۍ فضا رامنځته کول دامريکا ډېره لويه کاميابه حربه ده چې له همدې لارې امريکا خپل ټول شيطاني پلانونه عملي کوي .

نوکه وګورو ستونزه ټوله دايران اوسعودي ده او دهمدوئ دواړو ترمنځ شته اختلاف دټولې سيمې دبد امنۍ لامل شويدي ؛ که دوئ دواړه انانيت پرېږدي هر يو دبل په مقابل کې تنزل وکړي نوټوله سونزه حل کېدای شي .

دحسن روحاني په ځير تصيناً معتدل اود ډيپلوماتيکو چارو ماهر چې دايران ولسمشر دی نوهغه که وغواړي دخپرو اترو له لارې دسعودي سره خپله ستونزه په ډېرې اسانۍ حل کولای شي هغه چې دامريکا اونورو تېرې سره دخپلې اتومي لانجې په حل وتوانيد اوتاريخي تړون يې رامنځته کړای شو نودسعودي سره هم په ډېرې اسانۍ دخپرو په لارې هره ستونزه حل کولای شي

اوسعودي چې د۴۰ هېوادونو داتحاد په رامنځته کولو او په يوتالار کې د۵۵ اسلامي هېوادونو مشران اومندوبين ټرمپ ته راټولای شي نو ديوايران سره هم کېناستلای او مسائل حل کولای شي .

ارمان چې دا دواړه هېوادونه د وخت نزاکت په پام کې ونيسي ؛ يودبل په مقابل کې دتنزل چل زده کړي اوپه اسانۍ ټوله سيمه دلوی شرنه وژغوري .

❋ ❋ ❋

# یو قطبي نظام دشړېدو او نړېدو په لور.....

بشیر

په نړیوال سطحه ورځ تربلې بې امنې او بې ثباتې خورېږي؛ ازادو هېوادونه او خپلواکو ولسونو دزبرځواکو هېوادو لخوا د پرلپسې ګواښونو او بریدونو سلسله دتم کېدو پرځای پراخه کېږي، په خاصه توګه منځني ختیځ کې دنړۍ زبرځواکان سره دیوبل سره په سیالۍ او رقابت کې دمظلومو مسلمانانو وینې داوبو پشان بهوي.

هغه مهال چې شوروي اتحاد دافغانانو دمیړانې په زور مات او درې ورې کیده، دنړۍ یو شمیر هوښیارو سیاسي کارپوهانو ویل: دیو هېواد او یو نړیوال ځواک (امریکا) لاسو ته دنړۍ ورتلل به دبشریت لپاره بدمرغه پایلې ولري؛ رښتیا هم کله چې شوروي اتحاد ړنګ شو او امریکا ته دټولې نړۍ دچارو واګې په لاس ورغلې، امریکا هر هغه وحشت، ظلم او ستم چې دهغه په اړه تصور کیدای شي ترسره کړ، نړۍ کې خپلواک هېوادونه یې اشغال کړل، هغه افغانستان چې پکې دشوروي اتحاد لښکرو شکست خوړلی و دامریکا لخوا وربانډې وحشیانه یرغل اوشو، چې ترننه دادی افغانان دامریکایانو دوحشتونو او ظلمونو له لاسه دویرونو او مرګونو په تغیر ناست دي او هره ورځ امریکا یان په اوسط ډول دپینځو نه ترلسو پورې بزمونږمظلوم خلک په شهادت رسوي.

خبره مو داپیل کړې وه چې دشوروي اتحاد دشړېدو او ړنګیدو وروسته نړۍ یو قطبي شوه، دنړیوال سیاست دچارو واګې امریکا ته په لاس ورغلې، په دې سره نړۍ کې دیو طرفه ځواک اویو طرفه پریکړو رجحان عام شو، او امریکا په ټوله نړۍ کې دیو قطبي نړۍ او نظام مالکه شوه، چې ددې په سبب نړۍ کې داسې ناخوالې او ستونزې رامنځته شوې چې هیڅکله هغه وړاندې نه وې لیدل شوې.

له شک پرته دوه قطبي نظام دمسلمانانو بالخصوص دافغانانو په لاس مات او ړنګ شو ولې چې دشوروي لښکروته په افغانستان کې شکست افغانانو ورکړ، دهم هغه شکست له امله شوروي اتحاد ړنګ شو او دا دامریکا یوه ستره غوښتنه وه، دشوروي وروسته میدان امریکا ته وزګار پاتې شو نن په دې سره یو شمیر خلک

مسلمانانو او خصوصاً افغانانو ته طعنې ورکوي چې تاسو شوروي اتحاد ړنګ کړ نړۍ کې مو دځواک توازن او تناسب ته زيان ورساوه او د امريکا لپاره نړۍ يو قطبي او ګرځوله، خو دا خبره دحقيقت خلاف ده داسمه ده چې شوروي دافغانانو په لاس مات او ړنګ شو خو دانه چې مسلمانانو او افغانانو په شوروي يرغل کړی و، بلکې شوروي دخپلې پراختيا په عزم په مسلمانانو او افغانانو يرغل راوړی و عملا يې افغانستان اشغال کړی و دمرکزي اسيا ګڼ هېوادونه ددينه وړاندې په خورا وحشت سره دځان غلامان ګرځولي وو.



هم دا وجه وه چې کله شوروي دهغو اسلامي هېوادو څخه راتير شو په افغانستان يې حمله وکړه نو افغان ولس مجبوراً خپلې دفاع او ازادۍ لپاره پورته شو او نړۍ دخپلو اهدافو لپاره دافغانانو ترشا ودريده چې ددې په نتيجه کې شوروي شکست اوخوړ.

داتصادف و چې يوپلو ته امريکا او نړۍ ته دشوروي د پراختيا هوډ دزغملو نه و، بل پلو شوروي په افغانستان ديرغل حماقت وکړ، له امله يې نړۍ او افغانان په ګډه دشوروي اتحاد پرضد ودريدل، چط له امله يې شوروي مات شو نورې ددې لپاره يې دافغانانو ملاتړ وکړ څو شوروي مات او ړنګ شي دهمدې لپاره يې ورته وسلې او پيسې ورکړې ليکن کله چې شوروي مات شو، ددينه ګټه دشک پرته امريکا پورته کړه نو که په لومړي سرکې شوروي په افغانستان يرغل نه وای کړی افغانستان يې نه وای اشغال کړی هيڅکله به په نړۍ کې يو قطبي نظام نه و رامنځته شوی نه به دنړۍ ننۍ حالت وای، په ټوله کې دشوروي دزوال او د نړۍ يو قطبي کيدو لامل پخپله دشوروي هغه جنګي جنون و، دکوم له مخې يې چې پرلپسې لسګونه اسلامي هېوادونه اشغال اونيولي وو.

دکارپوهانو په نظر: دشوروي اتحاد دړنګيدو لويه فايده امريکا په دې ترلاسه کړه چې مسلمانان او افغانان په نړيواله سطحه کمزوري دې ځکه دپوځي، اقتصادي او سياسي ځواک لپاره هغوی دامريکا سره سيالي نشوای کولی او نه د دوی پرته په نړۍ کې بل کوم هېواد يا ځواک دامريکا سره دسيالۍ کولو اهل و، نن وينو چې امريکا ديو قطبي نظام نه په ګټه نړۍ دجنګونو او مرګونو په خوله کې تړلې او هيڅ داسې ناروا او ظلم نشته چې په هغه کې امريکا يان لاس نلري.

امرکا ديو قطبي نظام دفرصت نه په ناوړه ګټه پورته کولو سره په نړۍ او خصوصاً په اسلامي هېوادو جنګونه وتپل نن افغانستان دامريکا لخوا

اشغال دی ،ولس یې دازادۍ څخه محروم کړی په ورته توګه عراق هم دامریکا مقبوضه هېواد دی ، شام اویمن کې هم دامریکا دهمدې ذهنیت زیږنده جګړه روانه ده چې پکې دمسلمان لخوا مسلمانان وژل کېږي ، لیبیا کې دډګرمن قذافي حکومت چې ترډېره ورنه خلک راضي وو او هم یې په عصري لحاظ لیبیا یو خوشال او سوکال هېواد جوړ کړې و، نن هغه دامریکا دیرغل وروسته په څو ټوټو ویشلې دخلکو د ژوند نه خوشالي او سوکالي کډه کړې ایران ته ګواښونه کوي ، شمالي کوریا ځپل غواړي نو په مجموع کې ویلي شو چې امریکا دیو قطبې نظام سوچ دومره مغروره کړې چې په ټوله نړۍ کې یې یوه نه تم کېدونکې بې امنې او بې ثباتې یې خوره کړې .

دکتونکو په نظر امریکا داسې فکر کوي چې په نړۍ کې د دوی دیو قطبي نظام په وړاندې هیڅوک خنډ کېدای نشي او نه څوک ورسره دپوځي پلوه سیالي کولی شي البته دشام او منځنۍ ختیځ وروستیو جریاناتو اوښوده که یولورته امریکا دسیمې او نړۍ لپاره دخپلې وحشیانه تګلارې څخه لاس په سرکېدو ته تیاره نه بریښي خو په مقابل کې یې دروسیې غبرګون ښودل او په منځنۍ ختیځ په خاصه توګه شام کې دروسیې لخوا دپوځي ځواک مناورې ښیي چې روسیه دامریکا دیو قطبي نظام مفکوره ننګوي او په ړوړاندې یې بیا ځان دوه قطبي نړۍ جوړولو ته سمبالوي.

دامریکا او متحدینو په وړاندې دروسیې سرنیغولو جوته کړه چې نور په نړۍ کې دامریکا دیو قطبي نظام خیالي فلسفه زړه شوې ، اهمیت یې بایللی او هغه وخت لاړ چې امریکا به دنړۍ په اړه پخپل سر یو طرفه پریکړې کولې.

هو ! په شام کې که څو هم دروسیې لخوا د یو نامشروع حکومت او ظالم رژیم دفاع روانه ده چې له امله یې سني عرب مسلمانانو ته دانساني تاریخ ترټولو بد زیانونه واوښتل او اسدي شیعه ملیشه دروسیې په مټ پر سنیانو دظلمونو ژرندې ګرځوي له دې پلوه هلته دروسیې کردار مسلمانانو ته دمنلو او زغملو وړندی خو امریکا ته ضرور دا ادارک اوشو چې په نړۍ کې اوس هم سیالان لري او هغوی امریکا ننګولی شي او بل ښکاره شوه چې نور نړۍ کې خلک دامریکا دیو قطبي نظام نه دوه پوزوته راغلي په هره بیه چې وې ماتول یې غواړي او ورسره مخالفت لري چې له امله یې امریکایې پالیسې جوړونکې ماغزه هم ناکرار بریښي او دخپل ځانه ددفاع په وروستۍ مرحله کې دفاع کوي لیکن اوس یې هڅې ګټه نه ورکوي ځکه نړۍ اوس تغیر کړی په پوځي او اقتصادي ډګر کې دچین پرمختګ ، دشمالي کوریا لخوا امریکا ته پرلپسې ګواښونه او په مقابل کې یې دامریکا مړ دریځ او په شام کې دروسیې علنې مداخله او دبشار دظالم حکومت نه دفاع ښیي چې دامریکا دیو قطبي نظام دشړیدو په حال کې او بیا نړۍ دڅو قطبي کیدو په لور درومي.

# يو د ستاينې وړ اقدام

صلاح الدين صارم

زمونږ داصولو په کتابونوکې د جهاد تعريف داسې کوي چې " قبيح لذاته" ( په خپل ذات کې بد) او " حسن لغيره" ( دبل له وجې ښه) عمل دی، ځکه په خپل ذات کې جهاد وژنې، ورانی او تباهي ده، خو دالله درضا، لوړو درجو، خپلواکۍ گټلواونورو ډېرو گټو په ترلاسه کولوسره ښه او ډېر اوچت عمل دی .

دلته " بد" د " ښو" له وجې رواشوي، بد په خپل ذات کې هروخت بد وي، نو مقصود پخپله " بد" نه! بلکې هغه " ښه " دي چې په دې بدو ترلاسه کيږي.

زمونږ په هيواد کې دجهاد موده له دريو لسيزو اوړي اود څلورمې په ورستيوکې روانه ده، په دې ټوله موده کې ترډېره داسې برېښي لکه دتعريف لومړی جز چې پخپله مقصود وي او ډېرې کمې داسې بېلگې ليدل کيږي چې په وړاندې کولو سره يې دويم جز ته پوره ژمنتيا معلومه شي .

په داسې حال کې چې دپيغمبر صلی الله عليه وسلم دغزواتو سيرت له ټولو دغه ډول بېلگو ډک دی ، نو ترډېره موږ افغانان په ديني شعايرو او احکامو کې هم خپل مزاج مراعتوو اوترڅو چې سختي ته جواز وي، اساني ته په اسانه نه راگرځو، په لنډو به له دې مزاج نه په مخالف، خو ډېر په ځای اودشرعي عمل ستاينې ته راشم چې دروژې دمبارکې مياشتې په راتلو ښه نيت له مخې دافغانستان داسلامي امارت زعيم " شيخ هبة الله اخندزاده" صاحب په فرمان ترسره شو او دوه شپېته تنه دملي اردو هغه اسير عسکر چې مخامخ په جگړه کې نيول شوي وو° آزاد او پرېښودل شول، تېر کال هم ورته عمل شوی و او ديوه فرمان له مخې داسلامي امارت زعيم دلوی اختر په رارسېدو ۱۰۶ تنه بنديان آزاد کړي وو، دغه راز په هلمند کې يې هم ديوشمېر بنديانو دخوشي کولو امر کړی و چې نومړي زندان بيا دامريکايانو له خوا بمبار او بنديان يې ټول ووژل شول .

دغه عمل په خپل ذات کې ډېر دستاينې او داسلامي او انساني همدردۍ له مخې خورا په ځای اقدام او اسلامي کرنه ده، خو زمونږ بې وسه، کړېدلې او له علمه لرې ټولنې ته په پام سره چې جهل پکې خورا زور دی

اوداچې ډېرظلمونه او وحشتونه يې ترسره شوه اوډېره دترحم اوشفقت وړ ده، بيانو يوپه دوه دتعظيم وړ دومره ستر اونه هېرېدونکی احسان دی، چې بدله يې يواځې الله تعالی ورکولای شي که له يوې خوا يې دانتقام منفي اغېزې په هرډول چې وي ببرته ترموږ رسيږي، ولې هغوته له نه پاملرنې سره سره يې مثبتې اغېزې خورا ډېرې او ډېرې ګرندۍ ترسترګو کيږي اوداالله تعالی له رضا سره يوځای دخپلو خلکو رضا اوپه هغوی کې محبوبيت يې ډېر جوت دی .

که څه هم په رسنيوکې يې حتی سوړ غبرګون هم نه ترسترګو کيږي، خودا چې دغه اقدام له خپل ولس سره دهمدردۍ له مخې ترسره کيږي، ځکه نو دغه غبرګونونه په پام کې نه دي نيول شوي اوپه پوره اهتمام څو ځله عملي شو، بيا يې هم دعملي کېدو منتظر يو .

که مونږ وګورو چې داسلامي امارت دجلب وجذب کميسيون هڅې دهيواد په ټولو سيمو کې خورا بريالۍ او مثبتې دي° يوعلت يې له بنديانو سره ددغه ډول معاملې رامنځته کېدل هم دي، چې ددښمن په ليکو کې هغو افرادو ته لازړه ورکوي چې له حکومت نه يې زړه موړ اودحقيقت په درک کولو سره غواړي ددښمن له ليکو جلا اوله طالبانو سره يوځای شي .

په حقيقي ډول دسولې لپاره صادقانه هڅې دغه ډول کړنې دي چې دسرتاسري سولې لپاره لارې هواروي ، که په رښتيا هم حکومت غوښتلی چې په هيواد کې دې سوله رامنځته شي، نو دسولې دنمايشي پروژو په ځای به يې ورته، بې لګښته صادقانه اقدام کړی واو دشکنجې اواعدام پرځای به يې له زندانونو طالبان خپلو کورونو ته دستنېدو په پار راوېستلي وو.

## انرژي مشروبات د زړه حملې او فالج سبب کېدای شي

د قوت یا انرژي مشروبات د زړه حملې او فالج سبب کیدای شي.

په امریکا کې طبي ماهرینو د یوې څېړنې وروسته ویلي چې د انرژي مشروبات د زړه ټکان بې قراره کولای شي او د وینې فشار د موقت وخت لپاره لوړولای شي.

په افغانستان کې عموما د انرژي مشروبات زیات کارول کیږي چې اصل وجه یې د عامو خلکو هغه ذهنیت دی چې له دغه مشروباتو سره تړل شوی او داسې ګمان کیږي چې دا د انسان قوت زیاتوي، خو د څېړني سره سم کیدای شي دغه مشروبات د زړه د مختلفو ناروغیو تر څنګ د فالج او لوړ فشار سبب شي.

په امریکا کې د زړه طبي ماهرین وایي چې دوی د ۱۸ او ۴۰ کلونو تر منځ پر هغو خلکو څېړنه وکړه چې په ورځ کې ۳ انرژي بوتلان څښښي.

په څېړنه کې جوته شوه چې د انرژي مشروباتو څښنونکو د زړه ټکان تر شپږو ساعتونو پورې بې نظمه او تر حد زیات وه چې د زړه د حملې او فالج را منځته کېدا سبب کېدای شي.

دوی وایي چې د زړه ناروغان او د وینې لوړ فشار لرونکې کسان باید په بشپړه توګه د انرژي مشروباتو څخه پرهېز وکړي او هغه کسان چې دغه ناروغي نه لري هم دې هڅه کوي چې لږ تر لږه ددغه مشروباتو څخه استفاده وکړي.

# دلویدیځ دنړیوالتوب

## او د جدیدیت څپلو لاملونه
## او د هغو درملنه

داسلامي نړۍ ثقه عالم مولانا سید ابو الحسن علي ندوي
ژ: ابوظهیر/ څلورمه برخه

هغوی ( مستشرقین) ډېرځلي یوې نیمګړتیاپه ګوته نیولواو په ذهنونو کې دهغې د کینولو لپاره دخپل ممدوح په لسګونه خوبۍ بیانوي څو په دې ډول لوستونکي له ځانه مرعوب کړي چې ګڼي دوی انصاف ته ژمن اوله وسعت نظرۍ نه په کار اخستلو له تعصب کولو پاک دي

انصاف ته د ژمنتیا ،وسعت نظر اوتعصب نه په پاک ښودو دلوستونکو ذهنونه اړوي، یوې نیمګړتیا ته په اشاره کولو ( په نورو ټولو خوبیو اوبه اړوي) دیو شخص یا دعوت دچاپیریال ، دهغه د تاریخي شالید د قدرتي او طبعي عواملواو محرکاتو انځور ګرې په دومره راښکونکي او عالمانه اسلوب سره کوي (که څه هم هغه محض خیال وي) چې هغه ذهن په اسانه مني او په پایله کې هغه شخص ، دهغه دعوت او دهغه چاپېریال قدرتي او فطري نتیجه بولي او دهغه په عظمت و تقدیس کې د کومي غیر انساني سرچینې سره دتعلق او پیوستونه انکار کوي ، زیاتره مستشرقین پخپلو لیکنو کې دزهرو دمناسب مقدار کارولو او اهمیت ته خبر وي او په تناسب سره یې استعمالوي څو لوستونکي په ځان بدګومان او متنفر نکړي ، دهغوی لیکنې دومره خطرناک تاثیر لري چې د منځنۍ درجې کس ته تري ځان ژغورل مشکل وي.

قرآن، نبوي سیرت، فقه، کلام ، صحابه کرام، تابعین، ائمه مجتهدین، محدثین، فقهاء ، مشایخ، صوفیه، دحدیثو روات، دجرح او تعدیل فن ، اسماء الرجال ، دحدیث حجیت، دحدیثو تدوین، داسلامي فقهې مآخذ او داسلامي فقهې ارتقاء ،په دې ټولو کې دهرې موضوع په اړه دمستشرقینو په کتابونو، او څېړنو کې دومره تشکیکي مواد مندل کېږي چې یو ذهین او حساس انسان چې هغه په اړونده موضوع کې پراخه او ژوره مطالعه ونلري دټول اسلام نه دهغه د انحراف لپاره کافي ده دهغوی تحریفات، فني تیروتنې او دهغوی دجل او تبلیس ښکاره کول زمونږ بحث نه خارج موضوع ده ، دایوه علمي موضوع او عظیم الشان دیني خدمت دی او ورته د یو ې سترې او منظمې اداري جوړول پکاردي.

دلته مونږ په ډېر زیات اختصار سره دهغوی ددې دعوت اوتلقین لنډیز وړاندې کوو ، کوم چې مو خپلو زده کړیالو ، حوصله لرونکو او ترقي خوښو ځوانو لوستونکو

په مخکې بیا بیا او په مختلفو عنوانو سره وړاندې کړی کوم چې دهغوی( ځوانانو) ذهنونو د معقول او بدیهي حقیقت په توګه منلی دی ، دغه دعوت وتلقین داسلامي هېوادو داصلاحاتو او ترقۍ دتحریکونو سره ډېر نیږدې اړیکې شته او د دوی دنوعیت اندازه ددې پرته نشي کیدای په دې موقع مونږ دا لنډیز داقتباس په توګه وړاندې ، کوم چې یومصري فاضل ( ډکټرمحمد البهي ،څوک چې دمصر داسلامي ثقافت دڅانګې مشر- اوبیا د مصرداوقافو وزیر پاته دی) پخپل فاضلانه کتاب کې الفکر الاسلامی الحدیث کې وړاندې کړی دی کوم چې ډېرزیات دمستشرقینو دکتابونو ترمنځ قدر مشترک او دهغو ی دخیالاتو عکس دی:

داسلامي ټولنې پیوستون داسلام سره یواځې په یوه لنډمهاله وقفه کې مستحکم پاتې شوی ، هغه تاریخي وقفه ده، کله چې اسلامي ټولنه په لومړي او دماشومتوب په دوره کې وه، دغه لومړني او دماشومتوب دور ددې موقع برابره کړه چې دژوند او اسلامي لاربښوونو ترمنځ مناسبت او هم آ هنګي پیداشي ، خو د دغه لنډمهالې وقفې په پای ته رسیدو داسلامي ټولنې او اسلام ترمنځ خلیج رامنځته شو او اسلام دژوند درهنمائي کولو سرچینه پاته نشو ،دکلتور، سیاسي او اقتصادي او نورو خارجي عواملو په نتیجه کې داسلامي ټولنې دننه په ژوندانه کې چې څومره بدلونونه او پرمختګونه راغلل همغومره اسلام ددغه بدل او ترقۍ کوونکي ژوند سره دیوځای کیدو نه قاصر پاته کیده، داخلیج پرلپسې پراخیده،تردې پورې چې داسلامي خلافت وروستی مرکز ( نوې ترکیه) اعلان وکړ چې نور به اسلام په عامه ژوند کې ونډه نلري او اوس به ددې په ځای دفرد ضمیر وي او دا فرد پرته دکوم اعلان او جذبې نه دخپل ذات لپاره یې اظهار کولی شي ( الفکر الاسلامي الحدیث ۱۸۱-۱۸۴مخ)

اسلامي لاربښوونې نه پلی کول ، داجتماعي ضرورت عین تقضا او نتیجه ده، ورځ تروړځې بدلیدونکی ژوند دهغو حالاتو سره کوم چې داسلام دخپلو لاربښوونو په رڼا کې پیدا کړي سمون نه خوري او هم دهغو او دخپلو لاربښوونو ترمنځ یې هم آهنګي پیدا نکړای شوه دعمل لپاره په اسلامي لاربښوونو د زور راوړو معنی په دې زمانه کې له دې پرته بله نده چې دژوند کولو نه لاس په سر کیدل غوره شي ، دتمدن دنویو وسایلو نه په ګټه پورته کولو کې مسلمانان به ددنیا څخه وروسته پاتې شي ، اسلامي هېوادو کې به فقر، ناروغتیاوې او ناپوهي په ښه توګه وزغمل شي څنګه چې اوس مهال دسعودي حکومت حال دی ، دا هغه یواځینی اسلامي هېواد دی چې په دولتي سطحه یې په اسلام عمل کړی ، په دې وجه هغه ددې خبرې نمونه دی چې په اسلام باندې په عمل کولو سره څه نتایج منځته راځي ( ۱۸۴مخ)

تغیر او ترقې دژوند داسې عام قانون دی چې د تینښتې ځای نلري، مسلمانانوته دخپل اسلام په باره کې ددېنه کاراخستل پکاردي څو هغوی دنوي غربي نړۍ سره قدم واخلي، او دکمزوریو او او بدنظمیو له اسبابو نجات ومومي ، ددې لپاره اړتیاده چې هغوی خپله په اسلام هم دیو دین په حیث دا قانون پلی کړي او دزمانې دبدلون سره دترقې ورکولو کوښښ وکړي ، اسلامي ملت ته هم دتغیر او ترقۍ ددې فطري او ابدي قانون په پیروۍ کې دمغربي معیار(idel)سره سم تلل او پخپل مشرقي چاپیریال کې دهغه

نه متاثرکیدل ضروري دي، ولې دفکر او ژوند په ډگر کې دمغربیانو اندونه داوږد مهالو انساني تجربو زیږنده دي، لویدیځوالو ددغو اندونو په پیداکولو کې علمي او سائنسي طریقې کارولې، داطریقه، له اوهامو، خرافاتو، او له مخصوصوعقایدو اغیز نه اخلي، دهغه په لرلید کې یواځې دبشریت کامیابۍ ځای لري ( ۱۸۴مخ)

نیږدې د دوه نیمو پیړیو اوږدې او مسلسلې تجربې وروسته مستشرقینو محسوس کړه چې دهغوی دکار په طریقه کې بنسټیزې تیروتنې وې، چې له امله یې د دوی د هلو ځلو پوره نتیجه را اونه وته، اوډیر ځلي د دوی پرضد په اسلامي کړیو کې سخت غبرگون او غوسې راپورته شوې، کومې له تبلیغي او دعوتي لرلیده خطرلرونکې وې، هغوی پرلپسې دځپلو کوښښونو او دهغو داغیزو او پایلو حقیقت پاله څیړنه کوله اوس یې دهغو پایلو په رڼا کې دا طې کړې چې دوی ته پخپله تگلاره او طریقه کې بنسټیزبدلون پکاردی او دمسلمانانو دبدلولو کوښښونو په ځای داسلام د نوي تعبیر وړاندي کولو او ددین داصلاح ( reform ) تحریک پیلول پکار دی او کوم، کوم ځای چې دجدیدیت او ددین داصلاح په نوم تحریک روان وي، هغه په شاتپوي او ملاتړیې کوي ددې ذهني بدلون او نوي تگلاره اندازه ددې لاندې اقتباس څخه په ښه توگه کېږي: ( HARRY GAYLORD DORMAN) پخپل کتاب (TOWARDS UNDERSTANDING ISLAM ) کې لیکي:

داصلاحاتو تحریکونه، ددیني لاربنوونو دنئیو تجربو په رڼا کې له سره بیا تشریحولو لپاره یې مخلصانه کوښښونه کېږي، یا دهغو له لارې نوې تجربې ددینې لاربنوونو په رڼا کې دپیژندلو کوښښ کېږي او ددې لپاره دا( دمسحیت) دیومبلغ لپاره لومړی اهمیت لري ددې معنی هیڅکله دانده چې هرنوی تحریک چې هغه ځو لیونیا ن پیل کړي، هغه ددې حق لري چې په ښه توگه مطالعه کړای شي زمونږ هدف دهغو تحریکونو څخه دی چې دکومو حیثیت داوسني ژوند دربشتیني دین اظهاردی، کوم چې دورځینی تجربې دروحاني تشریحولو حق لري پراختیا مومي په کومه کې چې روحاني قوتونه دحقایقو سره زور ازمایي کوي.

ډیر ممکن دی چې دهغو څخه یو اصلاحي تحریک مسلمانانو ته دحضرت عیسی دپیژندلو په لړ کې چې ډیر مهم ثابت شو حتی تردې پورې چې دا هم کیدای شي چې په راتلونکو څو کالو کې په اسلامي هېوادو کې ( دمسیحي مبلغ) اصل کارنامه دمسلمانانو وگړو داصلاح او احیاء څخه ډیر پخپله داسلام تجدید او احیاء کول وي، په هر صورت دا دکار کولو یومیدان دی چې له پامه نشي غورځیدای، او نه یې په اړه غفلت کولی شي دا میدان خلاص دی، دا دهغو معذرت خوښوونکو دمثال څخه ښکاره دی کوم چې دعیسویانو او مسلمانانو سره په یوځای دکارکولو هر کلی کونکي په نظر راځي.

نوربیا...

# په فارسي ژبه کې د عظيم الشان قرآن

# د خدمت يوه لازواله کارنامه

رحيمي

مولانا محمد انوربدخشاني مدظله العالی په کال ۱۹۴۳ زکې دبدخشان ولايت اړوند په زرده نوم کلي کې زيږيدلی ، دنوموړي تره مولانا محمد شريف دهند دهلي ښار له جامعه امنيه څخه فارغ شوی و او دهندوستان دستر او نوميالي مفتي مولانا مفتي کفايت الله دممتازو شاګردانو څخه و.

نو په دې توګه مولانا محمد انور بدخشاني په يوه علمي کورنۍ کې سترګې غړولي په دې وجه نوموړي خپلې لومړنۍ ديني زده کړې لکه دفارسي او عربي لومړني کتابونه شول دخپل تره نه څخه يې ولوستل بيا دنورو کتابونو ويلو لپاره دبدخشان ګاونډي ولايت تخار ته لاړ چيرې چې يې دنحو، صرف، بلاغت، منطق، فقهې او تفسير کتابونه ولوستل، په ۱۹۶۵ز کې په نورو زده کړو پسې پاکستان ته لاړ، هلته دکواټې انجمن تعليم القرآن مدرسه کې يې په منقولاتو کې بيضاوي شريف او معقولاتو کې ميبذي او قاضي مبارک ووايه ، په کال ۱۹۶۶زکې د اګوره خټک په دارلعلوم حقانيه کې داخل شو دفريد العصر مولانا مفتي محمد فريد رَحِمَهُ ٱللَّهُ اونورو مشائخو نه يې دتفسير، عقديدو اوفقهې کتابونه مکمل کړل ، له هغه ځايه سوات ته لاړ، دسيدو شريف په مدرسه کې يې دممتاز معقولي عالم علامه مارتونګ بابا رَحِمَهُ ٱللَّهُ اود نورو علماوو نه معقولات لکه، د منطق، فلسفې، فلکياتو، هندسې اوحساب کتابونه وويل.

دلويې دورې لپاره کراچۍ ته لاړ دمحدث العصر مولانا محمديوسف بنوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ او نورو مشائخو څخه يې دلويې دورې کتابونه مکمل کړل، دکراچۍ علم پالونکو علماووته دبدخشان ددې لال قدر او ارزښت دومره زيات معلوم شو چې هغوی يومخ دځان کړ، محدث العصر مولانا محمديووسف بنوري ورته خپله لور په نکاح ورکړه، کله چې هغه وفات شوه، دپاکستان د مفتي اعظم مولانا مفتي محمد شفيع رَحِمَهُ ٱللَّهُ دلمسۍ او دارلعلوم کراچې دلومړي ناظم مولانا نور احمد دلور سره يې نکاح وکړه ، شيخ الحديث مولانا سليم الله خان رَحِمَهُ ٱللَّهُ پخپله اداره جامعه فاروقيه کې مدرس مقرر کړ، هلته د دوه درې کاله تدريس وروسته مولانا محمديوسف بنوري بيا خپلې مدرسې ته اوغوښته د۱۹۷۲ز کال نه تردې مهاله چې نيږدې نيمه پيړۍ کيږي په جامعة العلوم الاسلاميه بنوري ټاون کې دشرعي علومو دتدريس ترڅنګ دنورو مختلفو علوموا‌و فنونو په تدريس بوخت دی

دنوموړي ديو شاګرد په وينا : کراچۍ کې دنيمې پيړۍ نه د زيات وخت تيرولو باوجود دمولانا محمد انور بدخشانی په تلفظ کې دفارسي ژبې دالفاظو اثر هغسې

غالب پاتې دی او دفارسې سره يې خپله رشته نده کمزورې کړې ، چې په دې کې هم دالله تعالی لخوا خاص حکمت به دا و، چې له نوموړي نه الله تعالی په فارسي ژبه کې يوداسې خدمت واخيست چې هغه يقيناً بولامثال اولا زوال خدمت دی

هغه خدمت دادی چې الله تعالی نوموړي ته په فارسي ژبه کې دعظيم الشان قرآن دمعيارې او روانې ترجمې دليکلو توفيق ورکړ، کومې ته چې فارسي ژبې علماء، طالبان او مينوال د مودو، مودونه تږي ناست ول

دمولانا محمد انور بدخشاني ليکلې ترجمه دومره معيارې ، سليسه، روانه او دعلمي پلوه په تول پوره ده چې آن دسعودی عربستان حکومت دمجمع الملک فهد لطباعة القرآن الکريم لخوا په فارسې کې دګڼو نورو ترجمو باوجود غوره ترجمه ګرځولې ، او هر هرکال يې په مليونونه نسخې هغو هېوادوته استوي چې پکې خلک په فارسي ژبه پوهيږي.

سربيره په دې چې په کومو هېوادو کې فارسې ويل کيږي ، هلته په لوی شمېر کې نورجيد علماء کرام هم شتون لري او دګڼو علماوو لخوا دعظيم الشان قرآن ترجمې او تفسيرونه هم ليکل شوي ، داچې په هغوټولو کې دافغانستان ديو مسافرجيدعالم ليکلي ترجمه دمجمع الملک فهد لطباعة القرآن الکريم اداري او دسعودي دثقه علماوو لخوا غوره او بلل شوه دستر ستر وياړ او شرف ځای دی

دسعودي عربستان حکومت چارواکو په فارسې ژبه کې د ترجمې غوره کولو په اړه دفارسې ژبو هېوادو علماوو او حکومتونو نه رايې او مشورې هم غوښتنې وې، په دې لړ کې دافغانستان دحج او قاف وزارت نه يې هم رايه طلب کړې وه چې اکثريت هېوادو او علماوو دمولانا محمد انور بدخشاني ترجمې په ثقه توب رايې ورکړې وې او دډېرو لږو د مخالفت پرته نورو ټولو هم دا ترجمه غوره ترجمه اوبلله.

دمولانا محمد انور بدخشاني روان علمي يون ډېر اوږد دی نوموړي په عظيم الشان قرآن باندې دپوهيدو لپاره چې څومره علوم اوفنون( چې ۲۰ علوم کېږي ) ضروري بلل کېږي په هغو ټولو کې په هر، هر علم اوفن ديونه زيات کتابونه ليکلي دي هرمتن يې لومړی خپله لوستلی او بيا يې تدريس کړی هم دی دنوموړي د شاګرد مولانا محمد شفيع چترالي په قول: اوس مهال په پاکستان کې هيڅ کوم داسې عالم نشته چې هغه دې په نيږدې ټولو مروجه منقولاتو او معقولاتو کې دمولانا محمد انور بدخشاني پشان مجتهدانه عبور ولري ...

تفسير، حديث، فقه، ادب ، بلاغت، منطق، نحو، صرف اونور کوم علوم چې دعظيم الشان قرآن لپاره ضروري علوم بلل کېږي هغه ټول يې دنيمې پيړۍ په اوږدو کې تدريس کړي او هم يې بيا په هر فن کې ديونه زيات کتابونه تصنيف کړي او په دې سربيره هغه دلوړې درجې کتابونه چې نن سبا يې دخلکو په ذهنونو کې يواځې نومونه پاتې دي لکه، صدرا، شمس بازغه، شرح مواقف شرح چغمني ، قاضي ، حمد الله اونور يې پخپله دوخت دممتازو استادانو څخه لوستي نوپه دې توګه مولانا محمد انور بدخشاني په يووخت کې ښه تکړه محقق ، مدرس او مؤلف عالم دی الله تعالی دې دموصوف په عمر کې برکت واچوي او ورته په علمي ميدان کې دنورو علمي شهکاريو دتوفيق دعاء کوو او داکړی ستر علمي او ديني خدمت دې پخپل دربار کې قبول او ګرځوي.

امين

# په هیواد کې د وروستیو پېښو په اړه

## د نائب امیرالمؤمنین ملا سراج الدین حفظه الله

## د غږیزې وینا متن

په وروستیو کې دهېواد په مرکز(کابل) او څو نورو ښارونو کې د چاودنو له امله په لوی شمیر ولسي- خلک ټپیان او ووژل شول، دکابل لاسپوڅي رژیم دخپل عادت سره سم د دغو چاودنو دپړې تور په مجاهدینو او خصوصا دهېواد دنومیالي جهادي اوعلمي شخصیت مولوي جلال الدین حقاني حفظه الله په مجاهدینو پوري کړ چې ګواکې د هغوی لخوا یادې چاودنې ترسره شوې څو په دغسې پوچو او دروغجنو تورونو په لګولو سره په ولس کې مجاهدین کړي، داسلامي امارت ویندویانو هغه مهال رسنیوسره یادې چاودنې په کلکه وغندلې او وې ویلچې پکې داسلامي امارت مجاهدین لا س نلري بلکې دا دښمن لخوا دمجاهدینو په خلاف یوه توطیئه اودسیسه ده چې هدف یې مجاهدین بدنامول دي،چون دښمن دفعالې میډیا ښتن دی ، نو د مجاهدینو په خلاف یې پراخ تبلیغ او دروغ ویل پیل کړل د دې لپاره چې دعام ولس دعامه ا ذهان د دغو دروغجنو تبلیغاتو ترسیوري لاندې رانشي دافغانستان اسلامي امارت مرستیال او دالحاج مولوي جلا ل الدین حقاني صیب ځوی ملاسراج الدین حفظه الله پخپل غږ کې یوه وینا وکړه چې پکې یې دغه ډول تورونه په کلک ردکړي او دایې د دښمن دناکامو هڅو یوه بله ناکامه او رسوا بللې دخپلو لوستونکو لپاره ددغې ګټورې وینا متن کټ مټ چاپ ته سپارو امید دی چې دخوښۍ وړبه یې اوګرځي.

اداره

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امّا بعد**

**ډېرو محترمو !**

**د افغانستان غیرتي ولس ، ټولو مجاهدینو او دردېدلو افغانانو وروڼو ته السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

**الله جل جلاله دي ستاسې هغه ټولې سعیې او تکلیفونه چې الله جل جلاله په لار کې تاسې تېر کړې یا یې تیروئ، الله جل جلاله دې په خپل دربار کې قبول او منظور وګرځوي . الله تعالی دي دغه مبارکه میاشت د رمضان د مظلومو افغانانو او مجاهدینو لپاره د کامیابۍ او خوشالۍ زریعه وګرځوي . الله تعالی دي موږته اسلامي ازادي ، استقلال او فتحه را نصیب کړي.**

**ډېرو قدرمنو د هغو پېښو په وضاحت کې چې د جوزا میاشتي په۱۰ تاریخ د کابل وزیر اکبر خان په ساحه کې رامنځته شوه یا په جنازو کې رامنځته شوې یا په هرات جامع مسجد کې رامنځته شوه ، موږ په کلکه باندې د دې ټولو غندنه کېږده او چې هر چا دا پروګرام تنظیم او تشکیل کړی وي . د اسلامي امارت پوري اړه نلري او نه به اسلامي امارت په دغه شکل کار ونه وکړي چې ولسي- وګړیو او ملت ته پکښې تکلیف رسیږي، بلکي زموږ ډېر داسې اهداف موجود دي چې د ولس په منځ کې د لاسپوڅي نظام لوی ـ لوی اشخاص ، یرغلګر راجمع شوي ، په مسجدو کې، په کلیو،**

قریو کې وو چې زموږ لپاره په نښه کول اسان وو خو موږ تري ډډه کړېده .داچې جنګي حالات دي بالعموم د ټولو افرادو کنټرول په هغه وخت کې د امکان نه بعید وي چې یا استثنائي حالات وي ، یا د شپې ناڅاپي چاپه راغلې وي د دښمن سره مجاهدین چیرته مخامخ شوي وي د مشرتابه نه هدایت نه شي اخیستی ، د رابطې امکانات نه وي په داسې مشکل وخت که داسې یوه پېښه رامنځته شوې وي د هغې نه اسلامي امارت چیرته هم انکار ندی کړی بلکې د هغې له امله یې عفوه غوښتې ده او د تعزیت لپاره یې خلک لیږلي.

اسلامي امارت په دې اوسنیو ناورینونو او د بې رحمانه پېښنو په اړه نه یوازې دخپلو ویاندویانو له لارې یې مسؤلیت پر غاړه نه دی اخیستی بلکې غندنه یې کړې . خو د لاسپوڅی نظام چارواکي شرم نلري هغوی هرڅه چې وي دوئ په مقابل طرف (مجاهدینو) یې تپي او بدنامه وي یې څو د خپل ملت نه مجاهدین لري کړي . الله تعالي دې نه کړي چې د ملت او زموږ تر منځ بېلتون راشي بلکې مونږ د ملت د قربانیو ، هر رنګه مشکلاتو ګاللو او د تکلیفونو له امله ډېر شکر ګزاره یو ، هیڅکله موږ د دوئ د تکلیفونه او قربانئ هیرې کړې ندي ، اونه موږ بغیر د دوئ د همکاریو نه اوسنی جهاد روان کړی دی دا موږ په خپلو متو په خپل زور او امکاناتو ندی روان کړی. بلکې د ملت په همکارۍ ، ستاسې په همکارۍ موږ شروع کړی دی لله الحمد.
د مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله ، د شهید امیرالمؤمنین رحمه الله او د موجوده شیخ صاحب حفظه الله له طرفه په پیغامونو کې ستاسې سره د خواخوږۍ ، همکارۍ او د خپلو مجاهدینو د متوجه کولو توصیې تاسې ته ښکاره او معلومې دي بلکې ستاسې د هر رقم اذیت او تکلیف نه د بچ کولو لپاره په اوسنیو سختو شرایطو کې ( چې زموږ د ارام ځای نشته ، زموږ د مجلسو ځای نشته ) موږ ستاسې لپاره مستقل کمېسونونه تشکیل کړي دي (ستاسې د ږغ په اورېدلو کې) چې د مجاهدینو له طرفه ملکي تلفات رامنځته نه شي د ملکي تلفاتو د کمېسون په نوم تشکیل موجود دی ، نور کمېسونونه موجود دي ، د تعلیم ـ تربیې په نوم کمېسونونه موجود دي .

د دې لپاره چې د ملت هغه خواخوږي ـ هغه مشکلات چې موږ یې ګورو او موږ په یو ناورین کې یو ـ د مشکلو حالاتو سره مخ یو، د کفارو او غربي یرغلګرو سره په جنګ کې لوېدلي یو ، اندیښمن یو چې زموږ نه د ملت حقوق ضایع نه شي . نو ځکه د ملت د هر مشکل دحل لپاره مستقلې شعبې د مرحوم امیرالمؤمنین صاحب په ژوند کې تشکیل کړې وې.

راځم دې خبرو ته چې د افغانستان په اسلامي تاریخ کې موږ په داسې حالاتو کې چې د امریکې په مشرۍ پر افغانستان چې کوم یرغل راغلی دی ، اسلامي نظام یې له منځه وړی دی او په مقابل کې یې یو لاسپوڅی نظام او د دوئ موجودګي دلته شته په دې باندې سترګې نه شو پټولی چې د افغانستان په خاوره باندې یهودو او نصاراوو ،امریکایانو او ورسره ملګرو یې یرغل کړی دی ، د افغانستان خاوره یې لاندې کړې ده ، دا پنځلس ـ شپاړس کاله دا سپېڅلی جهاد روان دی ، په مقابل کې یې په سلهاوو ـ زرهاوو شهیدان وشول ، بندیان وشول ، کونډې یتیمان رامنځته شول ، داسې یو ناورین جوړ شو چې تاسې ګورئ چې دوئ د خپلو ګټو په خاطر باندې اعلاناً دا چیغې وهي چې زموږ دا جنګ د امریکې او ورسره ملګرو یې د امنیت او دفاع په خاطر رامنځته شوی دی ، دا جګړه چې موږ په زرهاوو میله لرې خپل عسکر قربانوو ، خپل خلک قربان کوو دا د خپلې منطقې د خاورې د دفاع او امن په خاطر باندې . دغه نارې او چغې درته وهي .

بل طرف ته ستاسې په خپل لوی لاس باندې د قومونو تر منځ نژادي جنګونه ، تفریقې حتی د افغانستان تجزیه یې منځته راوستله . د افغانستان په لاسپوڅي جمهوري نظام کې هغه حقوق چې دوئ د ځانه جوړ کړي ، وضعي حقوق یې

چې جوړ کړي دي ، بشري حقوق او د بشري خواخوږۍ چیغې یې تر اسمانه پورې رسیږي ټوله دنیا یې پر سر اخیستې ده ، چیرته هم دوئ په یوه نظام کې دوه ـ درې نظامونه نه دي جوړ کړې خو په افغانستان کې یې خلکو تقسیم وکړو ، د پښتنو ، تاجکو ، ازبکو او هزاروو په منځ کې یې تفرقې واچولې ، داسې نه چې په پټه باندې بلکې په ښکاره باندې روان دي چې څومره اقلیتونه دي څومره قومونه دي ، یو د بل مقابلېته یې راپورته کوي ، خانه جنګې منځته راوستل ، بدبینۍ منځته راوستل ، فحشا او بې دیني حتی داسې حد ته رسېدلې چې د افغانستان کلتور ـ فرهنګ ، ادب مروج لباس او مروجه عقیده بدلوي !

نن په دې باندې چاته یو پېغور نه درېږي ، شرم نه ورته نه درېږي چې موږ ته یې پر لوړ رتبه مسؤلیتونو باندې داسې خلک کښېنولي دي چې د دوئ لباس ته وګورې ، د دوئ کلتور او ادب ته وګورې ، سړي ته د خدای نه حیا درېږي او په داسې حد کې بیا تاسې را ځئ هغه سپېڅلي مجاهدین ـ هغه پاک مجاهدین چې قسم بالله چې د یوې ګولۍ خرچه نه شي برابرولی چې نه چا راجلب کړي او نه چا استخدام کړي ، خپل مسؤلیت او د خپلې اسلامي عقیدې او د خپلې اسلامي خاورې په استقلال او ازادۍ کې راوتلي دي.

چې یو زوی یې شهید شي بل زوی سنګر ته لېږي چې هغه شهید شي بل لېږي ، دا چې د ملت خواخوږي نه وای د ملت اخلاص نه وای . او دا خبره ډېره بعیده خبره ده چې دلته به د بل چا په فرمایشو او د بل چا په پروګرامو د افغانستان سپېڅلی جهاد مختته تللی وای . دنیا خو تاسې ولیدله چې ټول په یو صف کې د اسلامي امارت یا د اسلامي ملت په مقابل کې ودرېدله او نن هم داسې حالات روان دي چې تاسې دا شئ په سترګو باندې ګورئ چې دنیا د هغه شئ لپاره متفقه ده چې د اسلام نوم او اصلي افغانیت په هر قیمت چې وي له منځه یوسي .

او په دې کې بیا ورسره د عقیدې په تخریب باندې ، په قومي تقسیم باندې او حتی په سمتي تقسیم باندې یې کار شروع کړی دی په ښکاره او په ډګر شروع دی . او د دغو مجاهدینو چې نن د دې کفارو په مقابل کې د خپل اسلامي نظام د حاکم کولو لپاره ، د اعلاءکلمة الله لپاره راپورته شوي دي او دا جهاد یې شروع کړی دی ، دا د چا په لمسون او د چا په فرمایش باندې نه دی . لله الحمد همدغه جهاد به تر آخري سلګۍ پورې د خدای جَلَّجَلَالُهُ په نصرت باندې ان شاءالله لکه څرنګه چې نن تاسې د روسانو نه د وطن د ازادۍ جشنونه لمانځئ او لکه څنګه چې د انګرېزانو نه د افغانستان د ازادۍ جشنونه لمانځئ ، بیا به داسې وخت راځي ان شاءالله الرحمن چې د امریکایانو نه او څومره نظامونه چې په دې کې شریک دي دهغوی نه به دازادۍ ورځ لمانځئ په افغانستان کې . بیا به هر څوک ځان د دې حق بولي چې د افغانستان په ازادۍ کې تر هر چا نه ما ډېره برخه اخیستې ده.

ډېرو قدرمنو!

د الله جل جلاله نه د افغانستان د اسلامي امارت ، ور سره قومونه او د افغانستان ملت چې کوم سپېڅلي جهاد د ظالمانه یرغل په مقابل کې شروع کړی پکې د خدای جل جلاله نه لوړ عزت ، فتحه او کامیابي غواړم . الله جل جلاله دی مجاهدینوسره خپل نصرت شامل حال وګرځوي . الله جل جلاله دي زموږ دا مظلوم ملت نورنه څوروي . خدای تعالی دې پر افغانستان کې ژر تر ژره اسلامي نظام قایم او دایم کړي .

وَ آخِرُ دَعْوَانَا أن اَلْحَمْدُللهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ.

# عربي نړۍ .....
## او دټرمپ خطرناک عزایم

مولانا زاهد الراشدي
ژباړه اسلم امید

هو! دجرمني دبهرنیو چارو د وزیر یوې جملې زما دزړه نه بوج او دذهنه ستوماني لري کړه، زه دڅه مودې راهیسې په دې چرتونو کې ډوب وم چې د نن څخه نیږدې یوه پیړۍ وړاندې منځني ختیځ په خاصه توګه جزیرة العرب کې نوې جغرفیوي پولې او حدود رامنځته کړای شول

دلومړي نړیوال جنګ په مهال دعثماني خلافت دړنګولو وروسته په عربي سیمه کې څونوي خپلواک او ازاد هېوادونه رامنځته شول، که څه هم دعربي نړۍ په ویشلو کې ډېرو خلکو رول ترسره کړخو په لویه کې دا هرڅه دبریتانیې له لوري دیولوی پلان په نتیجه پیښ شول

البته دې لړ کې یعنې دجزیرة العرب ویشلو کې چې دکوم سړي نوم زیات اخستل کېږي هغه ډګرمن [مس ایډورډ لارنس] نومیده اوبیا دخپل تاریخي کردار په وجه په [لارنس آف عریبیا] وپیژندل شو.

دغه شخص دلومړي نړیوال جنګ په مهال په برتانوي پوځ کې صاحب منصب و، منځني ختیځ ته راغی، ژرېې عربي ژبه زده کړه ، دمسلمانانو دکړو وړونه په نقالی سره یې دغربي کالیو په ځای عربي کالي په تن کړل ،عربي دودونو او کلتور سره اشنا شو آن تردې چې دیو عرب مسلمان په شکل (دبرتانیې داستعماري موخو لپاره) متحرک شو.

لارنس نه یواځې عربان دترک عثماني خلافت په ضد بغاوت کولو ته تیار کړل بلکې په منځني ختیځ کې یې عربي قومیتونو مثلاً مصري، شامي، عراقي، فلسطیني، حجازي، نجدي او نورو توکمیزو بیلتونو او اختلافاتو ته په هوا ورکولو یې دمنځني ختیځ جغرافیوي ویش ته هم لاره هواره کړه ،د برتانوي حکومت له لوري لارنس ته د ورسپال شوي مسؤلیت په پوره سرته رسولو دبرتانیې شاهي دربار هغه ته ډګرمن ( کرنل) رتبه او لقب ورکړ ما په اکسفورډ پوهنتون کې دلارنس قبر لیدلی دی او زه یې دقبر په خوا کې دتاریخ په څورونکو یاداښتونو کې نوتم...

اوس چې په دې یوه پیړۍ تیرده یوځل بیا په منځني ختیځ کې دجغرافیوي ویشونو یوې نوې مرحلې پړاو اچولی اود او سنیو پولو په ماتولو سره دنویو جغرافیوي پولو راښکلو کوښښونه پیل شوي او په دې لړ کې مختلفې فارمولې د کارلپاره وړاندې شوې.

ما سره دا اندیښنه وه چې د دې کار مرکزي کردار لپاره دچا نوم غوره شوی؟ هسې خو د دې کار پلان جوړونکو په توګه دجارج بوش ، ډک چیني او ټوني بلیر نومونه یادیږي البته دمرکزي کردار خانه خالي وه، دجرمني دبهرنیو چارو وزیر زیګمارګابر دقطر او سعودی عربستان ترمنځ تازه داړیکو په باب خپله تبصره کې اوویل: دامریکا اولسمشر ټرمپ منځني ختیځ ته له ځان سره نوي لانجې وړي ، هغه دټرمپ بهیر په ټرمپایزیشن سره یاد کړ چې په دې سره زما په نظر دمرکزې کردار ډکولو خالي خانه ډکه شوه

دجغرافیوي پولو د تغیر او بدلون اوازه له ډېر وخت راهیسې وه دامریکا دبهرنیو چارو پخوانۍ وزیرې هیلارې کلنټن

هم پخپلو يادابښتونو کې دياد پلان يادونه کړې ده چې له مخې بـه يې عراق په درې برخو وويشل شي

(١) سني عراق چې اوس يې زياته برخه داعش په واک کې ده( ٢) شيعه عراق چې اوس يې زيات واک دشيعه گـانو پـه لاس کې دی (٣) کردي عراق چې دکردانـو ترولکـې لانـدې دی ، پـه ورته توگه دسعودي عربستان او شام ويشلو پلان هم شته دی.

دڅيړونکو په نظر: دا پلان ترډيره بشپړ شوی دی او س ددې وروسته ترمـپ لگيـادی چې نـوربې هـم مخکـې يـوسي ، هغـه سعودي عربستان او اسرايل ته پخپـل وروسـتي سـفر سره دانـوی سفررسما پرانيست دجرمنـي دبهرنيـو چـارو وزيـر پـه وينـا: ددې وروسته پيلېدونکی دور دټرمپايزيشن دور وي چې پيلېـزه غونـده يې دټرمپ په مشرۍ داسلامي کانفرانس سرمشريزه وه چې ورتـه ترمپ خپله قايدانه وينا وکړه او په تلـو، تلـو کـې پـه سيمه کـې دسعودي او قطر ترمنځ نوې لانجـه دتحفـې پـه توگه پريښـوده، يعنې دټرمپ درخصتولو سره هم مهال شپږو عربي هېـوادو لځـوا دقطر سره ټول ديپلوماتيک اړيکي قطع کړل او ټرمپ يې ترمنځ د درېيمگړيتوب وړانديز وکړ.

داچې دقطر او سعودي عربستان ترمنځ دلانجې اصلي ټکي څه دي؟ په اړه مختلفې خبرې کېږي يوعربي کتونکی ډاکټر هدی نجات په وينا:لانجه په راکړه ورکـړه رامنځتـه شـوې، هغـه داسـې چې ترمپ په سعودي عربستان کومه دېنځه سوه مليونه ډالرو پـه بيـه وسـله وپلورلـه پـه حقيقـت کـې ددې وسـلې پـه بـدل کـې غوښتونکې پيسې پنځلس سوه مليونه امريکـا يـې ډالـر وو چـې پکې ٥سوه مليونه سـعودي ورکـړل پـاتې نوربـه قطـر، بحـرين او اماراتو په گډه ورکـول دډاکټـر نجـات پـه وينـا بحـرين او امـاراتو دخپلو خپلو برخو ورکولو ته غاړه کينښوده خوقطر دخپلـې برخـې دورکولونـه انکـار وکـړ چـې دانکاروروسـته تـرمنځ يـې جنجـال رامنځته شو خو اوس په دې لړ کې دقطر او امريکا ترمنځ مخامخ خبرې رواني دي ممکن قطر امريکاته دخپلـې برخـې ورکولـو تـه غاړه کېږدي او په څو قسطونو کې يې اداء کـړي ،شـونې ده چـې دستونزې او لانجې يوقوې اړخ هم داوې ليکن دتاريخ ديو طالب په حيث زما په ذهن کې چې کومه خبره گرځي هغه داده چې يـوه پيړۍ وړاندې دهغه مهال سترځواک بريتانيې په مختلفـو سيمو ، کورنيو، نسلونو اونومونـو جزيـرة العـرب او پـه نـړۍ کـې ځينـې هېوادونه وويشل او ورباندې ديولړ تعاهداتو او ژمنو له مخـې يـې دخپلې تبې خلک واکمن او هلته يې دهغوی دواکونو حق تسليم کړ په دې لړ کې دجزيرة العرب شـته هېوادونـه ټـول دهـم ددغـو تعاهداتو محصول دي چې هغوی زياتره خپلمنځي شخړې اوس دهم هغه برتانوي تعاهداتو له مخې حل کوي قطر يولړ تعاهداتو ته ځان ژمن نه بولي لکه دقطر دبهرنيو چارو وزير له وينـا هـم دا خبره ښکاري چې وايي: موږته دخپلـواکۍ او ازادۍ سـزا راکـول کېږي.

لنډه داچې په تيره پيړۍ کې چې دکومو کورنيـو لپـاره هلتـه دواک حق ورکول شوی هغوی په مختلفـو برخـوکې لـه بريتـانيې سره تړونونه کړې داچـې اوس دبرتـانيې پـه ځـای امريکـا نړيـوال ځواک ده هڅه کوي چې هم هغه تعاهاتو لـه مخـې پـه عـربي واکمنو خپلې استعماري ارادې او منې ځکه هغه ټولې دتاريخ په يادابښت کې شته، کله چې کوم هېواد تري سرغړونـه کـوي لکـه عراق او نور امريکا دهغه پرضـد گـام پورتـه کـوي بلکـې امريکـا غواړي برتانوي تعاهداتو ته وورته دنورو تړونونو په کولو هغه ټول عربي هېوادونه چې د زمکني مسافت لرلو له املـه لـوی دی اوبـل پريمانه طبعي زيرمـې لـري پـه کوچنيـو هېـوادو وويشي- نـو پـه حقيقت کې دمنځني ختيځ لانجـه دامريکـا داسـتعماري پلانونـو يوه نوې لړۍ ده خدای خبر چې له املـه بـه يـې بيـا مسـلمانان او اسلامي هېوادونه څومره متضرر شي .

* * *

# سعودي ته د ټرمپ د سفر لومړۍ ډالۍ

حسن زوی

۲۰ ورځې وړاندې دمۍ په ۲۰ مې او ۲۱مې نېټې چې دسعودي عربستان په پلازمېنې ریاض کې کومه غونډه جوړه شوې وه اوپکې راټول شوي ټول عرب مشران دایان مخالف فریق ګڼل کېدل په هغه غونډه کې نه یواځې داچې دقطرامیر شیخ تمیم بن حمد آل ثاني شتون درلود بلکې هغه له هغو مشرانوځنې و چې دغونډې دمشرـ میلمه ډونلډټرمپ سره دلیدنې موکه هم ورکړل شوې وه؛ شیخ تمیم دسعودي باچا سلمان اونه هم دهغه دځوی محمدبن سلمان په تندي کې د خفګان کومه نښه لیدلې وه . خو۲۰ ورځې پس دهمدې قطر سره ناڅاپه خبره دخرابۍ دې حد ته ورسېده چې دسعودي ، متحده عرب اماراتواومصرـ په شمول ورسره ۷عربو هېوادونو ډیپلوماتیکي اړیکې پرې کړې؛ ډیپلوماتان خپلوهېوادونوته راوغوښتل شول؛ سوداګریزې راکړې ورکړې بندې شوې؛ سرحدات وتړل شول ؛ دیوبل دهوایي کرښوکارول منع اعلان شول اوقطر داسلامي فوځي اتحاد نه هم وویستل شوحال داچې قطر دیمن په جنګ کې دسعودي ډېر مهم اتحادي و.

قطردعربو دبحیرې پرشمال لویدیځې برخې پروت دمنځني ختیځ داسې یو آزاد عربي هېواد دی چې ډېر مهم جغرافیوي حیثیت لري ؛ داهېواد یواځې دیو هېواد یانې سعودي عربستان سره دوچې له لارې وصل دی نور یې په ټولو اطرافو دفارس دخلیج داوبواحاطه ده ؛ دادعربو په کوچنو هېوادونو کې شمېرل کېږي چې ایله ۱۱ زره کیلومتره مربع مساحت لري پلازمېنه یې دوحه ده ؛ رسمي ژبه یې عربي ده او دنفوسو شمېر یې ۲ ملیونه اوکابو ۷ سوه زره دی ؛ کابو ۴۰ سلنه یې خپل اوسېدونکي دي نور ټول دبهر نه راغلي خلک دي .

ددې هېواددهرفرد کلني عواید ۱۴۵۸۹۴ ډالر دي چې پدې لحاظ قطر دنړۍ تر ټولوبډای هېواد ګڼل کېږي ؛ دملګرو ملتونو له لورې دخپرو شویو راپورونو له مخې په قطر کې دژوند عصري وسایل دبل هر خلیجي هېواد نه زیات دي ؛ دقطردسمندر لاندې دنړۍ په سطحه دتېلو اوغازو ۳ مې سترې زېرمې شتون لري .

دقطر داخاوره هم دعثماني خلافت برخه وه ؛ دعثماني خلافت دړنګېدوسره سم برتانې اشغال کړ اوتر ۱۹۷۱م پورې یې تر اشغال لاندې و ؛ په ۱۹۷۱م کې دې هېواد دبرتانې نه آزادي ترلاسه کړه چې له هماغه ورځې نه پرې آل ثاني کورنۍ حاکمه ده او شیخ جاسم بن محمد آل ثاني ددې هېواد باني ګڼل کېږي .

دلته مطلق بادشاهت دی ؛باچا چې دهېوادمشرـ دی اوداميرـ توری ورته کاروي ټول واک دهمده سره وي ؛ یوه مقننه شوری هم شتون لري چې دقوانینو جوړولو اوترمیمولو واک اختیار ورکړل شویدی خو وروستۍ پرېکړه تل دامیر وي؛ دقطر اساسي قانون پدې هېواد کې دسیاسي ګوندونو دجوړېدو اوفعالیت ته اجازه نه ورکوي.

قطر دنړۍ دګڼوهېوادونوسره سوداګریزه راکړه ورکړه لري چې کلنی حجم یې کابو۳۲۴ملیاردوقطري ریالوته رسېږي .

داهېوادیواځې دسعودي سره دوچې له لارې وصل دی اوهره ورځ په زرونو لارۍ له یونه بل لورته اوړي چې

يکې خوراکي توکي اونور سوداګريز مواد باروي .

قطر دخپلوهېوادوالو لپاره ۴۰ سلنه خوراکي توکي له همدې لارې راواردوي .

الجزيره تلويزون ، لوړې ودانۍ ، دقطر اير ويز په نوم دنړۍ په سطحه مشهور هوايي شرکت اودنامتو بارسلو نافټ بال اتحادې دکفالت اوضمانت دګډو حقوقو درلودلو قطر ته په نړۍ کې ډېر شهرت وربښلی دی .

اوس چې ددې هېواد دزيات شهرت سبب ګرځېدلی دی نوهغه په ۲۰۲۲م کې دفټ بال دترټولو سترو نړيوالو سياليو لپاره دکوربه په صفت ددې هېوادټاکل کېدل دي .

قطر دخليج دګلف شورى رکن دی ؛ ګلف شورى کې يواځې هغه هېوادونه غړيتوب لري چې دفارس خليج سره يې پولې لګېدلي دي يانې بحرين، عراق ، کويت، اومان ، قطر، دعربو متحده امارات اوسعودي عربستان.

ګلف شورى په ۱۹۷۶م کې رامنځته شوى اوله هماغه وخت نه دټولو هېوادونو بهرنۍ پاليسي يوه وي او دسيمې په سطحه کابو په ټولو پرېکړو کې سره يوه خوله وي او طبعي ده چې تر ټولوزيات نفوذ يکې دسعودي دی ؛ سعودي چې څه وايي دګلف يوغړى هېواد هم ورسره مخالفت نه شکاره کوي اوهمداکار ددې شورى په خير ګڼي .

تر ۱۹۹۵م پورې چې داوسني امير شيخ تميم بن حمد آل ثانى نيکه شيخ خليفه آل ثانى دقطر امير ودقطر پاليسي هم همداسې وه چې دسعودي دټولو پرېکړوسره به هم غږى و او هيڅکله به يې دسعودي سره مخالفت نه شکاره کولو خو د ۱۹۹۵م دجون مياشت کې شيخ حمد بن خليفه آل ثانى خپل پلار معزول اوپخپله پر واک قابض شو .

شيخ حمد دقطر دپرمختګ لپاره ډېر ګرندي ګامونه پورته کړل ؛ د ايل . اين .جي . غاز صنعت ته يې په هېواد کې ډېره وده ورکړه ؛ دنړۍ دسترو صنعتونو او اولويو اقتصادونوسره يې اقتصادي اوصنعتي تړونونه وکړل او مهمه داچې دقطر ټوله اقتصادي اوبهرنۍ پاليسي يې دسعودي داغېزواو نفوذ نه ازاده کړه ؛ قطر الجزيره نومي آزاد تلويزوني چينل هم پرانست چې دخليجي هېوادونو په اړه ښه آزادانه راپوړونه خپروي چې په اړه يې څوځلې سعودي اونوروخليجي هېوادونه خپله دا اندېښنه شکاره کړيده چې ددې تلويزون له لارې ددوئ په کورنيو چارو کې لاسوهنې کېږي اوله دې لارې يې دهېواد امن اوثبات ته خطرونه متوجې کېږي نوبايد له دې کار نه قطرتېر شي خوقطر تل دمطبوعاتو دازادۍ خبره رامخې ته کړيده اوهمدې اصل ته په پناه ور ورلويې ددوئ ددې اعتراضونو نه خپل ځان خلاص کړى اوددوئ غو ښتنه يې نامعقوله ګڼلې ده .

بله خبره چې دسعودي اونورو خليجي هېوادونوتر څنګ دسعودي داتحاديانولپاره هم دتشويش وړده هغه داخوان المسلمون سره مرستې کول اوددې ګوند يوشمېر مشرانوته په قطر کې پناه ورکول دي .

په ۲۰۱۳م کې چې شيخ حمد آل ثانى دواک واګې خپل ځوى شيخ تميم ته ور وسپارلې نو دسعودي په شمول دخليج ګلف شورى غړوهېوادونوتمه وه چې نوى امير به دسيمې په سطحه درياض کړنلاره تعقيب کړي چې دهمدې کار لپاره هغه دسعودي باچا عبدالله رياض ته راوغوښت اوښه په کلکه يې ورنه وغوښتل چې په هر حالت کې دې خپله پاليسۍ دګلف شورى دغړو هېوادونو دپاليسۍ سره برابره کړي اوددې هېوادونوپه کورنيو چاروکې دې دلاسوهنو نه ډډه وکړي ؛ دقطرامير دباچا عبدالله غوښتنې ته په شکاره مثبت ځواب وويلو او پدې اړه ددواړو ترمنځ يوتړون هم رامنځته شو خو لږه موده پس سعودي محسوسه کړه چې قطر خپلوکړو وعدو ته ژمن ندى نو ځکه په ۲۰۱۴م کې دقطر سره دخليجي هېوادونو اختلافات ډېر زيات شول اوسعودي عربستان ، بحرين اودعربو متحده اماراتودقطر سره خپلې ديپلوماتيکې اړيکې پرې کړې خو ښه

داوه چې هغه مهال دقطر په هوايي شرکتونوبنديز نه ولګېدلی اودکويت اميرشيخ صباح چې دقطر دامير سره يې شخصي ښې اړيکې درلودلې رامنځته شواو دده د۸ میاشتو مسلسلو هڅوپه نتیجه کې حالات بېرته نورمال شول ؛ داخوان المسلمون مشران ترکې ته واستولی شول اوداماراتوداالاصلاح غړو ته هم دقطر نه دوتلوحکم وشو .

خوداځل خبره له پيل نه ډېرې اوچتې سطحې ته تللی ده اوهر څه په يوځل اعلان شويدي .

داسې ښکاري چې سعودی قطر په زړه زړه کې ډېر غصه و خو داوباما دواک پرمهال دايران او امريکا دروابطودښه کېدوله امله سعودي دقطر پر ضد څه نه شو کولای ځکه ورسره وېره وه چې داسې نه قطر دايران په تلې کې ځان ور ونه غورځوي ؛ خوچې څنګه د ډونلډ ټرمپ دسفر په ترڅ کې سعودي امريکادايران اوقطر پرضد په خپل څنګ کې وليدله نودآرام سا يې واخسته اوبيخي لکه دچا پرضد چې دجنګ اعلان کېږي په همداسې طريقې يې په شپه شپه کې بې له کوم اخطار يا خبر ورکولودقطر پرضد پرېکړې اعلان کړې اوپه هماغه شپه کې يې نافذې هم کړې .

دقطر په اړه دسعودي د دې دومره جدي غبرګون ښکاره لامل خوډېر خلک دايران په اړه دقطر هغه وينا وې بولي چې قطر امير ته منسوبې شويدي خودقطر دولت ترې انکار کړی او وايي چې د الجزيره په شمول يې ځنې تلويزوني کانالونه هېڅ شوي اوداسې خبرې پکې دشريرانو له لورې وردننه شوی وې چې هيڅکله هم دقطر امير له خولې نه وې راوتلې .

خو دډېروشنونکو په اند خبره ټوله سعودي ته دټرمپ دسفرنه خرابه شوه ؛ کله چې په رياض کې ټرمپ ودرېد اوښه په جهر يې ايران تروريزم ته وده ورکونکی هېواد وګڼلو او دايران په اړه يې دسعودي پالیسۍ تائيد کړه نوله دې وروسته سعودي پرېکړه وکړه چې خپل يو اتحادي ته به هم اجازه ورنکړي چې دايران په اړه دسعودي دپاليسۍ سره خپل مخالفت ښکاره کړي ؛ سعودي په سراحت سره ويلي دي چې قطر دايران سره په ملګرتيا دتروريستي ګوندونومرسته کوي .

همداخبره ځکه سمه ښکاري چې دقطر دقضې په اړه دټرمپ څرګندونې هم دهمدې خبرې تائيد کوي ؛ ټرمپ ويلي دي چې داسعودي ته دده دسفر ثمرات دي ځکه چې هوري دتروريزم دتمويلونکوهېوادونو پر ضد ديولړ اقداماتويادونه شوی وه .

اسرائيلو هم دقطر سره دسعودي اونوروعربي هېوادونوپرېکون ستايلی دی او ويلی يې چې اوس دتروريزم پر ضدديوداسې ستر اتحاد جوړولو وخت را رسېدلی دی چې اسرائيل هم دهغه اتحاد برخه جوړېدای شي ؛ په يوې جلا وينا کې داسرائيلودفاع وزير ليبرمين هم ويلي دي چې قطر دترويستانو حمايت کوي.

اوس قطر کې دخوراکي توکيو سخت کمښت دی اوايله د درې اوونيو لپاره ورسره خوراکي توکي شتون لري ؛ ايران دهمدې حالت نه سياسي ګټه پورته کوي اوقطرته يې دخوراکي توکيو دورکولو وړانديز کړی چې دادايران په اتحادیانوکې دقطر دورداخلولو هڅه ده ؛ داکار دسعودي لپاره ډېر سخت دتاوان نه ډک دی نوپکارده چې سعودي دحالاتو دنزاکت ادراک وکړي دکويت ، ترکې او پاکستان په څېرخورامهمو هېوادونو ته دثالثۍ موکه ورکړي اوستونزه دخبرو له لارې حل کړي ؛ که دقطر پر ضد سختي همداسې دوام ومومي اويا پکې زياتوالی راشي نوکېدای شي دترټولو وروستي اقدام په نوم قطر دايران سره ځان دفاعي تړون اودسعودي تر سرحداتو دايراني فوځونو راوستلوته ځان مجبور وګڼي چې دابه خدای مکړه دمنځنی ختيځ دسترې تباهۍ اوبربادۍ سبب شي بيابه ټول لاسونه مروړي خو وخت به ځنی تېر وي .

# اسلام کې دیتیمانو

## او بې وزلو ماشومانو کفالت

مفتی محمدفیاض قاسمی (هند)
ژ: فرهاد اتل

په هره ټولنه کې میشت قبیلې ، خیلونه او کورنۍ دپیژندګلوۍ له درکه له یو بل امتیاز لري ، په دې معنی چې دهغوی د استوګنې ،د معاش او تمدن لارې چارې سره جلاوې، خو دټولنېز ژوند له پلوه هغوی ټول سره یو او دیوبل سره په غم اوښادۍ کې ګډون اخلاقي فریضه ګڼي.

هغه خلک چې دزماني دحوادثو ځپېړې وهلي دهغو ی سره مرسته کول او داړتیاوو په پوره کولو کې ورسره همکاري کول د ټولو ملي او دیني مسؤلیت دی ،دټولنې وګړي په دې وجه مسؤلیت لري چې دا کار په هغوی باندې په ټولېزه توګه دروند بار نه کېږي ، خو نن سبا حالاتو ته په کتو سره ټولنو کې دیتیمانو دکفالت مسئله یوه لویه ستونزه ګرځیدلې.

تردې پورې چې هر کله هم دټولنې شتمن او مالدار وګړي یې په اړه کوم قدم اخلي هغوی ژر پښنه نیولي شي ، ولې چې په وړاندې یې یواځي دیتیمانو دخېټو مړولو اړتیا نه وي پرته، بلکې دهغوی پوره پالنه ، روزنه او دټولو اړتیاوو پوره کول یې اوږده زمانه کار غواړي او بیا دهمدې سوچ په ورتلو هر سړی ځان بري الذمه ګرځوي، چې له امله یې دیتیمانو ټول ژوند ون ضایع شي ، اسلام چې دژوند انه لپاره یو مکمل نظام دی، پکې دهرچا حقوقو ته پام شوی الله تعالی هیڅوک بې یارو مددګار ندی خوشي کړی ، دهر چا لپاره یې داسې اسباب او زرایع تاکلي چې دهغو په وجه په اسانۍ سره کولی شي دالله تعالی په زمکه اووسي او پکې خپل ژوند تیر کړي ، یتیمان، بې وزلان او بې وارثه ماشومان هم ټولنیز حقوق لري ، دهغوی مکمل کفالت کول دهغوی دحقوقو سرته رسول دي،تري مخ په بله ګرځول دهغوی دحقوقو پایمالول دي.

دحیثیت له درکه یتیمان او بې وزله ماشومان دوه ډوله کېدای شي ۱- چې مال لري ۲- چې مال نلري خو عصبات، قریبي خپلوان یا ذوی الارحام لري ، په لومړي صورت کې یعنې چې هغوی مال ولري نو دهغوی پالنه او کفالت به دهم هغه مال نه کېږي، کفیل که هرڅوک وي، قریبي خپل وي که ذوی الارحام اویا بل څوک !دکفیل لپاره ضروري ده چې په ډېر احتیا ط دیتیمانو مال پرهغوی مصرف کړي او روزنې او زده کړې ته یې پام ولري ، عظیم الشان قرآن تاکید کړی دی چې دهغوی مال دې په پوره دیانتدارۍ پر هغوی مصرف کړای شي پخپل ځان دې هیڅکله نه لګوي [ولاتکلُوا أَموالَهُم الی

أموالِكم انه كان حوبا كبيرا(النساء ٢) ] كله چې بالغان شي ، دګټې او تاوان په تميز كولو پوی شي بيا دهغوی مال دي ورته بيرته وركړای شي [فاِن أنستُم مِنهُم رُشدا فادفعوا اليهِم أموالَهُم ( النساء ۶)]

دوهم صورت چې كله دهغوی سره مال نه وي، خو عصبات، ياذوی الارحام يې وي ، بيا ددوی دپالنې مسؤليت په هغوی دی البته پكې داترتيب دی چې په عصباتو كې به هغه څوک زيات حقداروي څوک چې په خپلوۍ كې ورته قريب وي ، كه عصبات يې نه و، بيا به يې ذوی الارحام كفالت كوي او په هغوی كې هم دخپلوۍ قُرب ته ترجيح ده

[ وإذالم يكن للحاضن أحد ممن ذكر انتقلت الحضانة لذوی الارحام فی احد الوجهين وهو الأولى، لأن لهُم رحماً وقرابةً يرثون بها عند عدم من هوأولى ، فيقدم أبوأم، ثم امهاته، ثم أخ من أم ثم خال ( الموسوعة الفقهيه ١٧ج، ٣٠٥ص)

هو! كه عصبات او ذوی الارحامېي هم نه و، نو بيا دوخت حاكم به هغوی كوم تن ته وسپاري څو هغه يې روزنه او پالنه وكړي او لګښت به يې له بيت المال څخه وركول كېږي

[ ثم حاكم يسلمه اِلى من حصنه من المسلمين (الموسوعة الفقهيه ١٧ج، ٣٠٥١ص)

البحرائق كې شته كه مورو پلاريې فقيران وو، پلار يې كولی دخلكو نه خيرات اوغواړي اوپري د خپلو كوچنيانو نفقه پوره كړي اوبل قول دادی: چې د پلارلپاره يې دخيرات غوښتلو ضرورت نشته بلكې دهغه داولادونو نفقه دبيت المال ذمه ده

[ اِنكان فقيرين فعند الخصاف أن لأب يتكفف الناس وينفق على أولاده ( البحرائق ۴ج، ٢٠١ص)]

معلومه شوه چې دپورتني ترتيب په اعتبار سره كه د لاوارثه يتيمانو دكفالت زرايع نه و، نو كفالت يې دبيت المال په ذمه دی، خو دهندوستان پشان يو هېواد كې چې دبيت المال اسانتياوي دنشته سره براړي دي دامسئله دغور وړده دبيت المال په ځای شرعي تنظيمونه ( الحمدالله) شته چې هغه په ټول هندوستان كې په يونه يوشكل سره دامت مسائل څاري ، مسلمانان دي امارتونو تابع شي او دشريعت په حكمونو دي عمل وكړي بناءً په دې صورت كې دشرعي امارتونو مسؤليت دی چې د يتيمانو دكفالت چارې تنظيم كړي ، هغوی ددې لپاره چې هرشكل مناسب بولي هغسي دي وكړي دمثال په ډول هغه ماشومان دي دخپل تنظيم ترڅارنې لاندې په كوم ليليه كې ميشت كړي او روباندې دهغو پيسونه چې مسلمانان يې دوی ته وركوي اولګوي يا چيرته چې هغوی (ماشومان) ميشت دي هلته دي يومسلمان سړی غوره كړي څو هغه يې روزنه او پالنه وكړي او هغه سړي ته دي لګښتونه داوونې، مياشتې او يا كال په حساب اداء كوي غرض داچې دبيت المال دنشتوالي په صورت كې شرعي تنظيمونه ددې انتظام وكړي. او هغوی دي داپېټی پورته كړي.

اوكه شرعي تنظيمونه نه وو او يا دهغوی له لوري دغسي كوم انتظام شتون ونلري نو بيا دهغوی ( ماشومانو) كفالت پخپله دهغه سيمې دمسلمانانو مسؤليت دی چيرته چې ماشومان اوسي الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي :

[من ذا لّذی يُقرِضُ الله قَرضاً حَسناً فَيُضَاعِفه لَهُ أَضعَافاً كَثِيرا]

څو دی چې الله تعالى ته غوره پور وكړي، څو الله تعالى ورته يې نور هم زيات كړي

يتيماً ذامَقرَبَةٍ (الايه) أى قرابة كما أن الصدقة على اليتيم الذى لا كافل له أفضل من الصدقة على اليتيم الذى يجد من يكفله ( الجامع لاحكام القرآن للقرطبى ۲۰ج۶۹ص)

عن ابن عباس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ أن النبى صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال أنا وكافل اليتيم له ولغيره فى الجنة هكذا أشار بالسبابة والوسطى وفرج بينهما شيئاً( بخاري ۲ج)

أى ان اليتيم سواء كان الكافل من ذوى رحمه وأنسابه أوكان أجنبياً لغيره يكفل به ( شرح الطيبى ۱۰ج ۳۱۷۸ص للشيخ شرف الدين الحسين الطيبى ، مطبع مكة المكرمة الرياض)

داټول اياتونه او احاديث اګرکه ديتيم دکفالت په لړ کې ترغيبات او فضائل دي خو منجمله تري داخبره را وزي چې ديتيمانو، بې وزلو او دلاورثه ماشومانو کفالت دمسلمانانو مسؤليت دی او داسانتيا لپاره دسيمې او محلې دخلکو ذمه وارې ده چې دغسي ماشومان ضايع کيدوته پرينږدي اوکه يوڅوک يې کفالت په غاړه واخلي نو بيا دهغه کلي ،ناحيې او سيمې ټول خلک برى الذمه ګرځي او که څوک يې کفالت وانه خلي په دې صورت کې دهغه سيمې او محلې ټول خلک مسؤل دي. (د دارالعلوم د مياشتنى مجلې په مننه)

## د علامه سيدجمال الدين افغان رَحِمَهُ ٱللَّهُ ويناوي

- ✓ هغه څوک چې فکر کوي، د اسلام مبارک دين په سختۍ د ستور ورکوي او د انسانانو په تاوان حکم کوي نه په ګټه ،په ړندو سترګو يې قضاوت کړی او دروغ يې ويلې دي.
- ✓ که انسان له سترګو معيوب او ړوند وي غوره دی، نه چې د فکر او عقل له نګاه نه وي.
- ✓ پوهه د پوستکې او ماغزو سرمايه ده. هغه څوک چې په پوستکې اکتفا کوي، نو په يو لوی درياب کې غرق شوی دی.
- ✓ دخپلواکۍ د بيرغ د رنګ لپاره بهترين رنګ د خپلواکۍ د مجاهد دوينې رنګ دی.
- ✓ دخپلواکۍ درلودل يوه هيله او ارزو ده. ددې لاس ته راوړل کار او عمل ته ضرورت لري او انسان د قربانۍ ورکولو او خطرونو ګاللو لپاره وادار باسي.
- ✓ کوم ولس چې د زده کړې د لاسته راوړلو په نيت يو ساعت جهاد وکړ، دهغه ولس لپاره تر قيامته پورې له ژوند کولو نه غوره دی.
- ✓ کوم ولس چی د استعمارګرانو او ستمګرانو په وړاندی د نورو وسايلو دنه درلودو په صورت کې له خپلې ژبی او قلم نه هم استفاده نه کوي ،نو هغه ولس د ښارويو نه هم ګمراه دی.
- ✓ دفکر او ژبې خپلواکي اخستل کيږي ،ورکول کيږی نه ،او د هيواد لپاره خپلواکي په خبرو لاس ته نه راځي،
- ✓ بهترين لاربنود هغه دی، چې ولس دی،د خپلو عملونو او کارونو په ذريعه رهنمايي کړي، نه د فرمانونو او امرونو په ذريعه !
- ✓ د ختيځ دولسونو لوی مشکل دادی چی هغوی پخپل منځ کی د اتحاد او يوالی په سر اختلاف لری او د بی اتفاقی په سر يووالی دوی پخپلو کی تعهد کړی چی هيڅکله به يووالی ونکړی
- ✓ دختيځ دهيوادونو زياتره حاکمان په داسې يو حالت کې قرار لري، که چيرې يو دهغو نه د غلامۍ په يوه تنګ او ژور کوهي کې وغورځوی او يواځې د هغه دعزت او محتوا نه بغير القاب خوندي وي، نو دنيا د ځان لپاره جنت ګڼي.
- ✓ پوه او عالم سړی چې په ختيځ کې کله مړ شي، نو ژوندی شي او چې کله ژوندی وي نو مړ وي.
- ✓ دعقل او تفکر لاسته راوړنی هغه وخت مفيدی تماميږی چی يو انسان د وهمونو او تشويشونو له حالات نه ازادی واخلی.

ژباړه: فاتح

ليکوال: مفتي تقي عثماني مدظله العاليه

# د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په مزار کې

د اسلامي نړۍ سترعالم مفتي محمد تقي عثماني صاحب د خپلو زړه راښکونکو يونليکونو (جهانِ ديده) کې د عراق د سفر پرمهال د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه د مزار په اړه خپل تأثرات داسې ليکي:

کله چې مونږ د حضرت امام ابويوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ له مقبرې څخه وتلو، نو لمر په ډوبيدو و، اوس نو زمونږ په زړه کې د حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر مزار باندې د حاضرېدو خورا زيات شوق او تلوسه وه، چې د دې ځای څخه ډېر لرې پروت دی؛ خو زمونږ موټروان چې نه يوازې موټر وان و؛ بلکې د مېلمه پالنې وجايب يې هم په ډېره مينه او اخلاص ترسره کول، د ماښام لمانځه ته يې جامع الامام الاعظم رحمة الله عليه ته ورسولو .

د حضرت امام ابوحنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د مبارک مزار په خاطر دا ټوله سيمه د "اعظمية" په نامه مشهوره ده. اوس نو دا د ښار هغه تر ټولو ځلانده سيمه ده ؛ حال دا چې د حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په مبارکه زمانه کې دا يو هدېره وه او څرنگه چې د خليفه وينځه "خيزران" دلته دفن شوې وه، نو ځکه دا په "مقبرة الخيزران" سره مشهوره وه .

خطيب په تاريخ بغداد کې ليکلي ، چې د رسول اکرم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مبارک سيرت مشهور روايت کوونکی محمد بن اسحاق رحمة الله عليه هم په همدغه هدېره کې دفن شوی دی ؛ خو اوس نور قبرونه خو لادرکه شوي او ځای يې اباديو نيولی دی، البته د حضرت امام اعظم رحمة الله عليه مزار اوس هم پاته دی.

او دې ته نږدې يو شانداره مسجد د "جامع الامام ابي حنيفه رحمة الله عليه " په نامه سره تعمير شوی دی.

مونږ د مسجد دروازې ته ورسېدو چې د ماښام د اذان زړه راښکونکي اواز ازانگې کولې، مقبرې ته تر حاضرېدو مخکې مو د ماښام لمونځ ادا کړ، بيا په زړه کې د شوق او ذوق د جذباتو يو ځای و، مزار ته حاضر شوو ، داسې مو محسوسه کړه، چې خوښې، سکون او نورانيت په مجسم کېدلو سره ددې مبارک مزار پر شا وخوا باندې يوه هاله جوړه کړې ده.

مخ ته مو هغه محبوب شخصیت په استراحت و، چې د هغه سره مو د ماشومتوب څخه د زړه تړاو داسي را روان و، چې د هغه د دروند اوګران نوم په اورېدلو سره به مو په زړه کې د عقیدې او محبت فوارې پورته کېدلې.

حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په هغه زمانه کې په کوفه کې پیدا سوی دی، چې دا ښار د علم او فضل مرکز ګرځېدلی و. ددې ښار په ګوټ ګوټ کې به د سترو سترو محدثینو او فقهاوو د درس حلقې جوړې وې او د حدیثو د علم هیڅ طالب به د کوفې د علماوو څخه بې نیازه کېدلای نه شو .

د حضرت امام صاحب رحمة الله علیه د محترم پلار نوم ثابت دی او هغه د امام صاحب رحمة الله علیه په ماشومتوب کې وفات شوی و. (حدائق الحنفیة)

په پیل کې حضرت امام صاحب رحمة الله علیه په تجارت باندې زیات مشغول و، خو ددې ترڅنګ یې د عقایدو د علم او کلام سره هم زیاته علاقه وه.

حضرت عامر بن شراحیل شعبي رحمة الله علیه په ده کې د ذهانت او هوښیارۍ نښې ولیدې نو د علم په تحصیل باندې د مشغولېدلو نصیحت یې ورته وکړ.

دا نصیحت ډېر اغېزمن تمام شو! او ده مبارک د تجارت د بوختیا پر ځای د علم ترلاسه کول د خپل ژوند لباس وګرځاوه. (مناقب الامام الاعظم للمکي). او د خپلې زمانې د اکثرو جلیل القدرو مشایخو څخه یې علم حاصل کړ، تر داسې اندازې چې ځینو حضراتو د امام صاحب رحمة الله علیه د استاذانو شمېر تر څلور زرو (۴۰۰۰) پورې ښوولی دی.

وروسته چې الله جل جلاله د حضرت امام صاحب رحمة الله علیه څخه د دین او علم کوم ستر خدمت اخیستی دی هغه بیانولو ته اړتیا نلري. او دا دده د زحمتونو او خدمتونو ثمره ده ، چې نن تر نیمایي زیاته اسلامي نړۍ د قران او سنت په تشریح او تعبیر کې همدی خپل امام او مقتدا منلی دی.

په پیل کې حضرت امام صاحب رحمة الله علیه په کوفه کې اوسېدی، مګر د کوفې امیر ابن هبیره د ځینو سیاسي اهدافو پر بنیاد نه یوازې دی بندي کړی ؛ بلکې زیات تکلیفونه یې هم ورکړل، بالاخره چې کله دی مبارک د بند څخه خلاص شو، نو دده د ظلم او ستم څخه د حفاظت په خاطر یې مکې مکرمې ته مخه کړه او څو کاله هم هلته مقیم وو .

وروسته چې کله د عراق حالات پر سمېدو شول، نو بیا یې عراق ته تشریف یوړ، په هغه وخت کې د عباسي خلافت د پیل وخت و، په پیلامه کې امام صاحب رحمة الله علیه عباسي خلافت ته په دې هیله هرکلی (ښه راغلاست ) وکړ، چې دوی به په دیني لحاظ تر بنو امیه غوره ثابت شي، خو کله چې دا هیله پر ځای نه شوه، نو د عباسي خلیفه ګانو سره یې هم مخالفت شروع شو.

خلیفه منصور د خپل حکومت په عهد کې دا غوښتل چې امام صاحب رحمة الله علیه کومه حکومتي دنده قبوله کړي ؛ تر څو پر خلکو دده د حمایت اغیز راشي؛ مگر امام صاحب رحمة الله علیه په دې سبب کوم منصب ته غاړه نه کېښوده ، چي په دې سره په ځینو غیرشرعي کارونو کې د حکومتي قوانینو پر ځای کول راتلل . بالاخره کله چې ټینګار زښت ډېر شو، نو ده د بغداد د بنایانو څارنه او نګراني ، او د خښتو د شمېرنې مسؤلیت قبول کړ.

وروسته پرې د منصور له خوا د قضاء د منصب پر قبلولو ټینګار شروع شو ،خو امام صاحب رحمة الله علیه دغه منصب ته په هیڅ ډول غاړه کېښنبوده. چي په پایله کې منصورزندان ته یو وړ ، او یوسلو لس دورې یې هم وواهه. او د ځینو روایاتو څخه دا معلومیږي چي د همدې زندان په وخت کې دی مبارک وفات شو او د ځینو څخه معلومیږي ، چې د بنده خو خلاص شو ؛ مگر د حکومت له خوا د فتوا ورکولو او پر کور نظربند (د باندې د خلکو سره له لیدنې او کتنې منع) کړل شوی و.

په همدې حالت کې یې نېټه او وعده پوره شوې وه او د نړۍ څخه رحلت وکړ، په همدغه ډول د بغداد دې سیمې ته دده مبارک د ارامگاه ګرځېدو نیکمرغي په برخه شوه. لکه څنګه مخکې یاده شوه، چې په کوم ځای کې د امام اعظم رحمة الله علیه مزار دی یوه هدېره وه او د "مقبرة الخیزران" په نامه سره مشهوره وه، خو د حضرت امام صاحب رحمة الله علیه تر تدفین وروسته دا سیمه د "اعظمیه" په نامه سره مشهوره شوه.

د حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مخلصینو دلته یو مسجد تعمیر کړ او د درس او تدریس لړۍ یې پیل کړه ، دا مسجد په پراخېدلو سره یوه شانداره جامع مسجد وګرځېد ، چي یوځانګړی تاریخ لري او د مسجد موجوده ملاامام وربانديې یو ځانګړی کتاب هم لیکلی دی.

د حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مزار همېشه د عوامو او خواصو مرجع ګرځېدلې ده (لکه څنګه چې خطیب بغدادي رحمة الله علیه د امام شافعي رحمة الله علیه واقعه نقل کوي، چي دده مبارک قبر ته به ورتلو او د تبرک په خاطر به یې د الله تعالی څخه دعا غوښته او دعا به یې قبلېدله).

او دا خبره خو بیخي مشهوره ده چي یو ځل امام شافعي رحمة الله علیه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مزار ته راغی، نو هلته یې د خپل مسلک پر خلاف د سهار په لمانځه کې قنوت ونه وایه؛ ځکه چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ددې قایل نه و .

د حضرت امام صاحب رحمة الله علیه په مزار کې مو په کېناستلو سره داسې خوشالي او سکون محسوس کړ ، لکه: یو ماشوم چې د مور په غېږ کې سکون محسوسوي !

زړه مو دا غوښتل چې دا کیفیت تر ډېره پورې اوږد شي؛ خو ډېر ناوخته شوی و، پرته له تګ څخه بله چاره نه وه او دهغه ځای څخه رخصت شوو.

لیکوال: محمد الیاس فاتح

## د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري

# «علامه هشام ابن الکلبي رحمه الله»

### هغه یوازې په (۳) ورځو کې ټول قران کریم په یادو یاد کړ

**زوکړه یې:**

دکوفې دسپېڅلې خاورې ستر عالم،محدث، شجره پوه، مؤرخ ، شاعر او لیکوال علامه هشام ، دلوی عالم او مفسیر " محمدابوالنضر" زوی ، دسائب لمسی، دبشر-کړوسی ، دعمرو کوسی،دحارث کودی او دعبدالحارث الکلبي پردی دی، چې دلومړۍ هجري پېړۍ په لومړۍ لسیزه(تقریبا ۱۱۰) کې یې دعراق د کوفې په تاریخي ښارکې نړۍ ته سترګې پرانیستې.

دهشام کنیت ابوالمنذراو لقب یې ابن الکلبي دی، چې نسبت یې «کلب بن وبرة» عربي قبیلې ته شوی.

**زده کړې او استاذان یې:**

علامه ابن الکلبي خپلې دیني او عصري زده کړې دخپل پلار په شمول او لاربښونې دوخت له سترو محدثینو ،اکابرو او محققینو عالمانو څخه ترلاسه کړې ،لکه: مجاهدبن سعید، محمد بن حبیب

، محمد بن أبي السري البغدادي ، احمد بن المقدام اونور... خو دشجرو ،تاریخ،اخبار او په ځانګړي ډول دعربو دپېښو او واقعتونو علوم یې له خپل پلار څخه په میراث یوووړل.

**تدریسي پېر یې:**

نوموړي دعلومو ترفراغت وروسته په تدریس او تالیف لاس پورې کړ، دامهال چې کوفه او بصره دعلم او تعلیم ستر مرکزونه و، او له هرلورې به ورته دطالبانو کاروانونه راتلل؛ نو دعلم په ډګرونوکې ترټولو زیات علامه هشام په لنډ وخت کې دعراق او اړونده سېمو کې دیولوی ثقه عالم په حیث وپېژندل شو. دعلامه هشام همعصره علمي شخصیتونه په کوفه کې: قاضي قاسم بن معن ، کسائي،فراء ،هشام بن معاویه،الضریر اونور وو. رحمهم الله.

**خواکمنه حافظه یې:**

علامه هشام رَحِمَهُ ٱللَّهُ ته الله تعالی عجیبه ځواکمنه حافظه ورکړې وه ،هغه یوازې په (۳) ورځو کې ټول قران کریم یاد کړی و،سوانح لیکونکي یې لامل داسې بیانوي: ابومنذر یوه ورځ کوټې ته ننوت او قسم یې وکړ، چې ترهغې به له کوټې، نه راوځي څو چې قران کریم یې په یادو یاد کړي نه وي ،درې ورځې پوره شوې قران کریم یې حفظ کړ او راووت.

**علمي شخصیت یې:**

علامه هشام ، دېې ساري حافظې ترڅنګ دتاریخ ،جغرافیې،انساب او شجرو،او په ځانګړي ډول دعربو داخبارو او تاریخي پیښو ترټولو سترعالم پېژندل شوی.

دنوموړي په یادو علومو ټول محدثین ،امامان ،مؤرخین او لوی علمي شخصیتونه قایل دي،او په شجره پوهنه کې یې یو معتبره مرجع ګڼلې؛ دبېلګې په توګه : امام بخاري،امام ابن حنبل، امام الحموي، امام ابن قتیبه،امام البلاذري، ام ابن حزم الأندلسي. امام المیداني، ابن عبد الله العسکري،ابن سلاّم الهروي.

دغه راز په دې لړ کې دیو ( ثقه ) علمي شخصیت په توګه ورڅخه دامت سترو علماوو ، او محدثینو ورڅخه روایتونه او اخیستنې کړي دي ، لکه : محمدابن سعد،بلاذري،محمدبن جریرالطبري او مسعودي،ابن الجوزي ،عمر بن شبة ، ابن کثیر،ابن عبد ربه, التنوخي,ابن حجر العسقلاني, السمعاني,ابن منظور,ابن عبد البر,الذهبي ,ابن الأثیر,خلیفة بن خیاط او نور...

خو په اخروي علومو کې یې له نوموړي څخه ډېره کړې ، ځکه چې پرهغه د شیعه توب رنګ غالب شوی و.

**دنومورو عالمانو له نظره :**

علامه أبو مخنف الأزدي رح وایي: هشام بن الکلبي دنسبونو او شجرو دروایتونو لوی عالم دی ، دهغه کتابونه دابن الندیم دنوملړ سره سم له یو سلو څلور څلویښتو څخه اوښتي دي.

علامه ابن خلکان رح وایي: هشام له مشهورو حافظانو څخه شمېرل شوی،او دی په علم انساب کې ترټولو لوی عالم دی.

علامه ابن أبي الحدیدرح وایي: هشام ا بن الکلبي دعربو دتاریخونو او اخبارو

علامه ، او پلار يې تر هغه لوی عالم و، او نومړي ددې علم روايتونه له خپل پلار څخه کړي دي.

علامه الذهبي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: ابوالمنذر الکلبي شجره پوه، داخبارو علامه او لوی حافظ و.

امام أحمد بن حنبل رح وايي: نومړی دنسبونو او شجرو د پوهې خاوند دی، خو داگمان نکوم، چې له هغه به څوک حديث نقل کړي.

امام الدارقطني رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: په حديثو کې پرېښودل شوی( متروک الحديث) دی.

علامه محمدبن عطيه العطوي رح ، اسحاق الموصلي رح ته ، دهغه دعلومو پېژندنې دارزيابۍ په موخه وويل:

ايا ته ! په نحو(علم) کې دفراء او اخفش په څېر يې؟هغه وويل: نه !

ته ! دپه لغت (علم) کې دابوعبيده او اصمعي په څېر يې؟ هغه وويل: نه !

ته دپه نسب او شجرو(علم ) کې د ابن الکلبي په څېر يې؟ هغه وويل: نه !

علامه خطيب بغدادي رح ليکي:

هشام به ويل: ما داسې حفظ کړی چې هيڅا به نه وي کړي، او ما داسې هېرول کړي دي، چې بل چا به نه وي کړي؛ زما تره زه دقران کريم په حفظ باندې ملامته کرم، نو زه کوټې ته ننوتلم، او سوگند مې وکړ چې ترهغې به ونه وځم، چې قران مې حفظ کړی نه وي، نو په درو ورځو کې مې حفظ کړ.

**تصانيف يې:**

نومړي په بېلابېلو علومو کې گټور کتابونه وليکل ، چې گڼه يې (۱۵۰) څخه اوښتې او ځينې يې په لاندې ډول دي:

- الإصابة في معرفة الصحابة
- كتاب كنى أباء الرسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
- كتاب أمهات الخلفاء.
- كتاب أمهات النبي.
- كتاب صفات الخلفاء.
- كتاب التاريخ.
- كتاب تاريخ أجناد الخلفاء.
- كتاب النسب الكبير.
- كتاب تسمية ولد عبد المطلب.
- كتاب حلف عبد المطلب وخزاعة.
- كتاب حلف الفضول وقصة الغزال.
- كتاب حلف كلب وتميم.
- كتاب حلف أسلم وقريش.
- كتاب المعران.
- كتاب المنافرات.
- كتاب بيوتات قريش.
- كتاب فضائل قيس.
- كتاب عيلان.
- كتاب الموؤدات.
- كتاب بيوتات ربيعة.
- كتاب الكنى.
- كتاب أخبار العباس بن عبد المطلب.
- كتاب ملوك الطوائف.
- كتاب ملوك كندة.
- كتاب بيوتات اليمن من التبابعة.
- كتاب طسم وجديس.
- كتاب المصلين.
- كتاب البلدان الكبير.
- كتاب البلدان الصغير.
- كتاب تسمية من بالحجاز من أحياء العرب.
- كتاب قسمة الأرضين.
- كتاب الأنهار.
- كتاب الحيرة.
- كتاب منار اليمن.
- كتاب العجائب الأربع.
- كتاب البيع والديارات ونسب العباديين.
- كتاب أسواق العرب.
- كتاب الأقاليم.
- جمهرة الأنساب.
- الأصنام.
- نسب الخيل.
- افتراق العرب.
- كتاب نسب اليمن.
- كتاب العواقل.
- كتاب جمهرة الجمهرة (رواية ابن سعد).
- كتاب الملوكي في الأنساب.
- كتاب الموجز في النسب.

علامه هشام رحمه الله ,له سترو علمي خدمتونو وروسته په (۲۰۴- يا ، ۲۰۶) هـ.ق کال

دمامون دخلافت پرمهال دکوفې په ښار کې له دې نړۍ سترگې پټې او دتل لپاره يې مخه ښه وکړه.

اروايې ښاده او قبر يې له رڼا ډک لرې. آمين.

# د افغانســتان اســلامي امــارت
## د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو کميسيون

# تعليم او تربيه د ژوندانه اړتيا

**د استاذ حقوق :**

په تيرو برخو کې مو په مختلفو ځايونوکې د استاذ د مسئوليتونو يادونه وکړه د هغه ذاتي او تعليمي صفتونه , تعليمي او ښوونيز مهارتونه او د هغه ځانګړې جهتونه مو وڅيړل چې دغو ټولو ته په کتلوسره د هغه مقام او په ټولنه کې د هغه حيثيت په ځانګړي توګه په تعليمي چاپيريال کې د هغه رول او ارزښت پوره څرګندېږي چې په پايله کې دې نتيجې ته رسيږو چې استاذ نه يوازې د ښوونيزې اوتعليمي لړۍ يو بنسټيز رکن دی بلکه هغه په ټولنه کې يو لوړ مقام لري نو لکه څرنګه چې استاذ ته د ټولنې له خوا درانه مسئوليتونه ور په غاړه دي دغه راز د اسلام سپيڅلي دين هغه ته ځانګړي حقوق او امتيازات هم ورکړي دي چې د ټولنې هر فرد بيا په ځانګړي ډول تعليمي ادارې او ددې ادارو منسوبين او شاګردان يې په رعايت کولو مکلف دي مونږ په دې برخه کې کوښښ کوو ترڅو د استاذ دغه ډول حقوقو ته لنډه کتنه وکړو.

**عمومي حقونه :**

څرنګه چې استاذ او معلم د ښوونيزې او تعليمي لړۍ يو بنسټيز رکن دی دغه راز په عمومي ډول د انساني او په ځانګړي توګه د اسلامي ټولنې د نيکبختۍ ضامن هم دی او د ټولنې د هوسايۍ او سرلوړۍ اصلي متکفل دی ، نوځکه استاذ په عامو خلکو او د ټولنې په هر فرد باندې حقوق لري، د اسلام سپيڅلي دين هم د استاذ لوړ مقام ته په کتنې سره د هغه د عامه حقوقو يادونه کړې ده لکه په يو مبارک حديث کې راغلي :

إِنَّ اللهَ وَمَلاَئِكَتَهُ وَأَهلَ السَّمَوَاتِ وَالأَرضِ حَتَّى النَّملَةَ فِي جُحرِهَاوَحَتَّى الْحُوتَ لَيُصَلُّونَ عَلَى مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَيرَ.

ژباړه : الله تعالی او د هغه پرښتې او د آسمان خلک او د ځمکې آن چې ميږی په خپل ځای او سوري کې او ماهي په اوبو کې هغه د خير ښوونکي لپاره رحمت او دعاء غواړي .

او په يو بل حديث شريف کې راځي :

قـال رسـول الله صلى الله عليـه وسـلم : تعلمـوا العلـم وتعلموا السكينة والوقار وتواضعوا لمن تتعلمون منه . أخرجه البخاري.

ژباړه : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي علم زده کړئ او سکينه او وقار (عزتولي) خپل کړئ او له چا څخه چې علم زده کوئ له هغه سره تواضع کوئ .

قال علي بن أبي طالب رضي الله عنه : ( إن من حق العالم أن لاتكثرعليه السؤال، و لاتعنته في الجواب، وأن لاتلح عليه إذاكسل، ولاتأخذ بثوبه إذانهض، ولاتفشين له سرا، ولاتغتابن عنده أحدا، و إن زل قبلت معذرته، وعليك أن توقره وتعظمه لله مادام يحفظ أمرالله،ولاتجلس أمامه، و إن كانت له حاجة سبقت القوم إلى خدمته.

ژباړه : علی بن ابی طالب رضی الله عنه وايي :

د ښوونکي او عالم پرتا دا حق دی چې ډېرې پوښتنې ورڅخه ونکړې اونه هم ځواب وار په وار وپيچې او چې کله ستومانه وي تـه ورڅخـه پـه اصرار پوښتنې مه کوه او چې

پاڅېږي تر څادر او لمن يې مه نيسه ، راز يې مه لوڅوه ، دده په وړاندې د هيڅا غيبت مه کوه!

که خطا شو معذرت يې ومنه! او ترڅو چې هغه د الله تعالى امر مني پر تا باندې د هغه عزت او توقير لازم دی! تر مخ يې په مجلس کې مه کښېنه ! که د استاذ کوم خدمت او اړتيا وه تر خلکو دمخه ته د هغه چوپړ ته تيار شه!

او داسې ډېر نبوي احاديث او د سلفو صالحينو لار ښوونې او آثار شته چې داستاذ حقوق پکې نغښتي دي چې مونږ هغو ته په کتنې سره د ځينو په لنډه توګه يادونه کوو :

- داستاذ لپاره دبشپړ امن په فضا ء کې د عزت او وقار د ژوند تأمينول.
- د استاذ دفردي او شخصي شتمنيو دساتنې لپاره امن او ډاډ رامنځ ته کول .
- د ظلم او تيري په مقابل کې له هغه څخه دفاع کول .
- دکوم تهمت په وړاندې په پوره احترام او درناوي سره دعدل او انصاف معامله کول .
- استاذ ته په سياسي مجامعو کې پوره ونډه ورکول او دده له نظرياتو څخه ګټه اخيستل .
- له ناروغيو څخه يې دعلاج او ورته د روغتيا اسانتياوې برابرول .
- د استاذ استعدادونو ، تمايلاتو ، وړتياوو، مهارتونو او مواهبو ته په کتنې سره دده لپاره دده د مسلک سره سم د تعليم شرائط برابرول .
- استاذ بايد په مختلفو مدارسو او ښوونځيو کې دنده ترسره کړي نه دا چې کلونه کلونه په يوه ځای کې په دنده سرته رسولو مقيد وي هغه دا آزادي بايد ولري چې هر ځای وغواړي هلته وظيفه اجراء کړي تر څو له يوې خوا خپل افکار ، نظريات او تجربې له نورو سره شريکې کړي اوله بلې خوا دده په تجربو، خيالاتو او افکارو کې زياتوالی راشي .
- د استاذ له استعدادونو څخه د زياتې ګټې اخيستلو په منظور عمومي مجالس يعنې په ديني ، سياسي ، علمي ، ادبي، او اخلاقي موضوعاتو باندې روزنيز سيمينارونه جوړول ترڅو ترې عامه ګټه واخيستل شي .

## په تعليمي اداره باندې داستاذ حقوق :

استاذ د تعليمي ادارې په منتظمينو يو شمير ځانګړي حقوق لري چې بايد ځانګړې پاملرنه ورته وشي ځکه چې استاذ په تعليمي اداره کې يو مهم رکن دی په کومه اندازه چې په يوه تعليمي اداره کې داستاذحقوق محفوظ او رعايت شوي وي هلته داستاذ لپاره د ښه فعاليت زمينه برابريږي چې په نتيجه کې ددې ادارې د پرمختګ سبب ګرځي ، دغو حقوقو ته په لاندې ډول اشاره کوو :

۱-په اداره کې ورته د امن ، استقرار او اطمئنان فضاء رامنځ ته کول .

۲-داستراحت او رخصت لپاره دشرائطوپه نظر کې نيولو سره کافي وخت ورکول.

۳- دادارې دامکاناتواوداستاذ دضرورتونو په پام کې نيولو سره داستاذ معاش او حق الزحمه په ښه توګه په خپل وخت اداء کول .

۴- په نورو ضرورتونو لکه کورنی اقتصادي ستونزې ، علاج او نور امتيازات په پام کي نيول ( البته دامکاناتو سره سم ) .

۵- د ادارې په تعليمي مهالويش کې داستاذ نظر شريکول او دهغه د تخصص او علمي مسلک سره سم مضامين او وخت ورکول .

۶- په تعليمي او ځينو نورو امورو کې ازادي ورکول لکه :

✓ *په ورځنيو ، اوونيزو او مياشتنيو ازموينو کې پروګرام جوړول .*

- ✓ *په لازمو وختونو کې تفتیش او پلټنه کول ترڅو شاګردان خپلو تعلیمي ،اخلاقي او اداري ضوابطو ته متوجه شي .*
- ✓ *په علمي ، ادبي او اخلاقي برخو کې دشاګردانو ترمنځ سیالي ترتیبول.*
- ✓ *دتفکر ، نقد،او مناقشو په ساحوکې ازادي ورکول.*
- ✓ *د نقل او حرکت په برخه کې ازاد پرېښودل ، او دا ډول ځینو نورو شخصي او انفرادي ازادیو کې امتیاز ورکول .*

۷- داداري له خوا داستاذ انو مستوی پیژندل او ورته درناوی کول .

۸.-کله که له کومې خوا یا دیوچا څخه تهدید، ښکنځل یا توهین سره مخامخ کیږي داداري له خوا باید حمایه شي .

۹- داداري مدیر باید هر وخت په ورین تندي له استاذ سره مخامخ شي.

۱۰- له استاذ څخه غوښتنه باید دخواهش په توګه وي نه دامر په ډول .

۱۱- استاذ له مدیرڅخه د نرمۍ او سهولت هیله لري نه د تشدد اوسختی.

۱۲- په اداره کې باید د ورور ولۍ فضاء حاکمه وي او متقابل احترام او درناوی موجود وي .

۱۳- دمدیر له خوا باید په استاذ باندې حسن ظن موجود وي نه داچې ددروازو ترشا یې وڅاري .

۱۴- په ځانګړي توګه نوی استاذ باید تهدید نشي- تر څوکرکه او نفرت پیدا نکړي.

۱۵- تر ډیرې اندازې باید داستاذ له اشتباهاتو سترګې پټې کړی شي کیدی شي استاذ پخپله خپلو اشتباهاتو ته متوجه شي.

۱۶- داضافي خدمت په امتیازاتو باندې تقدیر او تشویق شي .

۱۷- دشاګردانو داصلاح لپاره دمناسب تهدید صلاحیت ورسره موجود وي.

## د شاګرد په کورنۍ باندې د استاذ حقوق :

استاذ دخپلو شاګردانو په اهل اوکورنۍ باندې هم یو لړ حقوق لري چې دهغو رعایت کول په شاګردانو او په ټولنه کې په تعلیمي لړۍ مثبت اغیز کوي لکه :

- دشاګرد کورنۍ به داستاذ پوره پیژندنه اوورسره تعارف حاصلوي ترڅو ورته معلومه شي چې دخپل اولاد لپاره یې ښه مستعد او متدین استاذ غوره کړی دی .
- وخت په وخت به ورسره رابطه ساتي او دخپل اولاد په تعلیمي او اخلاقي برخو کې به ورڅخه ډاډ حاصلوي .
- دخپل اولاد او استاذ ترمنځ به دمحبت فضاء را منځ ته کوي.
- داولاد په مخ کې به استاذ په ښو القابو، احترام اودرناوي سره یادوي او د هغه شکایت به نه کوي.
- دخپل اولاد په اړه به استاذ ته وخت په وخت معلومات ورکوي چې په کورنیوورسپارل شوي دندو کې په کومه اندازه فعال دی؟ صحت اوجسمي حالت یې څنګه ده ؟ رغبت او شوق یې له څه شي سره دی؟ دهغه فطري مواهب څه دي؟ ترڅو استاذ ددې معلوماتو په چوکاټ کې شاګرد ته پاملرنه وکړي ، کورنیو دندو ته یې متوجه کړي ، صحي مرسته ورسره وکړي ، تمایلات یې کنترول کړی ، او فطري مواهبوته یې وده ورکړي.

داوو داستاذ ځینې حقوق چې په عامو خلکو ، تعلیمي ادارو، او د شاګردانو په کورنیو لازم وو البته داستاذ هغه حقوق چې پخپلو شاګردانو یې لري هغه به په راتلونکې برخه کې وڅیړو ان شاءالله .

نور بیا ...

# د توري هریړې (هیله سیاه) خواص او ګټې

حکیم تهراني تنسیم

توره هریړه حافظه قوي کوي او د وېښتانو دسپنېدلو مخه نیسي ،همدارنګه هره ورځ په ناشته کې دهغې په ټاکلې اندازه خوراک دبواسیرو ،دائمي قبض، سالنډۍ او نوري ناروغۍ درمانوي او ورسره د سترګو په شاوخوا دراګرزیدلي توروالي په له منځه وړلو کې هم موثره ده.

توره هریړه په طبعي لحاظ ګرمه او خشکه ده. ددې ونه درې ترڅلورو مترو پوري لوړوالی اوګڼ خاښونه لري ، د پسرلي په پیل کې پاڼې کوي او دپاڼوشکل یې بیضوي یوڅه اوږد او سریې تېره وي. واړه نازک سفینوالي ته مائل پنځه پاڼه لروني ګلان لري. دغه ګلان تریووخته په څانګوپوري وی اوبیا په مېوه بدلېږي. میوه یې لږ درازه او تیره څوکه لري، په اول وخت کې یې رنګ شین وي بیادوخت په تېرېدو قرمزمي او ترهغه وروسته وروستني پړاو ته ځي او ورسره یې رنګ تورته نزدې پوخ سور اوړي. له وني څخه تررالوېدو وروسته لمرته اچول کېږي ترڅو وچه شي. کله چې وچه شي نورنګ یې نورهم تغیرکوي او توره ښکاري او له همدې سره پېر اوپلورته چمتو کېږي . توره هریړه ډولونه لري او ترټولوښه یې هغه ده چې توررنګه، وړه اوبې دانې وي. ددې دکرهني اصلي ځای هندوستان دی ؛مګرپه بنګلدیش او پاکستان کې هم کرله کېږي.

## ځانګړنې او د درملني ډولونه او طریقې:

که دخولې داسې بدبویي لرئ چې په تداوي یې نه یاست توانېدلي نو تریوې اونۍ پورې په پرله پسې ډول یوه وړه دانه توره هریړه په خوله کې وژوېئ.

## د معدې دتقویې لپاره:

درې ګرامه توره هریړه چې ښه وړه شوې وي که درې ورځې دناشتې پرمهال له نیمه ګرمواوبوسره وخورئ نو د معدې دهرډول ناراحتۍ نه به مو خلاص کړي. توره هریړه سیستم د خوړوهضمولو لپاره په

حرکت راولي د دې ترځنګ د ایسهٔ په کمولـو او د معـد ې په سوځیدلو کي هم دښودرملو پـه توګـه کـارورکوي. که غواړئ ایسهٔ مو کم شي نـو ترخـوراک وروسـته تـوره هرېړه استعمال کړئ.

**دسترګو د تقویې لپاره:**

د سترګو ددید زیاتولو لپاره توره هرېړه وړه کړئ او ترڅلورو اونیـویې هرسـهار ترلمـر راختولـه مخـه یـوه کاشوغه له نیمه ګرمو اوبوسره وخورئ.

دسینې د تقویې لپاره: د سینې د تقـویې لپـاره یـوه کاشوغه توره هرېړه په یوه پیاله مستوکي ښه حل کړئ او ترلسـو ورځـو پـوري یـې ترهرځـل غرمنـي او ماښـامني خوراک وروسته وخورئ.

**دویښتانو دسپنېدو دمخنوي لپاره:**

کـه ویښـتان مـو زرسـپینېږي او غـواړئ مخـه یـې ونیسئ نو له یوه کاله بیـاتریونیم کـال پـوري هـره شـپه ترخوراک نیم ساعت وروسته یوه کاچوغه توره هرېړه له نیمه ګرمو اوبوسره وخورئ ، په تجربه سره یـوه ښـه لاس ته راوړنه به ولرئ.

**د قبض ختمولولپاره:**

ددائمي او مضمن قبض ختمولو لپاره که څلوېښـت شپې متصل پنځه ګرامه توره هرېړه هره شپه وخورئ نـو د قبض له رنځه به په پوره توګه خلاصون پیداکړئ.

**د اسهال دمخنیوي لپاره:**

د اسـهال بندېـدو لپـاره تـوره هریـړه و ایشـوئ ترڅووسوځي بیایې وړه کړئ اوبیـایې داسـهال ختمېـدو تروخته یوه یوه کاشغه له نیمه ګرمو اوبوسره وخورئ.

هره شپه د توري هرېړې یوه دانه زېښلل د سـالنډۍ ناروغي په کمولو کي مرسته کولای شي.

**د غټ نس دکمولو لپاره:**

د دې لپاره چي خېټه مو کمه شي که اوله شپه یوه، بله شپه دوه، داسي تر۴۰ شپو او ۴۰ دانـو پـوري وخـورئ اوبیا په ترتیب بیرته یوه راکمـه او څلویښـتمه شـپه یـې یوې ته راورسوئ نو هرڅومره لویـه خیټـه بـه مـو عـادي حالت ته راشي.

**دحافظې د تقویې لپاره:**

توره هرېړه چي په هندوستان کي د عمراوږدولو په اکسیر مشهوره ده حافظه ډېره غښتلې کوي.

**دویني دپاکولو لپاره:**

توره هرېړه د ویني په صفاکولو کي هم ډېر څرګنـد رول لري.

# د قدر شپه

کاروان

زرزري پښې په پښو
د سپوږمۍ د پلوشو
شپه پسته مسته راتله
په ادا په کرشمو
نه غپا مپا د سپو
نه آواز ؤ د پیشو
د فطرت ماشوم ویده
په للو للو للو
خوبولي کاینات
په نغمو په الاهو
وه کراره کراري
غږ آرام ؤ د ځپو
نسیم غلی را روان
له درو له سردرو
د سپوږمۍ ناسته مرغۍ
په چنار او په ناجو
ونې ونې په رکوع
څانګې څانګې په سجدو

لټېدلی ؤ سُرور
د ګلپاڼو له وږمو
ؤ فطرت نشه نشه
د قرآن په زمزمو
د ګرمۍ په لاس کې جام
د جنت د شنو اوبو
ډک منګي وو د شبنم
د غاټولو جینکو
رپول د نور وزر
په لکونو پرښتو
په ابهام کې پټ الهام
د ښکلا د فلسفو
ملاېکې مېلمنې
د ګلونو د غونچو
زه راوستی ومه خیال
له ماشومو کوټنو
ربه ته یې کړې رښتیا
دا مې خیال د آیینو


SHAHAMAT